# د نوې دنیا سفر یاداشتونه

# (د اپچ کافر وطن)

## ډاکټر چراغ حسین شاه

### سر لیکو نخښې


د اپچ کافر قیصه.......................................................................4
ضامن او سرپرست (sponsor)............................................................7
د امریکې ویزه.........................................................................10
د پېښور fedex دفتر...................................................................13
د میرپوري کشمیري ځوان زمونږ په غلطه اوږده لار اچول..............................20
ورجینیا کښې درې ورځې او شپې آرام...................................................22
دوه تاریخي یادګاری ورځې.............................................................23
د نیو یارک په لور......................................................................25
نیو یارک...............................................................................31
د آزادی مجسمه Statue of Liberty.....................................................34
خوراک..................................................................................39
نیو یارک په باره کښې زما تاثرات......................................................41
د فئیرفېکس کاؤنټي لائبرېري Fairfax Country Library..............................42
شېرنګټن هوټل کښې د جمعې لمونځ......................................................43
پوټومېک دریاب (Potomac River).....................................................45
قاسم خان د بنوں په کور روټې..........................................................46

واشنګټن ډي سي............................................................................................47
لنکن مېموریل...............................................................................................54
ټرېژري محکمه Treasury Department...........................................................................55
ډيپارټمنټ آف سټېټ (Department of State) .............................................................55
سمیتسونین میوزیم او مال روډ..................................................................................56
(Air Space Museum) د هوا او د فضا میوزیم.................................................................57
ډاکتر مارټن لوتهر کنګ یادګار..................................................................................57
تور پوستکو میوزیم African Museum...........................................................................58
شاه ولي خان بنېړے...........................................................................................62
سېنټه کلاس Santa Claus.........................................................................................66
مونټ ورنون (Mount Vernon) د جارج واشنګټن کور.........................................................68
د نسیم ستانه زئ کور.........................................................................................75
شاه ولي خان بنېړي سره چکر.................................................................................76
د شاه ولي خان وزیر جنرل سټور..............................................................................77
د امریکې کانګرس لائبریري....................................................................................80
Giant Store......................................................................................................91
بولیوین Bolivian انجنئیر.......................................................................................95
شېننډوه وادي....................................................................................................98
د ماناس Manas علاقه..........................................................................................99
نوې کال..........................................................................................................100
پوټومېک مِل Potomac Mill.......................................................................................101
مکلین اسلامک سنټر Maclean Islamic Center.......................................................102
برف باري.........................................................................................................102
حاجي بیان الحق د هوټل مېلمستیا...........................................................................107

آمیش قبیله Amish Tribe..........109
د آمش قبیلې تاریخ..........110
وائس آف امریکه ته تلل..........114
ډیوه راډیو سره د انټرویو پوره مکالمه..........121
رچمنډ Richmond..........140
بې کوره خلق..........142
د صدر ټرمپ سوګند پورته کول..........142
د ښځو حقوق مارچ..........144
غازي خان میان خېل ننګرهاري کور کښې روټۍ..........145
امریکې کښې آخري سودا ګانې..........146
بائیک او موټر بائیک فرق..........148
د شپې برف باري او واپسۍ..........150
د ابو ظهبي هوائي ډګر ورک مونتلي..........153
تاثرات..........155

# د اپچ کافر قیصه

زه وړوکې وم۔ بنوں ښهر کښې اوسېدو۔ د بنوں چهاونۍ کښې میران شاه ته تلونکي لوئې سړک په غاړه د یو مشر ډاکټر سر انجام خان یوه ښکلې لوئې بنګله وه۔ زه به چې کله د بنوں پولو ګراونډ مخکښې په دې سړک تېرېدم نو د دې باهر د ډاکټر سرانجام خان بورډ لګېدلې ؤو، چې د ده بلا ډګریانې ورباندې لیک وے۔ ډاکټر صېب به پرېکټس کولو او که نه، خو ما چرته د ده کور مخکښې مریض یا نوره ګڼه ګوڼه او نه لیده۔ کال نیم مخکښې چې ما د پاکستان یو نامتو سیاسي لیډر اسلم خټک سوانح عمري ولوسته نو دا پته هم راته اولګېده چې دا ډاکټر صېب د ده سخر بابا ؤو۔ د بنوں مشرانو او بوډاګانو خلقو به د دې ډاکټر صاحب په باره کښې به یوه خبره کوله، چې دې د اپچ کافر په هډوکو کښې اعلی سبق د پاره نوې دنیا ته هم تلې دے۔ د اپچ کافر په باره کښې به دوئي دا معلومات راته وراندې کول چې اپځ کافر په ونه دومره دنګ او لوړ ؤو چې د آسمان لاندې به سر ټیټ ټیټ ګرزېدو۔ شېر د خدایځ (حضرت علي اسد الله

رض) سره ئې مقابله راغله۔ حضرت شېر خدائې خپله ونه (قد) دېرش ګزه ؤ۔ دېرش ګزه ئې د ذوالفقار توره وه، او دېرش ګزه اوچت ئې ټوپ وکړو۔ نو ایله د اپچ کافر شنګري ته اورسېدو۔ د هغه په شنګري ئې ګوزار وکړو۔ اپچ کافر راپرېوتو او د ده هډوکي په اؤوه (۷) سمندرو خواره پرېوتو۔ اوس دا خو راته پته وه چې نوې دنیا خو امریکه شوه، خو د اپچ کافر د دیو مالائي قیصې حقیقت هله راته جوت شو چې ماته یو ملګري د دوه کتابونو A Historical Guide to Afghanistan او د تاریخ ابنِ کثیر (اول جلد) د مطالعې صلاح راکړه۔ پته اولګېده چې دا قیصه د افغانستان د بامیان د سیمې نه بنون ته راغلې وه۔ اپچ کافر د عمالقه قوم اوج (عوج) بن عنق دې چې د بني اسرائیل قوم د روایاتو مطابق د سیدنا موسیٰ ع د لاسه په یوې جګړې کښې راپرېوتو او مړ شو او هډوکي ئې د البرز په غرونو کښې خواره واره شو۔ د بنون سادګانو ته چې دا قیصه راتله، خو هغه شکل ئې خپل کړو۔ چې ما درته مخکښې بیان کړو۔ زما یو تحقیقي مضمون دې لړ کښې د پاڅون رسالې د کال ۲۰۰۹ د ستمبر او د اکتوبر په ګڼه کښې د پاڼه (۷) نه تر (۲۱) پورې د افغانانو دیو مالائي قیصې تر لاندې چاپ دے۔

نو وروڼو ماته خدائې پاک د دې نوې دنیا د کتو موقع را کړه او زه د دوؤه نه زیات میاشتې د دې نوې دنیا په زمکه پاتې شوم۔ چه نن د ماضي د زوره ور کام عمالقه په شان د نړئ د ټولو قومونو نه په عظمت، طاقت، او عروج کښې اول دے۔ او بله دا چې نن د سیدنا موسیٰ (ع) د نوم د پاره پیروکاران هم د دوئي ملګري او هم نیتي دي۔ او د ګاډ (خدائې پاک) او ګولډ (زر) حفاظت د پاره وهلی نارې په زور ولاړ سرمایه دارانه نظام په زور په ټولې نړې خپل حکم او نظریه چلوي او خوروي۔ ما په دې تېر دوه میاشتو موده کښې څه اولیدل او مشاهده کړل، زه د دې سفر بیان د خپلو تاثراتو سره تاسو ته وړاندے کوم۔ په دې دوه دوه نیمو سوه کالونو کښې دې عظیم قوم په خپل عزم مړانې، پخې ارادې، د کامیاب او د نا کام سوچونو او مسلسل سخت کار سره په کومه حوصله د دې مسائلو مقابله وکړه او بیا ئې د دې یو عملي حل اوویستو، هغه د نورو پاتې ملکونو ته په مادي دنیا کښې د لارې مشعلونه دي۔

# ضامن او سرپرست (sponsor)

سعید خان زما د ښځې کشرې ورور دے، یعني زما اوښې. څو میاشتې مخکښې زما کور ته راغلې ؤو. ده خپلو دواؤ خوائېندو ته په کلکه وې چې زما سره امریکے ته لاړې شئ. سعید کرچه ښه مخلص او زړه سواند ورور دے، خو ډېر په زوره زوره د ژغېدو او په خپل نیم نیمګوري معلومات په بنا په خپل ټاکلي موقف په کلکه ولاړ وي او بیا یو half truth (نیمګړي ربښتیاؤ) موقف دفاع په هر طریق کوي. دا دعوی هم لري چې زه دروغ بیخي نه وایم. داسې سم د مغزو جلاب دے ځکه چې په څه ښه وختونو کښې ئې د قانون ډګرئ ئې هم تر لاسه کړې ده. کله کله زما مخکښې هم د طِب په مسائلو یو کلک stand (موقف) واخلي، او بیا به امریکې کښې د خپل معالج ډاکټر ملهوتره حوالې ورکوي. دلته زما جواب دا وي چې:

اقبال اگرچه بے هنر هے

اس کی رگ رگ سے باخبر هے

د معالجانو، خاص کر د ایلوپیتي د ډاکټرانو (ماډرن میډیسن ماهرانو) د ټولو ګټو وخت سره د بدلېدونکو رجحاناتو باندې نظر لرم. خو زما د ښځې د ده سره د بحث کولو نه به زه څکه منع کولم چې زما عاجز وروړ د سحر پړشمی نه تر شپې نهه بجې کار کوي. مغز ئې د سخت کار په وجه اوبو اوبو وي. دې د پاره د ده څني غېر منطقي او غېر سائنسي خبرې هم باید چې بنده معاف کړي. خو دې څنو کمیانو باوجود په اخلاص او روغ نیتي کښې ئې شک نشته. ځان ته توان ورکوي او بل خپلوان ته فائده خو چې خپلوانو کښې ګیلې معنې پاتې نشي. د خپل خور د پاره ئې خدائې شته زما مالي بنیاد ئې هم جوړ کړې او پوخ کړې دې. او خانداني مسائل ئې د خپل صلح جو او امن پسند طبیعت په وجه حل کړي دي. خدائې پاک د ورته د دے نیکئیو اجر ورکړي. او اولاد باندې دې اوخوښوي. (امین)

امریکې ته د تلو نه پس ئې یوه ورځ دواړو خوئیندو ته ئې ټکټونه راواستول. مشرې خور خو ئې زر ویزا اومندله او امریکے ته لاړه خو زما ښځې ورته صفا و وې چې زه د خپل خاوند (زما) بغېر د کوره وتې نشم، څه چې د میاشتو د پاره امریکے ته درشم او دې یوائې په کور پرېږدم.

لوږه مې واده دي۔ زوئې لرم نه۔ کور کښې يو دې۔ يو زه او کله کله يو ډرائيور وي۔ خوړلي عمر دې خدائې ونه کړي څه حادثه که پېښه شوه نو ضمير به ما ټول عمر معاف نه کړي۔ سعيد خان ؤوې چې دې هم د ځان سره راوله خو اول د ده هوائي سفر د ټکټ کوائف راولېږه چې پروګرام مو يو فلائټ کښې کنفرم شي۔ مونږ د ابو ظهبي د اتحاد ائروې سره رابطه جوړه کړه چې د پېښور په ډين پلازه کښې ئې دفتر دے۔ هغوئي ډېره په مينه خپل کمپيوټري ګر نه کار واخستو د تلو او د راتلو دواړو لورو ټکټ را کړو۔ خو زما ټيکټ قيمت د خپلې ښځې د ټکټ نه دوه درې زره روپئي زيات ؤو۔ او دا ګيله روستو ما سعيد خان ته هم وکړه چې تا به دې ځائې نه زمونږ دواړو بوکنګ کړې ؤو۔ او ما به روستو د خپل ټکټ پېسې تا ته درکړې وې۔ ده وې چې اوخو ما خو دې لور پام هم نه ؤو۔ زه به اوس نقدې دا زياتي پېسې درکړم خو افسوس چې تر اوسه مې قرضه داره دې۔ دلته دا خبره د ذکروړ ده چې دې کمپنيانو رېټ فِکس نه وي څومره موده مخکښې چې ټکټ واخلي دومره پکښې رعايت وي۔ داسې په خاصو موقعو يعني د کرسمس يا ده څه جشن په موقع قيمت زيات وي۔ زمونږ پروګرام د نومبر په آخر کښې جوړ شو۔ ځکه چې د ځنو نا قابل دحل

راتلونکو پېښو په وجه مونږ دا پروګرام مخکښې کولې یا روستو کولې نه شو۔ حالانکه مشر ورور مې چې څو ځله امریکے ته تلې راغلې دے راته ووې چې د نومبر په میاشته کښې هلته سخته یخني او ورسره برف باري وي۔ د چکر نه به سم خوند وانخلې۔ خو زمونږه هم مجبوري وه۔ خو د ټکټ د اخستو نه مخکښې د امریکے د ویزے لګېدو ګرانه مسله وه۔ چه آسانولو والا ئې د خدائې پاک مهربانه او کریم رب ذات ؤو۔

## د امریکے ویزه

خلقو به وې چې د امریکے ویزه تر لاسه کول ډېر ګران دي او سم ګړاؤ او منډه ترنډه غواړي۔ چې مونږ دواړو ئې توان نه لرلو۔ خو خدائې پاک مسبب الاسباب او کارساز دے۔ هغه د مسله راته په خپله آسانه کړه، هغه داسے چې زما د ورور ښځه رقیه د اسلام آباد په سفارت خانه کښې کار کوي۔ هغې ته ما ووې چې بچې ته دې لږ کښې زمونږ څه کومک کولې شې؟ دې ووې چې نور څه خاص کومک یا سفارش خو مو نه شم کولې خو تاسو خپل د پاسپورټونو نمبر او څه نور معمولي معلومات ماته حواله کړئ۔ زه به تاسو درخواستونه په کمپیوټر آنلائن واچوم۔ مونږ هم

دغسې وکړل او د هفتې نه پس د اسلام آباد امریکن سفارت خانې له لور زمونږ ته د انټرویو کال راغلو۔ مونږ دواړه اسلام آباد ته لاړو۔ خپلې لور فارینه کنول په کور کښې مو شپه وکړه او سحر اووه بجې په ګاډي کښې د سفارت خانې په لور روان شو۔ خو نن سبا دا مسله ده چې څوک د غېر ملکي سفارت خانو enclave (احاطې) ته نېغ نه پرېږدي د سیکورټي د مسلو په وجه۔ د اسلام آباد د مېریټ هوټل سره یو ځایې کښې ګڼ ګاډي ولاړ وي۔ د تلاشي او د تپوسونو نه پس بنده ته د متعلقه ایمبسي ته بوتلونکي ګاډي ټکټ به درکړي۔ نو مونږ هم دغسې وکړل۔ د څنو نورو سفارتخانو نه ویزه تر لاسه کونکي نور ډېر کسان هم راسره ؤو۔ ډرائیور متعلقه کسان د خپلو سفارت خانو سره نزدې کوزول۔ د امریکے ایمبسي په آخر کښې وه۔ یو ځائې داخله کېده۔ د تلاشي نه پس ئې یو کېټ راته په ګوته کړو۔ د کافي فاصلې په پښو مزل نه پس د انټرویو ځائې ته اورسېدو۔ یو کاؤنټر باندې اودرېدو۔ زمونږ نه مخکښې یو جینکئ وه چې امریکے کښې د تعلیم او سبق ویلو د پاره ئې ویزه تر لاسه کولو تکل کولو۔ زما په خیال خو دې کافي ښه سوال جواب په انګرېزي ژبه کښې ورکړو۔ ډېر تپوسونه ئې ورنه وکړل۔ خو افسوس چې پاسپورټ ئې ورته

واپس کړو او ویزه ئې ورنه کړه۔ رشتیا دا ده چې دې د خوبونو په ربړېدو زه ډېر خفه شوم۔ د دې نه پس زمونږ وار راغلو۔ انټرویو اخستونکے یوه د پوخ عمر ښځه وه۔ دې ورسره ولاړې یوې ښځې ته اشاره وکړه۔ تپوس ئې وکړو انګرېزي او که اردو؟ زما ښځې ما ته وکتل۔ ما ورته ووې اردو۔ دې ورسره ولاړې ښځې ته اشاره وکړه۔ هغې ښځې نه دوه درې تپوسونه وکړل۔ امریکے کښې چا ته روان ئې؟ هغه څو کالونو نه هلته کار کوي؟ څه کار کوي؟ اولادونه مو څو دي؟ دې ورته ووې هلته مې یو ورور دے۔ دېرش کالونو نه هلته کاروبار کوي۔ د هغه د کور پته ئې په کاغذ لیکلې ورکړه۔ هغوئې کمپیوټر ته واچوله۔ د سټور کولو نه پس ئې بېرته واپس را کړه۔ زما د ښځې په دې وینا چې پینځه لونړه لرم، هغې مشرې ښځې ډېر وخندل او ؤو ئې ووے چې مونږ هم پینځه خوائېندے یو۔ زما مور او پلار هم ستاسو خلقو په شان د نرینه اولاد په طمع ؤو۔ پاسپورټ باندې ئې د پینځو کالو د ویزے ټپه راته اولګوله۔ وې ئې مبارک شه۔ تاسو ته به د پېښور د fedex د دفتر نه د پینځو ورځو پس دا پاسپورټ ملاوېږي۔ رشتیا خبره دا ده چې د امریکے ویزے د انګلېنډ د ویزے نه ډېره زیاته په آسانه راته اولګېده۔ نه ده assets پته او نه د بینک بیلنس تپوس او

ثبوت، او نه د کوربه د ورجینیا د کور نقشه۔ شاید د سعید خان د کور او د ټولې اثاثې په دوئي سره د مخکښې نه په کمپیوټر کښې پراته ؤو۔ یو شاید د سور رنګ کارډ ئې راکړو چې د دې ښائیلو به تاسو ته د پېښور fedex دفتر کښې پاسپورټونه درکړي۔ مونږ واپس انتظار ځائې ته راغلو۔ شاید مونږ په مخونو هغه شان د خوشحالي اثار نه ؤو، چې یوې ښځې ؤو وې چې دا دومره آسان کار نه دے۔ زما یو زوئې هم په امریکه کښې دے۔ یو ځل تلې راغلې هم یم۔ خو دې ځل ئې ویزه راته اونه لګولو۔ چې ورته مو خپل سور کارډ ښکاره کړو نو ډېره حېرانه شوه۔ مونږ لا د بس په انتظار کښې ناست ؤو چې رقیه د خپلې ډیوټي ته راورسېده۔ په لار راته اودرېده چې ښه ده مبارک شه چې ستاسو کار د خدائې په فضل په آسانه وشو۔

## دفتر fedex د پېښور

دا دفتر د PIA پېښور په عمارت کښې دے۔ په پینځمه ورځ مونږ د PIA دفتر ته ورغلو۔ بار د چوکیدار نه پته اولګېده چې نور د PIA دفترونه خلاص دي، خو د FEDEX د دفتر بابو صاحب په چوټئي دے۔ دوه ورځې د سنیچر او د اتوار چوټي، او نور دوه ورځې د محرم تعطیلات۔

اوس قانون دا دې چې د هفتې دننه د پاسپورټ واپس وانه خستو، نو بیا اسلام آباد ته واپس شي. بابو صاحب څه د ځانه هم چټیانې اخستې وے. هفته پس هغه کار شوې ؤو، یعني پاسپورټ بېرته اسلام آباد ته واپس رسېدلې ؤو. مونږ رقیه ته خبر وکړو، نو پته اولګېده چې په بابو صاحب نورو کسانو هم شکایت کړې ؤو، ځکه چې دې کښې د ځنو د ایمرجنسي کښې مخکښې تلګ ؤو او د ویزے وخت ئې ختم ؤو، او د بابو صاحب د اوږدې چټیانو په وجه واپس تلې ؤو. دویم ځل ماجد خان د پاسپورټونو د ترلاسه کولو د پاره ورغلې ؤو. وې ئې چې التا بابو صاحب خفه ؤه چې د خلقو د شکایتونو په وجه هېډ آفس والاؤ د ده نه جواب طلبي کړې ده. خېر، ماجد خان زمونږ پاسپورټونه واپس راوړل. او مونږ دوه میاشته مخکښې د امریکے ته د تلو تیاریانې پیل کړې.

تیاري څه وه، د کپړو یو څو ګرمې جوړې، ګرم سوېټرې، جېکټونه، او د دوائیانو تهیلې. ورونه او خورئې مې خبر کړل او داسې دوه درې نورو رشته دارانو او دوستانو نیک خواهشات او دعاګانې مې سره راټولې کړې. یو خواه خوږي رشته دار خو دا هم راته ؤوې چې څومره ګرم سوټونه به د ځان سره یوسې، ځکه چې هلته ډېره یخني او کله کله برف باري په دې

موسم کښې خامخا وي۔ خو ما ورته ؤوې چې دا کوټ او پتلون چې ما يو ځل د مفتي محمود صېب په دور د حکومت کښې غوړزولي دي نو بيا راته چرته ياد شوې نه دے۔ زه هم دې قميص پرتوګ او يو ګرم جېکټ کښې د سکاټ لېنډ او د لندن په شان د يخو وطنونو په سړکونو ګرځېدلې يم۔ اوس به هم که خبر وي د جمال الدين افغاني په شان په قميص پرتوګ او اؤر کوټ سره د يو همسا په لاس به د امريکے په بازارونو، سړکونو، ريلونو، او پلازو کښې ګرځم۔ ګاندي جي خو په يو څادر، دوتي، او بربنډ سر، په لاس د يوې بيزې د پړي بکنګهم پيلېس ته روان ؤو، او کله چې د يورپ پريس والاؤ د ده په دې لباس دا طنزيه جمله The Naked faqir of India (يعني د هندوستان لنډ لغړ فقير) ووې نو دې عظيم ليډر ورته په دې ځواب سره خولې بندې کړې چې Yaya, In your Great Britain, a Tailor makes a man, but in our poor India, character makes a man۔ يعني ستاسو لوئې برطانيه کښې درزي د بنده نه سړے جوړوي، خو زمونږ په خوار هندوستان کښې کردار بنيادم تشکيل کوي۔

مونږ د نومبر ۲۰۱۷ په نولسم تاريخ د کوره ووتو۔ ورځ د سوموار وه۔ شپه مو د اسلام آباد د کراچي کمپني په يو هوټل کښې تېره کړه۔ سحر د خپلې

منځني لور سره د رخصت اخستو د پاره هغوئي کور، چې د اسلام آباد لاهور د منځ لوئې سړک باندې پرتې ګورنګ کالوني کښې ده، ته لاړو۔ د ورځې روټې مو هم هلته اوخوړه۔ ماښام هلته نه اسلام آباد په سيمه کښې د خپلې دويمې لور کور ته لاړو۔ رخصت مو ورنه واخستو او بيا هوټل ته راغلو۔ روټې مو په يو بل هوټل کښې اوخواړه چې ماجد خان ئې ډېر صفت کولو۔ د شپې تقريباً په دولس بجې د اسلام آباد بے نظير بټو ائرپورټ ته اورسېدو۔ او سامان وغېره مو د چکنګ د مرحلو نه تېر کړلو۔ ماجد، عائشه، او وړې صفا رانه اجازت واخستو۔ ما ورته دا هم ووې چې هر کله د يورپ ښائسته سپين رنګې ښاپېرئ په يخ موسم کښې صفا ښکاره پونډيو سره د خپل ملک په فټ پاتونو چاپکې چاپکې ګرزي، نو زه په خپل قامي لباس ولې خفا کېږم؟

سعيد خان د خور د پاره د ابو ظهبي په اتحاد ائېروے کښې د اسلام آباد د بے نظير ائېرپورټ نه EY-0323 نمبر جهاز کښې بوکنګ کړې ؤو۔ يو جهاز کښې په هغه ورځ او وخت يو ځائې د سيټونو د بک کولو د پاره مونږ پېښور صدر کښې د دوئي دفتر ته لاړو۔ چې سعيد خان ورسره مخکښې نه خبره کړې وه۔ دا دفتر د صدر په ډين پلازه کښې واقع ده۔

اپرېټر څه موده خپل کمپیوټر سره لوبې کولې او اخیر کښې حساب کتاب سم کړو. او دوه ټکټ ئې راته برابر کړل. د نومبر په یو وېشتم تاریخ (۲۱ نومبر) د سحر پرشمې په وخت د بے نظیر ائېرپورټ نه زمونږ د الوت پروګرام ؤو. هم په دې ورځ په 6:25 بجې به مونږ د سحر په وخت په ابو ظهبي ائېرپورټ، متحد عرب امارات په هوائي ډګر کوزېدلو. د اسلام آباد نه تر ابو ظهبي پورې دا هوائي فاصله درې ګېنټو او پنځوس منټه وه. داسې مونږ هم په دا ورځ د سحر 6:25 ټائم د ابو ظهبي په وائي ډګر کوز شو. دا یو لوئې جهاز، یعني airbus ؤو. جهاز د انتظار ګاه نه کافي لرې ؤو. دې د پاره جهاز نه بهر بسونه ولاړ ؤو. اول د کمرشل کلاس مسافرو ته د جهاز نه وتلو اجازت ورکړې شو. کمرشل کلاس کرایه هم ډېره وي. ورسره نورو سهولتونه انتظام هم وي. چونکه زمونږ ټکټ د economy د درجې ؤو، دې د پاره جهاز والاؤ راته د مراعات یافته ټولي نه روستو د جهاز نه د تلك دروازې پرانستې. بس کښې کافي رش ؤو. خو شکر دے چې د دروازې سره راته د کېناستو سیټ ملاؤ شو. او څو ساعته پس ئې د انتظار ګاه مخکښې کوز کړو.

لا کافي وخت ؤو۔ مونږ غسل خانو ته لاړو۔ چاردامونه مو اوکړل۔ دا غسل خانې په ښکته منزل ؤو او مونږ په پاوړو د اشارې په مدد سره ورکوز شو۔ غسل خانې کافي صفا او ستره وې۔ د صفائي عمله په خپل کار کښې مصروفه وه۔ د لمانځه نه پس بیا په waiting room انتظار ګاه کښې کښیناستو۔ دلته مونږ ته پاکستان کښې چا وئیلي ؤو چه چونکه تاسو د اتحاد ائیروے کښې ځئ نو د ابو ظهبي په اډه به ناشته د کمپنۍ په ذمه وي۔ او قانوناً او اخلاقي توګه باندې هم داسې په کار ؤو۔ خو افسوس چې داسې نه وه۔ څه ساده چائې، ورسره د ډبل روټۍ باندې مو ګزاره وکړه۔ امریکې ته مونږه وړونکې د اتحاد ائیرلائن ائیرکرافټ Boeing 787-9 جهاز ؤو۔ دا لوئې جهاز به په 10:45 بجې د دوبۍ ائیرپورټ د ټرمنل ۳ نه الوتو۔ مونږ د راتلو په وخت په ټرمنل ۱ کوز شوي ؤو۔ اوس مونږ منزل د امریکې ډالس ائیرپورټ واشنګټن ډي سي ؤو۔ او که خبره به هلته په 16:30 بجې ماښام رسیدو۔ یعني تقریباً په جهاز کښې د کښیناستو د اتو ګنټو وقفه۔ خو چونکه مونږ د نمر سره د مشرق نه د مغرب په لور سفر کولو نو هغه یعني د ۲۱ نومبر د سوموار په ورځ به هلته رسیدو۔ امریکے تلونکې جهاز کښې زما سره په سیټ یو خواه یو میرپوري کاروباري ځوان

ناست ؤو، او بالټيمور ښهر ته روان ؤو۔ ويلي چې ښځې ته مې دروغ ويل چې واشنګټن ډي سي ته روان يم۔ خو اصل کښې لاهور کښې څنو ملګرو سره د تفريح په غرض لاهور ته لاړم۔ اوس د څلور ورځو پس بېرته بالټيمور ته به ځم۔ ما خپل موټر درې ورځو د پاره په کرايه په هوائي اډه کښې پارک کړې دې۔ په لار مې ورسره د امريکے په تېر شوي اليکشن او نتيجه د ټرمپ د ګټې په باره کښې خبرې وکړې۔ دې وې چې ما د ټرمپ ريپبلکن پارټي ته ؤوټ ورکړې دې۔ په کشمير او د فلسطين په کشالو ډېر غرض نه لرم۔ خپل کاروباري مفاد راته ګران دے۔ ټرمپ هم يو وتلي کاروباري شخصيت دے۔ اميد دے چې نورو امريکائي کاروباري خلقو سره به زمونږ به هم خاص خيال ساتي۔ ټېکسونه به کم کړي۔ د دنيا د نورو ملکونو په معاملاتو کښې د غرض نه لرلو په وجه به د امريکے آمدن او دې د ښهريانو سهوليات به زيات شي۔ ما ورته ووې چې دې خو د دنيا مشري او معتبري هم نه پرېږدي۔ او د يو يواځني د سپر پاور پاته کېدو خوب او خواهش هم نه پرېږدي۔ د مفاداتو په دې ټکر کښې به دې څنګه يو توازن ساتي؟ دېې دا ومنله چې د سي آئي اے CIA او يهودي لابي خفه کول به ده ته ډېر ګران پرېوځي۔

# د میرپوري کشمیري ځوان زمونږ په غلطه اوږده لار اچول

میرپوري ته ما ووې چې مونږ اول ځل امریکے ته روان یو۔ ته راسره مدد وکړه۔ د ووې ـبے غمه اوسئ۔ زما روستو راځئ۔ خېر، چې جهاز نه کوز شو نو دې مخکښې او مونږ روستو۔ ده وې چې ګېټ نمبر ۳ ته به ځان رسؤو۔ خېر په شټل shuttle کښې سواره شو۔ دې چې چرته کوز شو نو مونږ هم ورسره شو۔ خو دلته د بد قسمتي نه لارې دوه ځائې شوې۔ یو بره په پاوړو ختو وه، او بله لاندې نېغ روانه وه۔ اوس پته نه اولګېده چې هغه ځوان په کوم خوا لاړ۔ خو مونږ د خدائې په توکل په نېغه لار مخکښې روان شو۔ خدائې شته چې مونږ لاسونو کښې د دؤو بېګونو سره څومره مزل لنډ کړ دې شاید ټول عمر کښې به دومره زیات مزل نه ؤو کړې۔ پته هم اولګېده چې د ډلس هوائي ډګر څومره ستر او فراخ دے۔ ډېرو کسانو نه مو پته وکړه خو چې کوم لار دروازې نه به مونږ د وتلو کوشش کولو نو غلط به ؤو۔ ما ته ډېر کلک د وړو متیازو ضرورت پېښ شو۔ نو په یو رېسټ روم ورننه وتم۔ چې باهر راؤوتم نو څه ګورم چې ښځې مې یو پنجابي ځوان چې هوائي ډګر په عملې کښې شامل ؤو، اودرولې ؤه۔ په اردو

ښه پوهېدو. سیکه ؤو. خو مونږ سره بېرته روان شو. وې ئې چې تاسو په خطا لار ډېر لرې راغلې ئې. اوس به بیا واپس ځو. پیاده مزل ډېر دې. ما د پاره خو څه مسله نه ده خو تاسو ته به ګرانه وي. لرې ئې پیاده بوتلو، او یو د شیشے کېټ ته ئې اودرولو. چې اوس به یو شټل ټرېن راشي. د شیشے دروازه به خپله آټومېټک automatic خلاصه شي. تاسو به په ټرېن کښې کښېنئ، آخري سټېشن به کوز شئ. مخامخ به د یو لوئې هال دروازه وي. بے خطر ورننه وځئ. هلته به تاسو د نور سامان د بکسونو پته ولګي. مونږ هم دغسې وکړل. اوس کافي وخت اړېدلې ؤو. زمونږ د جهاز نورو ملګرو خپل سامان د پټې نه کوز کړې ؤو. ما ښځې ته ووې چې راځه د دفتر نه د سامان پته وکړو. مونږ د دفتر په لور روان ؤو چې چا د خورې خورې نارې کولې. ما چې وروکتل نو سعید خان زمونږ سامان سره ولاړ ؤو. په سامان زمونږ نومونه لیکلي ؤو. دې ته حېران ؤو چې مېلمانه مې څه شو. خېر، مونږ دواړو د یو بل په لیدو او ملاوېدو خوشحال شو. سعید خان زمونږ سامان را اوچت کړو. او باهر د ګاډي د پارکنګ په لور روان شو. خو باهر سخته یخني وه، او یخه هوا د سینې نه پورې راپورې وتله. ما سوېټر او کوټ اچولې وه. خو بیا هم د یخني نه تریدلم.

خېر، فاصله لنډه وه. او له خېره د سعید خان په لوئې ګاډي کښې کښېناستو. چې ننه د هیټر په وجه تود ؤو. سعید خان کور په وېسټ مورلېنډ مکلین، ورجینیا کښې د ۵۵۶ نمبر دې. هوائي اډې نه د پینځلسو شلو (۱۵ یا ۲۰) منټه لار ده. په لار د ماښام آذان راغې. پته ولګېده چې د موټر دننه د هر وخت د آزان بندوبست دې. کور کښې ټول لوئې واړه زمونږ په انتظار ؤو. چائې روټې مو اوخوړه. د ماسخوتن د لمانځه نه پس نېغ خپلې کمرې ته لاړو ځکه چې سم ستړي ؤو. او غوږونو مو بنګا کوله.

# ورجینیا کښې درې ورځې او شپې آرام

سعید خان مونږ ته خپل کور کښې یوه کمره او مخامخ یوه ځانته غسل خانه سپېټ کړې وه. د اوږد هوائي سفر نه پسته یوه طبعي جسماني ستړیا بنده ښکار شي. ورځ په شپې، او شپه په ورځ کښې بدله شوه. د انسان د معمولاتو پروګرام بدل شي. د وخت او د ځائې د بدلي سره د معمول ستړیا سره انسان یوه بېل قسم بےچېني، بے قدري، بے آرامي او بے خوبي محسوس کوي. دا څه مرض خو نه وي خو یو عجیب کېفیت

وي۔ د انګريزي په طبعي اصطلاح کښې دې کېفيت ته جيټ لېګ jet lag بيماري وائي۔ دا کېفيت تر دوه درې ورځو وي۔ او بيا رو رو بنيادم د حالاتو سره adjust برابر شي۔ څه خاص دوائي نه وي پکار ورته۔

## دوه تاريخي يادګاری ورځې

(۲۴نومبر ۲۰۱۷) زمونږ د راتلو نه مخکښې سعيد خان نيو يارک ته به تلو او هلته دوه شپو تېرولو پروګرام ئې ساز کړې ؤو۔ ځکه چې دلته امريکې کښې د سنيچر او اتوار د چټيانو سره دوه نور د تفريح ورځې سره يو ځائې شوې وې۔ د دې ورځو نومونه دي (۱) بلېک فرائيډے black friday او (۲) فرينډشپ اينډ تېنکس ګيونګ ډے friendship and thanksgiving day۔ دا دوه ورځې د هغو وختونو په يادګيرنې کښې لمانځلې شي چې کله د يورپ خلقو د دې نوې دنيا په لور مخ کړو۔ دلته رېډ انډئين بېلې بېلې قبيلې تقريباً د څلوېښت (۴۰) زره کالونو نه اوسېږي۔ وائي چې دا د امريکې زړه اوسېدونکي د شمالي يورپ يورپ نه د الاسکا په لور راؤښتي ؤو۔ دا هم وېل شي چه هغه وخت دا براعظمونه د يو بل سره د ګلېشيرز په ذريعه يو ځائې ترلي ؤو۔ الاسکه رياست امريکې د روس نه په بيعه اخستې

دي۔ اول خو د دې ځائې اصل اوسېدونکو دوئي ته تود هرکلي اووې۔ خو خپل کورونو ته به د مېلمنو په توګه بوتلل۔ خو چې کله دا زړه اوسېدونکي د نوي راتلونکو په سامراجي عزائم او توسيعي نيتونو پوه شو نو يوه ورځ ئې په دې نومې يرغلګرو ناساپې حملې وکړه۔ رېډ انډئينز سره هغه زړه د تورې، تير، او د تفنګ اسلحه وه۔ او دا خلق د اوسپنې د ايجاد نه بې خبره ؤو۔ دلته د يورپي قامونو سره جديده اسلحه وه۔ رېډ انډئينز څه موده ډېر په مړاني او بهادري اوجنګېدل خو آخر دوئي کښې ډېر خو مړه شو، او څنو ته لرې لرې په غرئيزه سيمو کښې د ببلو ببلو کالونيانو د سازؤلو اجازت ورکړلې شو۔ فاتح قوم دې ورځ ته د بلېک فرائيډے نوم ورکړو۔ خو هغه د اصلي خلقو د مهمان نوازي روايات ئې د friendship & thanksgiving day در ورځې د نمانځلو په توګه تر نن قائم وساتل۔ دا ورځ د امريکې خلق د يو بل کورونو ته ورځي او ورته د دوستي او د شکرئې پيغام ورکوي۔ مونږ چې کله نيو يارک ته تلو نو سعيد خان به په لار کښې راتلونکو ټول پلازو کښې ناستو ښځو او سړو ته په زوره د دوستي او د شکرئې سلام ضرور وې۔ خو هغوئي به هم ډېر ويالئ او روني ټنډې سره

د دې ځواب ورکولو۔ امریکنیان په دې جذبو د زړې دشمنۍ توري د خوشي د داسې موقعو سره د ویځلو کوشش کوي۔

## د نیو یارک په لور

هم په دا ورځ یعني د نومبر په ۲۴ تاریخ د کال ۲۰۱٦ مونږ سعید خان سره د نیو یارک په لور په ګاډي کښې روان شو۔ وخت یولس نیمې بجې وې۔ د کاسټکو تجارتي مرکز (costco business center) نه مو ګاډي ته ګېزولین واچول۔ کاسټکو یو لوئې سټور یا مال دې چې هر قسم سامان پکښې خرڅېږي۔ دننه نه تود وي۔ هر کله چې باهر سخته یخني او سړه هوا چلیده، داسې ځایونو کښې خلق سودا ختم کوي او مونږ په شان تش جیبي پکښې د وخت تېره ولو د پاره صرف د سترګو د خوږولو عیاشي کولې شي۔ دې لوئې مالونو سره نزدو ګېس سټېشنونو کښې ګېس یا تېل د نورو ځایونو نه په کم قیمت خرڅېږي۔ او د کم آمدن خلقو ته دا ریټونه مناسب او ښه پرېوځي۔

د سعید خان د کور نه تر نیو یارک رسېدو د پاره مونږ په لوئې سړک درې ریاستونو نه تېر شو۔ ورجینیا Virgina سیمه، د مېرې لېنډ Maryland

ریاست، او ډېلس Dallas ریاست، نیو جرسي ریاست، او اخر کښې نیو یارک ریاست حدود شروع شي۔ دلته مونږ به چې یول بل ریاست ته ورننه وتو نو سوا د ډلس د ریاست، هر ځائې مو به ټول ټېکس ورکولو۔

ډاکټر حاجي رؤف، د ده بی بی برېښنا، او د دوئي درې بچي د نیو یارک ته د تلو په موقع زمونږ ملګري ؤو۔ سعید خان دې کورنۍ سره ډېر پخواني خانداني تعلقات دي۔ پروګرام دا وو چې حاجي رؤف به د خپل ټبر سره د خپل کور نه روانېږي، او مونږ به ځاني د کوره اؤزو۔ په موبائیل به د یو بل سره رابطه ساتو۔ او بیا به یو ځائې به سره ملاوېږو۔ او بیا د نیو یارک په لور یو ځائې مزل لنډؤو۔ دوارو د لارې تعین د پاره navigator نه کار اخستو۔ زمونږ موټر کښې نېویګېټر د شمائله بی بی په لاس کښې ؤو۔ او سعید خان ته به ئې د لارې د طرف اشاره کوله۔ او هلته په بل موټر کښې برېښنا بی بی دا کار کولو۔ خو مشین آخر مشین وي، یو ټېکنیکي انداز کښې بنیادم ته لار ښودنه کوي۔ دلته بنیادم دماغ سره سره نیت، اراده، او ازادی د حواس هم لري۔ داسې مونږ دواړه ټولي به کله نه کله د یو بل نه په بېلو بېلو لارو روان شو۔ سعید خان به د عادت مطابق به کله نه کله غصه شو خو جیني ګل (شمائله) به د صبر، تحمل، او خوش بیاني سره

د سعید خان په دې غصې یخې اوبو توئې کړې. هسې هم سعید خان عادتاً شور زیات کوي خو زړه نه ډېر ښه او بردباره هلک دے. خو بار بار په لارې د غلطېدو راغلطېدو آخر مونږ د هلټن هوټل نیو جرسي سټېټ په پارکنګ ایریا کښې تقریباً یو وخت د موټرو نه کوز شو. دا سفر تقریباً د څلور نیم 4.5 ګنټو ؤو. په لار کافي رش ؤو. خو سعید خان وې چې نن چټي ده. خو د بې ځچې رش له وجې یو ګاډے د بل پسې جوخت رو رو روان وي، ځکه نن زیات وخت ئې وانه خستو. په لار کښې مونږ په یو ځائې کښې بریک ونیوه. لمونځ او روټې مو وکړه.

حاجي رؤف خان د پېښې په لحاظ یو مېډیکل ډاکټر دے. د کابل نه ئې ایم ډي MD ډګرئ تر لاسه کړې ده. اصل کښې د ښکته کنړ (افغانستان) اوسېدونکې دے. په کوټ احمد خان د کلي د ابابکر خېل قوم نه دې. نیکونه ئې د غزني نه راغلي ؤو. د سترګو ماهر ډاکټر دې. افغانستان کښې د پدې ورځو په وخت د یو بهتر مستقبل د پاره امریکے ته راغلو. حال دا دے چې د دې نه اول ئې په پاکستان کښې ښه پریکټس چلېدو. خو د بدقسمتي نه ئې امریکې کښې ډاکټري کولو د پاره ئې یو ضروري امتحان ECMFG ئې پاس نه کړئ شو. دې د پاسه کاغذونو کښې

د څه فني غلطي په وجه اوس د امریکې نه وتلې نه شي۔ همت ئې اوبائیلو او اوس دلته ټېکسي چلوي۔ د نظر عینکې ئې په سترګو وي۔ خاموشه خنده رویه روښانه سترګې لري۔ د صبر او د زغم عادت لري، او فطري پیدائشي مذهبي رجحان لري۔ د ښځې نوم ئې برېښنا ده، چې د ده د تره لور هم ده۔ پاکستان کښې ئې پلار محترم ئې په افغان مهاجرینو هسپتال کښې مشر ډاکټر ؤو۔ د مور او د پلار نیازبینه لور وه۔ ایبټ آباد (پاکستان) کښې ئې د مېډیکل تعلیم تر لاسه کولو چې والد صاحب ئې په حق اورسېدو۔ ډاکټر رؤف په ډېره مینه ورسره واده وکړو۔ د خانداني پس منظر په وجه د کور خرچې او د مېلمانو په مېلمستیا کښې چېر لاسي او د خپل خاوند د صبرناک عادت اپوټه یو معیاري ژوند د تېرولو ارمان لري۔ خوله وره ګلې خنده ښځه ده۔ خاوند او دې دواړه ښه ادبي ذوق هم لري۔ له خبره درې ښه تهزیب یافته او مودب ځامن لري۔ دلته ورجینیا کښې د حکومت له لوري ورکړې یو کم قیمته کور کښې اوسېږي۔ برېښنا د بېبي سټنګ babysitting کار سحر او ماښام دواړه وختونو ته کوي چې زیات نه زیاتې ډالرې تر لاسه کړي، او یو ستر کور په بیعه کړي۔ خو تر

اوسه ئې د نولسو نه شل نه کړې. او دا یو ارمان ئې په زړه ده. او د خپل خاوند صبرناک او راضي به رضا توکلي فطرت نه ګیله منه ده.

ډاکټر حاجي رؤف د سعید خان د حج ملګرې هم پاتې دې. رښتیا خبره چې حاجي صاحب په مخ یو خشختي بریره، د عینکو د لاندې یوه شرارتي مسکا سره، د طمع او د غرض نه پاک یو صفا وجود او د یو زړه راښکون شخصیت لري.

نیو یارک په دې درې ورځني چکر کښې د متضاد صفات لرونکي جوړه زمونږ سره پاتې شوه. سحر ناشته مو به یو ځائې کوله. د نیو یارک ښکلي پر هجومه، صفا، بین الاقوامي ښهر د بازارونو او د سیاحت د کتو ځایونو ته به هم ګډ تلو. خنداګانې او ټوقې ټکالې به وې. نیو یارک ښهر کښې د ورځې په رڼړا کښې مسافرو د لټولو پیښې ډیرې کیږي. دا واقعات اکثر د تور رنګ خلق کوي. یوه ورځ هم دا خبرې کیدې چې چا زما ښځې پرس ته د روستو نه لاس ورواچول. زما ښځه داسې ناساپي واقعې ته تیاره نه وه. د دې د پاسه د افریقې د حبشیانو په زور د لټولو قیصې. زما ښځې د خولې نه د زوره یوه چغه اووته. روستو چې مو اوکتل نو د بریښنا وه چې د خندا نه تکه سره وه. رشتیا خبره دا ده چې ما ته د دې ګپ په داسې

موقع بد اولګېده۔ او د خلې نه مې ووتل چې مونږ د کابلیانو ډاکوانو او لوټ مارانو ښه تجربه لرو۔ د افریقې حبشیان دوئي په مخکښې هیڅ هم نه دي۔ سعید خان چې اکثر ملګري ئې افغانیان دي، دا خبره بده اومنله او روستو ئې راته وېل چې دا خلق په کابلې او یا د پونده په وئیلو خفه کېږي۔ دوئي ځان ته صرف افغان وائي۔ د دې نه پس سعید خان ما سره اکثر په دې مسلې بحث کولو۔ او ما به ورته وې چې ټول افغانستان کښې صرف د کابل ښهر خو دې چې د دې باندې قبضه کول معني ټول افغانستان تر لاسه کول دي۔ د افغانستان تهذیب او تمدن او د ثقافت مرکز د کابل ښهر دې۔ نور افغانستان خو تر اوسه د قبیلو د دور نه تېرېږي۔ نن سبا کابل د دنیا په نقشه د ډېرې تباهۍ نه پس یو ښکلې جدید ښهر دې۔

ګرچې د مشهور ناول لیکونې سېد رسول رسا د سفارت په دور کښې دا ډېر ښخا او ګنده ښهر ؤو، څنګه چې د ده په ناولونو کښې ښودلې شوې دي۔ هم دا حال د نن نه یو نیم سوا کاله مخکښې یعني ۵۰ کاله مخکښې د نیو یارک د دې عظیم الشان ښهر ؤو چې څرنګه ئې تصویر د هغې زمانې په ناولونو کښې دا ښکلې شوې دے۔

پاونده هم د دوئي يو زورړ تاريخي نوم دے۔ افغانستان نوم احمد شاه بابا د يو سياسي ضرورت لاندې وربانديې ايښې دے، چې اوزبک، تاجک، او ترکمن هم پکښې شامل دي۔ لکه څنګه چې هر هغه بنده ته پښتون وائي، چې د پکتيا په خاوره مېشت کوي، هسې افغان ځانته يو نسلي، تاريخي، او جغرافيائي وحدت دې چې اصل وطن ئې قندهار او د سليمان د غرو د چاپېره سيمه ده۔ افغان باندے چې نن سخته راشي نو ټول سره د خپل اصل زيږېدو ځائې قندهار مخه وکړي۔ پښتون يو وسيع مفهوم لري چې پکښې افغان، اعوان، جټ، ګوجر، او نور ګڼ مفتوح قومونه راځي۔ خو سعيد خان په دې علمي او تاريخي بحثونو هېڅ غرض نه لري۔ صرف د افغان د نوم او د دوستي په وجه نور ګوانډ قومونو نه نفرت او نسلي تعصب لري۔

## نيو يارک

نيو يارک د امريکے د ټولو نه لوئې او اهم ښهر دے۔ دلته د اقوام متحده ګڼ دفترونه دي۔ سعيد خان د مخکښې نه د نيو يارک سره نزدې يو رياست نيو جرسي کښې د هوټل بکنګ د دوؤه شپو د پاره کړې ؤو۔ د هوټل نوم هلټن هوټل ؤو۔ دا کافي ستر خو چټيزه عمارت ؤو۔

مونږ د ریسیپشن نه د خپلو کمرو چابئ تر لاسه کړې. او په لفټ کښې بره اوختلو. کافي آرامدې او د سهولتونو نه ډکه کمره وه. ټي وي هم د لوئې سائیز لګېدلې وه.



د مېنهېټن هوائي منظر (تصویر د *streeteasy.com* وېب پاڼې په مننه)

څه ساعته آرام نه پس مونږ د نیو یارک د ښهر سېل ته ووتو. د دواؤ سرنګونو نه د تېرېدو نه پس د نیو یارک د ښهر مال روډ یعني د مېنهېټن سیمې (Manhattan) لورې ته اووتو. ډېر زیات رش ؤه. ډېر په ګرانه مو یو ځائې د پارکنګ ځائې اومنتو. نیو یارک کښې څه چې د امریکې هر ښهر

کښې پارکنګ یوه لویه مسله وي. دې دې پاره خلق د سفر د پاره د خپل ګاډي نه بس، ټرېن، او ټېکسي ته ترجیح ورکوي. موږ نیو یارک کښې د دوه ورځو تېرولو په دوران خاص ځایونه وکتل. موسم مزېدار وو او یخه سیلۍ نه چلېده.

**ټائم سکوئېر Times Square**




د ویکي پیډیا وېب پاڼې نه اخیستل شوې د ټائم سکوئېر یو انځور

دا د نیو یارک براډوے سټریټ Broadway Street باندې د بازار په مېنځ کښې یوه ستره کافي اوچته روښانه میناره ده. روښنائي ګولۍ پکښې پورته لاندې کیږي. د کال په آخر کښې یعني د دسمبر ۳۱ تاریخ د شپې دولس بجې یوه لویه روښانه ګوله د بره نه پرېوځي او داسې د نوي کال آغاز اوشي. سېلګړي د لرې لرې ځایونو نه د دې تماشې د کتو د پاره راځي. د

دې د رنګ او نور سیمو کښې د ګرځېدو په وخت زما نظر په یو ځلېدونکې بورډ هم پرېوتو چې ورباندې د مادام تساد Madame Tussaud میوزیم لیکلي ؤو. خو افسوس چې د ملګرو د عدم دلچسپي په وجه د لندن د سېل وخت په شان د ټولې دنیا د مشاهیرو هو بهو مجسمو د دوئي په مخصوص معروف جامو د سټائل د کتو موقع مِس کړه. زه نه شم ویلې چې د دې میوزیم او د لندن د مادام تساد میوزیم کښې څه فرق دے.

بله ورځ په ۲۵ نومبر جمعې ورځ وه. مونږ ناوخت تیار شو. د نېویګېټر په مرسته سعید خان چرته نزدو جماعت لټون کولو. خو دوئي کښې د لمونځ د کولو د وخت صحیح پته نه لګېدو. آخر معلومه شوه چې د نیو یارک د هوائي ډګر سره نزدې په الرحمان جماعت کښې به په دوه بجې د جمعې لمونځ وي. مونږ چې ورتلو نو جماعت د لمونځ ګزارو نه ډک ؤو. ما ته چا د خدائې بنده په سړک د یو څو نور معزوره لمونځ ګزارو سره کرسئي واچوله. دلته لمونځ کؤنکو کښې د افریقې د خلقو شمار زیات وو.

## د آزادی مجسمه Statue of Liberty


هم دا ورځ مازیګر ناوخته مونږ د زماني مشهورې تاریخي آزادی د مجسمې د کتو پروګرام وو۔ تاسو ته پته ده چې کله امریکے براعظم دریافت شو نو د ټولې دنیا خاص کر د یورپ د بېل بېل ملکونو نه داسې مالي ذهن لرونکي غاصبونو سره سره د خپل سماجي، سیاسي، او معاشي په مخ تلګ مواقعو د لټون د هڅو خواري کشو خواري ژېلو خلقو هم د دې وسیع او عریض ملک مخه وکړه۔



د آزادۍ مجسمې يو منفرد نظر

داسې د مذهبي، سياسي، او فکري آزادي خوښونکي هم د خپلو ارمانونو د سر کولو د پاره دې سيمې ته راغونډ شو۔ دا خلق به د نيو يارک په بندرګاه د بحري جهازونو نه کوزېدل۔ او د خپل قسمت د آزمائش د پاره ئې د امريکے د نورو سيمو مخه کوله۔ وائي چې ۱۸۹۲ء نه واخله ۱۹۵۴ء راسې مو دې کښې تقريباً پاؤ باندې يو کروړ تاريکين وطن خلق په دې لاره امريکے ته راننه وتلي دي۔ هر کله چې امريکې د جارج واشنګټن په

مشري کښې د آزادي اعلان وکړو نو د فرانس د خلقو چې د دې نه مخکښې ئې د جمهوري آزادي حق د ډېرو قربانيو نه پس تر لاسه کړې ؤو۔ دا مجسمه د امریکے خلقو ته سوغات په توګه ورکړه۔ دا د کال ۱۸۸٦ء د زمانې واقعه ده۔ د دې مجسمې په تختۍ باندې د ایما لازارس Emma Lazarus ولوله انګېز ټکي کنده دي۔




د آزادۍ مجسمې سره کنده د ایما لازارس ټکي

ترجمه ئې داسې ده:

خپله ستړیا، خپله نېستي ما ته وسپاره، د خلقو یو سېلاب په آزاد فضا کښې د سا اخستو د پاره ترسېږي. د اوبو د بې رحمه چپو څپړو، دا بې کوره او طوفان ځپلي خلق ما په لور راستوه. زه د سروزرو په دروازې مشعل نیولې ولاړه یم.

مونږ د ټائم سکوئېر په سټېشن د رېل ټکټ واخستو. دا د نیو یارک د مېنهېټن په سیمه کښې ۴۲ سټریټ کښې پروت دے. په لارې اوؤه اته

لوئې واړه سټېشنونه لکه ټائم سکوئېر، ۳۴ سټريټ، ۲۸ سټريټ، ۲۳ سټريټ، ۱۸ سټريټ، ۱۴ سټريټ، کرسټوفر سټريټ، شېريډن Sheridan سکوئېر، هؤسټن Houston سټريټ، کنال Canal سټريټ، فرېنکلن Franklin سټريټ، چېمبر Chamber سټريټ، رېکټر Rector سټريټ، او په آخر ساؤتهه فېري سټېټن ائلېنډ راغلل- په هر سټېشن به رېل ګاډې دوه منټه اودرېدو- دروازه به آټومېټکلي (په خپله مخه) خلاصېده او بندېده- نر او ښځې به د مخکښې نه تيارې ولاړې وې- په قطار کښې اول د بره نه سورلئې راکوزې شوې او بيا به هم داسې قطار کښې ورختل- هېڅ قسم هله ګوله او پرزه ول او دِ که کول نه وو- هم دا صفت د صبر او د زغم د دوئې خلقو د ډېرو ستائيلو ده- زمونږ د ملک په شان راختلو په وخت کنډېکټر راخېژه حاجي صاحب، او د کوزېدو په مال د کوز شه بوډا نعرې نه وهي- په دې آخري سټېشن يو د اوچت قد بت وال يو حبشي سپاهي د ټرېن ډبي ته راننه وتو- وې چې د فېري (اويه کشتۍ) سوارۍ دې راځي- خو د يولسو بجو نه مخکښې به د جزيرې نه اوځې، ځکه چې د دې نه پس به د واپسۍ سورۍ تر سحره به نه وي- جزيرې کښې هوټل او رسټورنټ وغېره د سېلانيانو د آرام د پاره شته- خو د هغه ډېرې ګراني پرېوځي-

زمونږ فېري د سټېټن Staten ائیلېنډ فېري نه پس د ایلیسن Ellison ائیلېنډ ته اورسېدو۔ مونږ لوئې فېري په یوه څرمه پرتې آرام ده نششت ناست ؤو۔ تماشه مو کوله۔ د آزادې مجسمه به د لرې نه د اور د یو شغلې په شان پرقېده۔ داسې ښکارېده لکه چې د آتش بازي یوه مظاهره وي۔ مونږ په جزیره کښې اوګرزېدو راؤګرزېدو۔ د مجسمې جائزه مو د هر ذاوئې نه واخسته۔ د لرې نه خو دا مجسمه داسې ښکاري لکه چې یو ولاړ بت پې کېپ په سر، ښې لاس اوچت، یو بل لېمپ نیولې، کیڼ لاس کښې یو کتاب تم کړې، یو لوئې څادر کښې د اوږو نه تر پښتو پټ ولاړ وي، او هر چاته پخېر راغلې وائي۔ د دې مجسمې په لاس کښې دا کتاب قسم څیز د لید سره ماته د یو کتاب New York is Burning (نیو یارک سوزېږي) د سرورق رایاد شو، چې ما د ورجینیا د فئېرفېکس کاؤنټي پبلک لائبرېري Fairfax County Public Library نه یو څو ورځو ته راوړې ؤو۔ څه ناول قسم کتاب وو نو نور لیک مقصد ئې رانه هېر دې خو تش د کتاب نامه راته یادېږي۔

مونږ د یولسو بجو نه مخکښې د جزیرې نه یو ځل په فېري کښې د سورلې نه پس راووتو۔ ټرېن کښې کښېناستو او بېرته ټائم سکوئېر سټېشن ته راغلو۔ یو

هوټل کښې مو روټۍ اوخوړله او خپل موټر کښې د خپل کور لار مو اونيوه.

## خوراک

نيو يارک کښې خپلو استوګنې درې ورځو دوران کښې مونږ د نيو يارک په بيل بيل هوټلونو کښې سينډوچ، برګر، پيزه، او شاورمه اوخوړل، ځکه چې د سعيد خان د بچو دا د خوښې خوراکونه وو. د انګريزي خوراکي چې اوس زمونږ په ملک کښې ئې عام او خواص دواړه ښه په شوق سره خوري، خدائې تعالیٰ د دا په کبر کښې شمار نه کړي، ما ته ښځې نه لګي. زه تر اوسه بوړ او مړئي سړے يم.

۲۶ نومبر ۲۰۱٦ ته مونږ د خپل هوټل والاؤ سره حساب کتاب کولو د پاره راکوز شو. سعيد خان استقباليه ته ورغے خو هغوئي چې کوم بل ورکړو، هغه څه لږ زيات وو. پته ولګيده چې مونږ د خپل ټيليوژن په پرده د يو ويډيو آډيو کيسټ آرډر ورکړې وو. مونږ ته خو نه يادېدو او هوټل والاؤ هم ورباندې ډير زور نه ورکړو ځکه چې دا کيسټ مونږ لا تر لاسه کړې نه وو.

روستو ما ته یاد شو چې په ټیلیوژن د چېنلونو نه د بدلولو په وخت شاید زما ګوته په غلطه بټن ایښے شوې وه۔ خیر، مونږ د هوټله د خیره راؤوتو، او په هغه زوږ سړک مو د ورجینیا لار اونیوه۔

په لار سعید خان د سمندر په غاړه د یو ښهرئې په بندر (beach) مونږ کوز کړو۔ و وې چې دلته د ګرمی په موسم کښې یو پِک نِک picnic ځائې دې، خو اوس خو ویران او ویجاړ وو۔ یو ستر جهاز دلته ولاړ وو۔ یو څو ساعته هلته اخوا دېخوا اوګرزېدو، خو سخته یخني وه۔ سړه سیلئي د سینو نه پورې راپورې وته۔ مونږ په خپل ګاډو کښې کښېناستو او په خیره مو د ورجینیا لار خپله کړه۔

## نیو یارک په باره کښې زما تاثرات

وائي چې امریکه د دنیا مرکز ده۔ نیو یارک د امریکې په سر یو د سرو او د سپینو زرو ورسره د پړقېدونکو هیرو یو تاج دې۔ د مېنهېټن سیمه ۴۲ سټریټ او د ټائم سکوئېر د نیو یارک ښهر مرکزي ځلېدونکي او پړقېدونکي زړه، ځلا، او ښکلا ده۔ ما ده ځایونه دې دوه درې ورځو کښې د ورځې او شپې دواړو وختونو کښې اوکتل۔ هسې دلته د رڼاګانو په وجه

شپه او ورځ یو شان روښانه او تابنا که وي. که نیو یارک د دنیا مېنځ ده،
نو مېنهېټن د نیو یارک او ټائمز سکوئېر د نیویارک کښې خاص د کتو
ځایونه دي.

شپې وخت رش پکښې ډېر وي. د هر ملک، رنګ، او نسل خلق دلته به
مخته درشي. بین الملي شهرت ځائې دې. هر لور ته د رنګ و نور یو سېلاب
ښکاري چې روان وي. دومره راسې چې فټ پاتونه ئې هم څنګېږي. د
ګڼ سېل ګرو په قیصو کښې د ټائمز سکوئېر علاقه د منشیات فروشي،
عریاني، او د بدکاري د مرکز په توګه هم یادېږي. خو ما ته یو هم داسې
لعنت په نظر نه راغلے. وائي چې دا د نیو یارک په مېئېر منحصره ده، چې
څومره یو بازار پاکوي. خو بیا هم کېدې شي چې بل یو رنګین مزاج
سېلاني تاثر د دې په لړ کښې څه بل رنګ وي. ځاني خو ماته د برائي
دې کیسو په باره کښې د لندن ښهر نه هم زیات اخلاقي لحاظ سره صفا
ستره ښکاره شو.

۴۲ سټریټ کښې ښه رش وو. دلته د تهېټر او د سینما ګانو یو قطار ده.
هم دې کوڅې کښې زما نظر په یو ځلېدونکي بورډ پرېوتو چې ورباندې د
مادام تساد مومي عجائب ګر لیک وو. تاسو ته پته ده چې هم دا موزیم په

لندن ښهر کښې هم ده۔ خو بدقسمتئ نه زما په قسمت کښې دواړه ځل د دې د کتو موقع رانه غله۔ ځکه چې هر ځائې زما واګے د بل چا په وس کښې وې۔ دا ذکر ما مخکښې هم لږ کړې دې۔

## د فئیرفیکس کاؤنټي لائبریري Fairfax Country Library

(۲۸ نومبر ۲۰۱٦) نن زه سعید خان د خپلې سیمې د کاؤنټي لائبریري ته بوتلم۔ د لائبریري د سحر لس بجو نه واخله تر د شپې د نو بجو راسې خلاصه وي۔ دا لائبریري دې ځائې د ۱۹۵۰ء نه کار کوي۔ اوس انتظامیه دا لائبریري چرته بل ځائې ته وړله ځکه چې موجوده عمارت د موجوده دور ضروریاتو سره برابر نه وو۔ دې د پاره ډېر کتابونه بې ځائه وو۔ ما لائبریرئین (چه یوه ښځه وه) ته خواست وکړو چې ما سره د ورجینیا واشنګټن ډي سي او د نیو یارک د ریاستونو په باره کښې څه کتابونه راته ولټوي۔ هغې هره الماري چاڼ کړه۔ د ورجینیا او د واشنګټن ډي سي په باره خو دوه معلوماتي کتابونه په لاس راغلل۔ خو د نیو یارک ریاست په باره کښې څه د کار کتاب سوا د یو ناول نما کتاب، پیدا نه شو۔ سعید خان مشرې لور

رفع خان چې د میډیکل سکول طالب علمه ده، دا کتابونه په خپل لایبریري کارډ راته ایشو کړل.

دا هم پته راته ولګېدله چې دې لائبریري کښې د دې کاؤنټي اوسېدونکو هلکانو او جیناکو څه، چې بزرګانو ته هم د کمپیوټر زده کړه مفته ورکړه کېږي.

## شېرنګټن هوټل کښې د جمعې لمونځ

(۲ دسمبر ۲۰۱٦) د جمعې د لمانځه د پاره خو مسلمانانو اسلامک سنټر ساز کړي دي. خو ځائې په ځائې هم د جمعې لمونځونه کېږي. دې د پاره دوئي یو هوټل کښې د څو ګنټو د پاره هال بک کړې وي. چونکه د جمعې په ورځې سرکاري چټي نه وي، دې پاره سرکاري ملازمینو او کاروباري فرمونو کښې کار کوُنکو د ګنټې نیمې چټي اخستي وي. په یو وخت چټي نه شي کېدے. ځکه د دوئي د سهولت د پاره انتظامیه هال کښې تقریباً د یوې ګنټې وقفې په فرق هال کښې درې د جمعې لمونځونو بندوبست کړې وي. اول په دولس نیمو 12:30 بجې، دوېمه په یوه نیمه 13:30 بجې، او درېمه په دوه نیمه 14:30 بجې. د دې سیمې خلق سهولت

او د فراغت مطابق ځان ور رسوي۔ چونکه ماسپښين د لمانځه نه پس مازيګر لمونځ وي۔ دې د پاره د دوه نيمو بجې لمانځي د مازديګر لمونځ کښې هم د جمعې لمونځ د ختمېدو نه تقريباً فوراً پسته کوي۔ د درې واړو جمعې امامان بېل بېل وي۔ خطبه په انګرېزي کښې وه۔

سعيد خان د کور ښي لور ته ګواندې حميد خان د پېښور ښهر دے۔ اول ئې ابو ظهبي په يو بېنک کښې ئې کار کولو۔ ريټائرمنټ نه پس دلته اوس په امريکه کښې خپل کاروبار کوي۔ سعيد خان د کور والاؤ زما جماعت ته بوتلو ذمه واري ده ته سپارلې وه۔ دې د لمانځه نه څه موده مخکښې راغلو او موټر کښې ئې ځان سره جمعې لمونځ د پاره بوتلم۔ د هال په اول صفونو کښې سړي ودرېدل۔ بيا د يو باړ (barrier) نه روسته ښځې ولاړې وې۔ حميد خان راته په لار وې چې ده دوه زامن دي۔ يو د نيوروسرجري ټرېننګ کوي۔ دلته مخصوصو حالاتو په وجه پاکستانيان اهل سنت والجماعت هم دوه لمونځونه په يو ځائې کوي۔ هسې هم د رسول ﷺ ارشاد مبارک دې چې دين کښې آسانتيا پيدا کوئې۔

## پوټومېک دریاب (Potomac River)

دا د امریکې قامي سیند دہ۔ دا امریکې کښې د بحر اوقیانوس مینځ ساحل سره بهېږي۔ او درې ریاستونو، ورجینیا، واشنګټن ډي سي، او د مېري لېنډ حدود ټاکي۔دا تقریباً ۴۰۵ میله اوږد دریاب دہ۔ د Fairfax نه راؤځي او چېساپیک بے Chesapeake Bay ته پرېوځي۔ د امریکې د ملک باني جارج واشنګټن د دې دریاب څانګو په غاړه لوئې شوې وو، او د آزادی ډېر جنګونه هم دې څانګو په ګاڼرو شوي دي۔

آزادي نه پس د پوټومېک دریاب په غاړه د دې صدر مقام جوړ کړې شو۔ پوټومېک د زړو رېډ انډین خلقو د ژبو یو وران شوې ټکې دې۔ معنه ئې دہ: هغه ځائې چرته چې څه څیز ورلې شي، یا د تجارت ځائې۔ د پوټومېک سیند ذکر مې ځکه وکړو چې د دې د یوې څانګې ګرد ورد د واشنګټن ډي سي اهم د کتو ځایونه جوړ دي۔

# قاسم خان د بنون په کور روټي

قاسم خان د بنون د یو کلي شهباز کلي اوسېدونکې دې۔ کافي موده نه دلته ورجینیا کښې اوسېږي۔ دلته د سعید خان د کور سره په یو پلازه سنټر کښې د فارمېسي په یو دکان کښې کار کوي۔ اول پاکستان ائېر فورس کښې ملازم وو۔ د ملازمت په دوران کښې یو نیم ځل په ډېپوټېشن deputation دلته راغلې وو۔ دا ځائې ئې خوښ شو او د ریټائرمنټ نه پس پوخ د بچو سره آباد شو۔ هغه وخت حکومت له لوري داسې خلقو ته په کم قیمت فلېټونه او کورونه ورکېدل۔ قاسم خان ته هم خوش قسمتي نه دلته یو فلېټ په وړیا بیعه په لاس ورغلو او ده په قسطونو دا قرض پوره کړه۔ وړه وړه بږیره لري۔ قد ئې سم برابر دې۔ په وجود هم سپک دې۔ کار په وخت ئې کوټ پټلون اچولې وي۔ یو ځل ورباندې د زړه سخته دوره راغلې وه۔ بے هوشه پرېوتو او د نبض پته ئې نه لګېده۔ په سرکاري هېلي کاپټر کښې ئې په ایمرجنسي کښې نزدو د زړه اپرېشنونو هپسپټال ته یوړو۔ هغوئې دې زر سنبال کړو۔ خدائې پاک کرم ورباندې وکړو او نن دا ده خپل روزګار کوي۔ د ده ښځه هم ډېره ویاله، خنده رویه، او مېلمه پال

ښځه ده. يوه لور ئې په يو کراچي وال واده ده. اول ده سره اوسېدو. اوس ئې ځانته د سر پټولو ځائې مونتې دے. زما لور فارينه چې کله امريکه کښې بيماره وه، نو آپا ورسره هر قسم مدد کړې وو. خدائے ياک دے ورته د دې اجر ورکړي، امين.

نو نن مونږ ته قاسم خان د شپې روټې کړې وه. ده مونږ ته د خپل د کراچې د قيام د دوه مياشتو په موده کښې داسې درې ځله ښه پرتکلفه ډوډئ په ډېرې مينے او خلوص سره وکړه.

## واشنګټن ډي سي

واشنګټن ډي سي د امريکې عظيم او زوره ور ملک دارالخلافه ده. د ډي سي مطلب دې ډسټرکټ کولمبيا (District Columbia). د دسمبر ۲۰۱۶ء څلورم تاريخ وو. شمائله زمونږ سره شوه. د دې موټر کښې نزدو ريلوے سټېشن ته لاړو. هلته مو د واشنګټن ډي سي ټکټ واخستل. په ريل کښې سواره شو. او سمتسونين Smithsonian سټېشن باندې کوز شؤو. په پاؤړو بره اوختو. مخامخ مال روډ باندې روان شو. اول تاريخي ځائې US Capitol Monument مخته راغلو. مونږ په يو سيدهـ کښې آخر تر Lincoln

Statue ته لاړو۔ په لار کښې کورین او ویت نام ویټرن یادګار Korean and Vietnamese Veteran Monument هم ښکاري، چرته چې د درې تورو وسله وال سپاهیانو مجسمې جوړې وې۔ زما ملګرو په هر ځائې داسې مجسمو سره تصویرونه اوباسل، او بیا ئې په خپلو خپلوانو ته پاکستان اېستول۔ دلته په یو لوئې دیوال د هغو امریکي فوځاینو نومونه هم کنده وو چې د امریکې خونخواره جنګ کښې مړ وو۔ یوه رجسټر پروت وو۔ هغه کښې دا ګڼ نومونه لیک وو۔ امریکائي نر او ښځې به راتلل او رجسټر کښې به ئې د خپل مړ خپل نمبر ګتلو او بیا به ئې په کنده د ده نوم صحیح کولو او د عقیدت پېرزونه به ئې ورته وړاندې کوله۔ ما خپل ملګري دې یادګار سره د تصویر ایستلو نه منع کړل، او ورته اومې وې چې دا د امریکے د ظلم او د بربریت نخښې دي۔ زړه کښې مې وې چې انشاء الله دلته به ډېر زر دا قسم افغاستان جنګ کښې مړدار امریکائي فوځیانو یادګار به هم جوړیږي۔ د امریکې ظلم او زمونږ حکومتونو عجیبه پالیسي ده۔ چې اول د خپل زور او طاقت ښکاره ولو د پاره یو مست هاتي په شان په یو کمزوري ملک حمله وکړي، او بیا چې هلته ئې مخ تور شي نو د جنګ او د ژوبلې په زخمونو پاهه لګولو (soothing ointment) د پاره ورته یوه یادګاري میناره هم سازه کړي،

او وربانديِ اوليکي چې دا جنګ دوئي د آزادی او جمهوريت او د مذهب د زغورلو د پاره د کميونيزم خلاف کړې دې۔

او بيا کله د هغه ژوبل کمزوري ملک يو واکمن د دوستي نه پس د دوئي ملک دورې د پاره راشي نو دوئي ورته د ګلونو يوه ګل دسته ورته ورکړي، چې په دې يادګار ئې کېږدي۔ د ويت نام د ظلم په دې يادګار خو دوئي دا هم ليکلي دي:

Take a knife and cut open the Earth, and with time, the grass would heal it. – Maya Lin; A symbol of healing, war against Communism.

ترجمه: يو چاقو واخله او د زمکې سينه وربانديِ وڅيره، او د وخت تېرېدو سره به وابنه دا زخم روغ جوړ کړي۔ (مايه لين شاعر) د روغتيا نخښه: د کميونيزم خلاف جنګ !

کوريا جنګ: دلته زه د ۱۹۵۰ء او شاه و خواه د کوريا جنګ ذکر به هم وکړم۔ شمالي کوريا سره کميونيسټ ملکونه لکه روس او چين وو۔ د جنوبي کوريا په سر د امريکې لاس وو۔ ملک کښې خانه جنګي وه۔ اقوام متحده د جنګ د ختمولو د پاره خپل يو فوځ ورواستولو۔ دې فوځي

دستې کښې ګڼ نور ملکانو فوځيان هم وو. د صلح نه پس د اقوام متحده په يو رپورټ کښې ليکلي وو چې:

Turks are the best fighters and Americans are the worst fighters.

يعني، ترک ښه جنګړن قوم دي، او امريکنيان د دنيا د ټولو نه خندني (بې کاره) جګړه کؤونکي فوائيان دي. نو دا يوه يادګاري ميناره ده چې د دې بې کاره فوځيانو په ياد کښې جوړه ده.

(دائري نمبر ۲)

کينې لور ته زما نظر په يو عجائب ګهر پرېوتو چې ورباندې Holocaust Museum ليکلي وو. دا د هغو يهوديانو په ياد کښې جوړ شوې دې چې د جرمني نازينو د هيټلر وخت کښې په يوې ورې تنګې کوټې کښې د سا بنديدلو نه وژلې وو. دا قصه څومره رشتيا ده. خو امريکنيان ئې نه منونکي قابل د ګردن زني ګڼي-مونږ ننه ورنغلو. البته په لار کښې مو United States Capital Emancipation Hall يادګار ضرور اوکتو چې ورباندې ليکلي وو Symbol of Liberty and Democracy (د آزادی او د جمهوريت نخښه). واپسي د درياب په بل لور د ګڼو بوټو په مېنځ کښې د وائټ هاؤس (White House) عمارت څه برخه رابښکاره شوه.



د وائټ هاؤس په دالان کښې مزدوران وابښه کټ کوي۔

پخوا به سېلانيان په آزادئ سره د دې عمارت ننه ورتلې او ګرزېدې شو۔ خو اوس د دهشت ګردي د واقعاتو پس اوس د دې تماشه د لرې نه کولې شی۔ مېنځ کښې يوه ځنګله او سړک دے۔ هم دې سپينې مانړئ کښې د ښهر په زړه او د خلقو په مېنځ کښې د امريکې صدر خوري، څکي، سملي، او کار کوي، او داسې د دؤی خدمت کوي۔د 1825 نه 1829 پورې د امريکې يو صدر John Quincy Adams تېر شوې دې۔ دې کور په باره کښې د ده يو دعا ده:

I pray heavens to bestow the best of blessings on this house, and all that shall thereafter inherit it. May none but honest and wise men overrule under this roof.

پښتو ترجمه ئې داسې ده چه الله پاک له لاس په دعا یم، چه خپل ټول خېر او برکات په دې کور او هغو کسانو باندې چې دلته به د راتلونکي وخت کښې اوسیږي، باید چه د دې چت لاندې مېشت کسان دیانتدار او صاحب د بصیرت وي۔ د وائټ هاؤس سره د ریاست متحده د دارالخلافې United States Capitol عمارت دې۔ دلته د امریکې قوانین سازیږي۔ دا ګنبد نما عمارت د جمهوریت او د آزادي یو عظیم نشان ګڼلې شي خو افسوس چې دا یادګارو تور پوستکو غلامانو په زور مزدوری او د وینې جوړ شوې دے۔

از خونِ رگِ مزدور سازَد لعلِ ناب

په لږ فاصلې د لائبریري آف کانګرس عمارت په نظر راغې۔ دې ته د ورننه وتلو واقعې ذکر به بیا په تفصیل سره کوم۔ د دې لائبریري ماټو دا دې:

An open book and open mind are powerful tools of a Democracy.

يو ويړ کتاب او خلاص ذهن د جمهوريت د پاره زور ور درستې (اوزار) دی۔

اول کښې دا کتب خانه د کانګرس د ممبرانو او کارکنانو د پاره د يو ريسرچ ونګ په توګه جوړه وه۔ او د کتابونو شمېره 3000 وو۔ دا لائبريري څو ځله اوسوېزېدله او سِوِل civil وار کښې تباه شو۔ د امريکې څنې اولنې صدرانو خپلو ذاتي کتب خانې دې ته په قيمت سوغات کړې۔ نن دې کښې د مليونونو په شمېر کښې د نړۍ بېلو بېلو زيو کښې کتابونه مخطوطې، قلمي نسخې، په څرمنو پاڼو او کاڼو کنده ليکونه او داسې نور ډېر متعلقه څيزونه سوګه پراته دي۔ لائبريري د 24 اپريل، 1800ء نه کار کوي۔

# لنکن مېموريل

صدر لنکن د امريکې په تاريخ کښې يو اهم نوم دے۔ د امريکې شمالي او جنوبي رياستونو په مېنځ کښې ده کردار امريکه يوه ساتلې ده۔ دې د يو جنونې له لاسه مړ شوې وو۔ د پوټومک درياب او د مال روډ په آخري سره ده ده يادګار يوې خلاص مندر temple په شان عمارت کښې په يوې لوئې کرسۍ ساز ده۔ د مندر په ديوال د ده د تقريرونو اکتسابات کنده

دي.په يو ديوال د امريکائي مصنف او دانشور تنقيد نګار Royal Cortissoz دا کنده ليک مارا نقل کړو:

In this temple, as in the hearts of the people for whom he saved the Union, the Memory of Abraham Lincoln is enshrined forever.

Follow Abraham Lincoln steps as he led the Nation through a terrible struggle to a better place.

ترجمه ئې داسې ده: په دې ګنبت کښې څنګه چې د هغو خلقو د زړه په درازه کښې چا ده امريکې اتحاد په ځائې اوساتو، د ابراهم لنکن ياد د همېش د پاره د عزت سره سوګه کړې شو. د ابراهم لنکن په قدمونو خپلې خپې کېښودئ (يعني د ده پېروي کوئ). ده د قام مشري په يو ګران جدوجهد کښې د يو بهتر مقام د حصول د پاره وکړه.

هم په دې قطار کښې په دې مال د بېلو بېلو محکمو سکترېټس دي. کامرس کابينه سکترېټ Commerce Cabinet Secretariat دلته د اندرون او بېرون د تجارت معاملې سره کولې شي.

## تریژري محکه Treasury Department

دې ځائې په دې قسم خبرو غور او فکر کېږي چې پېسه کوم ځائې نه راځي او په کوم ځي خرڅ شي۔ د نوټونو (کرنسي) د چاپ کولو پرېس هم دلته ده۔ د ډاکخانې محکمه هم اول دلته خزانې د محکمې دننه وه۔ صدر انډریو جېکسن د دې ملک اولنۍ پوسټ ماسټر جنرل وو۔

## ډیپارټمنټ آف سټېټ (Department of State)

دا محکمه د جنګ او امن دوارو وختونو کښې سرګرم عمل وي۔ څنګه چې دا قام د خپلو مفاداتو ژغورنه کوي، دننه او بهر د ملک د مفاداتو خیال هم ساتي۔

## سمیتسونین میوزیم او مال روډ

دا ځائې د خپل ملک بهر دنیا او نور کائنات د پېژندنګلو د پاره د خوند او د زدکړې یوه دنیا ده۔ سمیتسونین میوزیم کښې د ایجاداتو، patent، او د نورو مؤجدانو په باره کښې معلومات او تصویرونه وو۔ دې کښې د مشهور

سائنسدانان ایډیسن ایجاد کړې بلب، او نور ایجادات هم وو۔ د ایډیسن په باره کښې یوه قیصه مشهوره ده۔ چې یوه ورځ ده ته د خپل سکول استاذ یو لیکلے خط ورکړو چه مور ته ئې ورکړې۔ مور ئې د کتلو نه پس ده ته ووې چې استاد ئې لیکلي دي چې ستا زوئې دومره قابل ده، چې د ده د استعداد د برابر استاد زمونږ سکول کښې نشته۔ ده ته په کور سبق ښایه۔

داسې د ده د مدرسې سبق د نشت برابر وو۔ خو دی په دې دنیا کښې د ۱۰۹۳ نوي ایجاداتو موجد دے۔ کالونو پس د موردِ مرګ نه پس ده یوه ورځ د مور کاغذونه کتل نو هغه د استاد زوړ خط هم ورته مخکښې ورغے۔ خو د ایډیسن په سترګو کښې اوښکے راغلے چه کله ده وکتل چې کاغذ باندې لیکلي وو، چې ستا زوئې ډېر نالائقه ده۔ دې زمونږ سکول کښې نشي چلېدے۔ ده ته په کور کښې سبق ښایه۔ د مور هوښیاري او حوصلې وده ولو دی دې لوئې مقام ته اورسولو۔ ده بجلۍ، ټېلیګراف، او ټېلیفون وغېره کښې ګڼ ایجادات برسېره کړل۔

## د هوا او د فضا میوزیم (Air Space Museum)

دلته د رائټ wright برادرز د ایجاد کړې د هوائی جهاز نه واخله تر دې وخت فضا کښې الوتونکو جهازونو او د راکټونو نمونې پراتې دي۔ دلته د یو راکټ په یو خول کښې سېل ګر تقریباً یوې ګنټې د پاره په فضا کښې چکر لګولې شی۔ د سپوږمۍ او د نورو ستورو لنداره کولې شی۔ خو مونږ دې منظر د کتو نه محرومه پاتې شو ځکه چې په بیړه کښې وو۔

## ډاکټر مارټن لوتهر کنګ یادګار

د امریکې تور و حبشي اوسېدونکي د خپلې آزادی او یوشان حقوقو د پاره ډېرې ځچې او قربانیانې ورکړې دي او ورکوي ئې۔ اګرچه عدالت په 1896 کښې د دوئي په باره کښې دا فېصله اوکړه چې separate, but equal یعني بېل، خو برابر۔ د هارورډ Harvard یونیورسټۍ په تاریخي توګه صرف د تورو خلقو د پاره جوړه شوه۔ رېل، بسونو، او هوټلونو کښې به د دوئي سیټونه بېل بېل وو۔ د نسلي هم آهنګي او د انصاف دا منډې ترړې دغسې جاري وې۔ په دی هلو ځلو کښې د دوئي یو لیډر ډاکټر مارټن لوتهر

کنډې جونئیر د سپین پوستکو له لاسه په اګست 1963 کښې وژلې شو۔ د ده یو تقریر I have a dream زما یو خوب، د تاریخ په پاڼو کښې همېشه د پاره سوګه شو۔

## African Museum تور پوستکو میوزیم

دې میوزیم ته هم مونږ وردننه نه وتو، البته د دې مخکښې د سړک په غاړه یو ریړۍ ښما وېګن نه مونږ د خوراک د پاره څه حلال برګر واخستل۔ د میوزیم په دیوال ورته کښېناستو او په مزې مو اوخوړل۔ ماښام تیاره کېده او مونږ واپس راروان شو۔ په لار یو باغ کښې یو کرسمس ټري کښې بلا بلبونه روښانه وو۔ ځکه کرسمس رانزدې وو۔ دلته د کرسمس په شپې بلا خلق راغونډ وي او د امریکې صدر ورته کرسمس مبارکی او پیغام ورکوي۔ دا باغ شاید هغه مشهور پوټومېک ګارډن وو۔

په کال ۱۹۰۱ نه ۱۹۰۹ پورې تهیوډور روزولټ Theodore Roosevelt د امریکې صدر وو۔ اصل نامه ئې تهیوډور روزولټ وو خو بعض خلکو به ورته په مینه ټېډي روزولټ وئېله۔ ده خپل دور حکومت د ځنګلاتو او د باغاتو تحفظ conservation of forests & parks بل پاس کړې وو۔ او د دې په

سر دوه ځله د امریکې صدر جوړ کړې شو، چه ده په هر اوچت ځائې یو ښکلے پارک یا د ګڼو بوټو ځنګل کړلې، نال کړې او سوګه کړې دې۔ د ټیډي بئیر (teddy bear) اصطلاح دوئې سره منسوبه ده۔ د ده یوه وینا ده:

The nature behaves well if it treats the Natural Resources as assets, which it must turn over to the next generation, increased, and not impaired in value.

ترجمه: فطرت هله په جوبن شي کله چې قدرتي وسائل سره د قامي سرمايې په شان داسې سلوک کيږي چې راتلونکي نسل ته د انتقال په وخت دې کښې اضافه شوې وي، نه که د دې قيمت راپريوتې وي۔د راک کريک پارک (Rock Creek Park) په ۱۷۰۰ ایکړ زمکه ویر پروت ده۔ د صدر فرینکلن ټیډي صدارت په دولس کالونو خور وو۔

د واشنګټن ډي سي ښهر نقشه يو فرانسيسي انجنئير Pierre Charles L'Enfant پلان لاندې رانښکلې شوې ده۔ تقریباً د پوټومیک دریاب په غاړه د دې ټولو عمارتونو نقشه یوناني او رومن فن او طرز د تعمیر باندې سازې دي۔ دا انجنئیران نن د آرلنګټن تاریخي قبرستان (Arlington Cemetry) کښې ښخ ده۔ چې لار ورته د ورجینیا او د واشنګټن د مېن روډ نه ورغلې ده۔

واشنګټن ښهر ته Capital of Free World یعني د آزاد دنیا دارالحکومت هم وائي۔ د ابراهم لنکن د مقبرې د عمارت د ننه په یو خندق دیوال دا ټکي کنده دي:

This is a place to pause for a moment; As so many before you have done.
Reflect upon what Democracy, Freedom, Equality, and Justice mean to you.

ترجمه: دا ځائې تاسو یو ساعت د پاره د سوچ داسې موقع درکوی څنګه چې ستاسو نه مخکښې کسانو کړي دي، چې فکر اوکئ چې جمهوریت، آزادی، مساوات، او انصاف ستاسو د پاره څه معنه لري۔

سعید خان په کور کښې چې کومه ټي وي لګېدلې وه، هغې باندې به اکثر د امریکې ډِسکَوري چېنل لګېدلې وو۔ چې دوئ به ورباندې اکثر د مېکسیکو د سیمې د ځنګلونو او کورونو پروګرامونه چلول۔ د پاکستانی چېنل د پاره به ورسره اینډو ټي وي (Indo TV) یو سپېشل بکس به ورسره فِټ کول وو۔ او دا په د دوئي کور والاؤ د مدد بغېره به یو ګران اَمر وو۔ د دې نه پس به په دې زمونږ د ډان، ARY، وغېره چېنلونه لګېدل۔ سعید خان ذاتي توګه باندې د خپل د وطن خبرونه او نور پراګرامونه ګټل نه

خوښه ول، اګرچې په دې Jadoo TV به اول دا اشتهار راتلو: Stay connected to your culture، يعني خپل کلتور سره تړلي اوسئ۔ نن چې سحر مو ټي وي آن کړو نو ورباندې دا افسوس ناک خبر راغے چې د وطن يو نامتو سندر غاړې، نعت خوان، او مبلغ جنيد جمشيد د چترال نه د راتلو په وخت يو فضائي حادثه کښې په حق اورسيدو۔ إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّـا إِلَيْهِ رَاجِعونَ۔

مازديګر دوېم وخت سعيد خان په خپل ګاډۍ کښې يو ځل بيا د واشنګټن ډي سي ته بوتلو۔ سعيد خان سره دوه لوئې ګاډي دي۔ يو باندې د انشاء الله او په بل باندې د ماشاء الله بورډونه لګيدلي دي۔ دې د خپل عادت مطابق نن هم په تادئ (بيړه) کښې وو۔ يوه ګنټه وخت ئې را کړو، چې دا ميوزمان او يادګارونه په منډه اوګوره۔ مونږ هم په منډه د يو عمارت نه بل ته ننه وتو او وتو۔ يو ځل بيا نن د يو څو ورځې مخکښې ټلي زړو منډو باندې اوګرزيدو۔ خو افسوس چې په دې موقع زما يو ارمان چې نيشنل کانګرس لائبريري دننه نه اوګورم، پوره نه شوه۔

## شاه ولي خان بنېړے

دلته زه د بنېړ شاه ولي خان ذکر لږ په تفصيل سره کوم۔ دې سره زما اول ملاقات د ډي آئي خان په هېډ کوارټر هسپتال کښې شوې وو۔ د ده يو زوئې په ګومل مېډيکل کالج کښې سبق وی۔ دې سلسله کښې دی زما دفتر ته راغلې وو، او سعيد خان ته ئې په کلکه وئېلي وو چې کله ډاکټر صاحب امريکې ته راشي نو زه به ورسره ضرور وينم او ډوډئ به ورته کوم۔

نن دا شاه ولي خان سره د خپلې ښځې د سعيد خان کور ته راغلو۔ اوچت قد، د نظر چشمې په سترګو، وره وره ږيره، رو رو په تسلې خبرې، مجموعي توګه باندې يو سنجيده شخصيت حامل وو۔ اول واده ئې په خپل کلي کښې کړې وو۔ هغې نه ئې اولاد دې، دوه سپېشلسټ ډاکټران دي، د اولنئ ښځې د مرګ نه پس مور او پلار ورته دوېم واده وکړو۔ دا ښځه ئې د لاهور سيمې ده۔ دوئي کورانو نه مخکښې نه خانداني او روحاني تعلقات وو۔ دې ښځې نه ئې اولاد نشته ده۔ واده نه مخکښې يو سکول کښې استاده وه۔

شاه ولي خان والد صاحب يو عالم دين، حافظ قرآن او حافظ قرآن او حاذق حکیم وو. شاه ولي خان هم د شوګر د مرض یوه مجربه نسخه پخپله تیاره وي، ده وېنا وه چې زه سکول کښې استاد وم. د جغرافیه مضمون به مې ښایه. د دنیا نقشې او ګلوب ته مې به ډېر حسرت سره کتل او دا شوق مې وو چې دا ملکونه په خپلو سترګو اووینم. د دې شوق و جنون لاسه مې سکول استاذي پرېښوده. دا خیال مې وو چې دا شوق صرف د بحري جهاز په نوکري کښې پوره کېدې شي. د يو څو ملکړو سره د کوره ووتم. افغاستان، ایران، او د ترکي په لارو ډېرو تکلیفونو او د هڅو نه پس یونان ته اورسېدم. څه وخت ئې د امریکې د هوائي فوځ نوکري وکړه. د ریټائرمنټ نه پس اوس د سوشل سیکورټي په پنشن ګزاره کوي. وائي چې دومره پینشن راکوي چې زه او ښځه مې پکښې په آرام سره ګزاره کولې شو. خو د جدید اعلی تعلیم، خرچې پوره کولو د پاره اوس هم کار کوي. سحر ټېکسي چلوي، او دوېم وخت پیزه Pizza د يو دکان ته د خلقو کورونو ته رسوي. دې ملک کښې زمونږ د ملک مزدورکار خلق دا دوه کارونه کوي. د ټېکسي ډرائیوري یا بیا خلقو کورونو، دفترونو، او پلازو ته په آرډر پیزه pizza رسول، یا داسې نور معمولي کارونه. د کور

ښځې دلته په خپلو کورونو د بچو ساتلو کار babysitting کوي، ځکه چې دلته ښځې د نرانو په شان باهر نوکریانې کوي۔ داسې د ژوند ګاډۍ د یو ډېر مصروفه ژوند په توګه تېره وي۔ هغه ټول کارونه کوي چې خپل وطن کښې ورباندې کولو شرمېږي۔ ځکه چې دلته کار او مزدوره کښې عزت دہ۔ ټوله معاشره Dignity of Labour باندې پوخ یقین لري۔

**(۹ دسمبر ۲۰۱٦)**

نن مونږ بیا د جمعې لمونځ د پاره د مېکلین د سیمې په شېرنګټن هوټل په یو هال کښې یو عارضي فی الوقتی جماعت ته لاړو۔ د سعید خان ګواندي یو پخوانی بینک مېنجر کور ته د سعید خان کور والاؤ ټېلیفون وکړو، چې زمونږ مېلمه به تاسو نن جماعت ته بیائې۔ پته ولګېده چې مېنجر صاحب خو به دا وخت په ډیوټي وي۔ البته د دوئي زوئ به ورسره لاړ شي۔

تقریباً 11:45 بجې د خپل ګاډې زمونږ کور مخکښې اودراؤ۔ نیغ هوټل ته لاړو۔ هلته په دویم چت په یو حال کښې څه نراؤ ښځې ناستې وی۔ سړي مخکښې صفونو کښې ناست وو۔ مېنځ کښې د لرګي یو بېرئیر لګېدلې وو۔ د دې نه روستو ښځو، چې ډېرې په حجابونو کښې وې، خپل سنت او نفل

ادا کول. د جمعې نه مخکښې يو کس راغلو او د بې کوره شام د مهاجرينو خلقو د پاره د چندې اپيل وکړو. د چندې بکس باهر پروت وو. دې متعلق څه تحرير هم ورسره په مېز پروت وو. امام عربي يا افريقي ښکارېدو. انګرېزی کښې ئې د ابو سفيان او د هېراقل په مېنځ کښې ئې مشهوره مکالمه تېره وله. د مېنجر زوئې ډېر نېک، شريف، او ډېر تعبېدار هلک ښکارېدو.

**۱۰ دسمبر ۲۰۱٦**

نن سحر مونږ د يوې پلازې چکر اولګولو چې شايد نوم ئې Sporex Plaza وه. دلته د يو پاکستاني کرنېل چې په قام جنجوعه وو، سره ملاقات وشو. دې قسم پلازو کښې ځائې په ځائې د نمونې (سامپل) په توګه د خوراک څيزونه په وړو وړو سټالونو مفت په لږ مقدار کښې تلونکو راتلونکو کسانو ته څکلو او خوړلو ته درکوي. او ما ته د يو پاکستاني ماشوم هلک قصه رایاده شوه. مور او زوئې د سحر نه نحر ګرزېدل. مور خو ئې شرمېده خو ماشوم زوئې به په داسې مفت ويشونکي سټال ته اودرېدو او په سټال ولاړ هغې ښځې يا سړي ته لاس اونيوو. خپله برخه اخستلو نه پس به ئې يو ځل بيا هغه سټال وال ته په دې خواست سره

لاس ویړ کړو، One for my Mama please (ترجمه: مهرباني وکړه یو خو زما د مور د پاره هم را کړه)۔ ورسره زما د سترګو نه اوښکې رواني شوې خو ولې؟ هغه ماشوم سره زما څه رشته وه؟ انسانیت او که د وینې؟

د ماسپښین د لمانځه د پاره د دې ځائې اسلامک سنټر ته لاړو۔ ښځو او د نرانو د پاره د اودس چاردام او د لمانځه د پاره بېل بېل ځایونه او هالونه وو۔ د معذورانو د پاره د ټېک د سهارے د پاره د فلَش په دواړو طرفونو د اوسپنې دوه هېنډلونه لګېدلي وو۔ دلته یو بوډا مشر مخته راغے۔ چې شاید د سنټر خدمت ګار وو۔ وې ئې چې د کراچۍ ښهر یم۔ چې نن صبا د شېطان خویه ترهه ګرهو له لاسه یرغمال ده۔

## Santa Claus سېنټه کلاس

شپې د سېنټې کلاس santa claus جلوس زمونږ د کور مخکښ تېرېدو، د موسیقۍ د سرونو او آوازونو سره۔ ماشومان ورته ډېر خوشحالېدل۔ څنو کورونو ته به دا سېنټې کلاس د ماشومانو د خوشی د پاره ور دننه وتو او دوٸ ته به ئې تحائف هم ورکول۔

## ۱۲ دسمبر ۲۰۱۶

شاه ولي خان بنېرےډېر د کار سړے وو۔ لوظ ئې راسره کړو چې نن يعني په دولسم دسمبر به دې د امريکې د ملک بنسټ کېښودونکي جارج واشنګټن کور ته بوځم۔ جارج واشنګټن دلته د ريټائرمنټ نه پس ژوند پاتې ورځې شپې د خپل جاګير د زمکو کروندې کار کولو او ورسره به ئې ورسره نزدو بهېدونکې درياب نه ماهيان هم نيول۔ خو د بد قسمتۍ نه دا ورځ د موسمياتو د محکمې دا پېشبېن ګوئي وکړه چې نن به برف باري وي۔ داسې پروګرام خو وځنډولې (ملتوي) شو او زما موډ هم خو هغه وخت ډېر بې خونده شو چې نه باران او نه ژلۍ او ورېده۔ د قدرت کارونو دي۔ څوک څه وېلې شي خو شايد موسمياتو محکمې والاؤ دا پېشبېن ګوئي چرته د ورجينيا د لوئې رياست بلې برخې په باره کښې کړې وو او مونږ ته انتباه کوونکي دا خبر نيم ګورې غلط اورېدلې وو۔ مونږ پام غلطولو د پاره نزدې د يوې پلازې په چکره ووتو۔ په آسمان روڼ نمر ځلېدو۔

# د جارج واشنګټن کور (Mount Vernon) مونټ ورنون

**۱۳ دسمبر ۲۰۱۶:** نن مونږ سعید خان ورجینیا کښې د ماونټ ورنن په سیمه کښې د جارج واشنګټن د ذاتي کور د کتو د پاره روان کړو۔ د نمر رڼا ښه په جوبن کښې وه خو یخه سړه سیلۍ هم د سینو نه پورې راپورې وته۔ خېر د ده ګاډي دننه نه تود وو۔ د پوټومک دریاب په غاړه په یو هموار او صفا سړک مو دا مزل لنډولو۔ دریاب کښې ځائې په ځائې ایلئې (مرغابۍ) نیمه ښکاریده۔ د دریاب په غاړه په دواړو لورو د چېري بوټي په ګڼ شمېر کښې ولاړ وو۔ موسم چونکه د ژمي وو، دې د پاره دا بوټي هم جینجر wrinkled، زېړ، او مرجوړي withered وو۔ سعید خان وے چې د بهار (سپرلي) په ورځو کښې د دې بوټو ویالي، خوشبوئي، او شین والې په جوبن کښې وي او د فطرت دا فیاضی د کتو او د سبحان الله د ورد وړنا وي۔

دواړه ګاډي مو په پارکنګ ایریه کښې ودروله او تقریباً په منډه او تېز تلک سره مو د جارج واشنګټن د کور سیمې ته ځان اورسوه۔ تېزه یخه سیلۍ مو د سینې نه پورې راپورې وتله۔ فاصله کافي وه او دلته ما قمیص پړتوګ او

هغه پاس يو جيکټ مې اچولې وو. خېر په سر مې يوه ګرمه ټوپۍ وه چې دواړه غوږونه مې ئې پټ کړي وو. دې سخت موسمي حالاتو کښې بنده پوه شي چې د امريکايانو نر او ښځې او بچي همېش ولې په منډه وي.

جارج واشنګټن د هر قسم د بوټو او د سبزي د کرلو شوقين وو. دې کښې د مالټو، د پام، او نور د استوائي equator بوټي شامل وو. د بحر په يخنۍ کښې لويول او پالن ګران وو. دې د پاره موصوف يو سپېشل عمارت جوړ کړې وو، چې يخنۍ کښې د اوسېدو وي. دا به ګرم وو او رڼا د پاره پکښې لوئې کړکئ وې. د کور ته مخکښې په يو پلاټ کښې په څلور طرفونو ته د چېري بوټي کرلي وو، چې يخنۍ نه د بچ ساتلو د پاره وربانديې د پلاسټک څادر غوړېدلې وو. څه ئې پکښې ترلي وو خو د يخنۍ په وجه شايد لا سم زرغون شوي نه وو.

خېر سعيد خان ننه تلو د پاره ټکټونه واخستل. او يو لوئې ګېټ نه د بلډنګ ته ورننه وتو. دا عمارت دوه چتيز ده. دا د لرګيو د داسې لوئې تختو نه جوړ دے چې د کاڼو په رنګ لګي. د بلډنګ په سر يو باد نما هم لګېدلې دے چه ګرميانو کښې به ئې د عمارت نه تود باد ايستو، او د هوا رُخ به ئې هم ښودلو. د دې شکل داسې لګي لکه چې يوې ببوغې

(فاخته) خلې کښې يو ښاخ (د بوټي، شايد د زيتون بوټي څانګه) نيولې وي چه د امن نشانې ده۔

اول يوه لويه ګېلري راځي۔ خلقو وے چه دلته د پاکستان پخواني صدر فيلډ مارشل ايوب خان يو فوټو لګېدلې دې۔ خو ما اونه ليدو۔ سعيد خان وې چې دوئي اوس دا لرې کړې دے۔ حقيقت دا ده چې هغه وخت پاکستان د امريکې د اقتدار واکمنو د سترګو تور وو۔ او پاکستان صدر ته ئې د امريکې د دورې په وخت خاص قدر او عزت دوئي ورکړې وو۔ خو اوس حالات هغه شان نه دي او دواړو ملکونو په تعلقاتو کښې سړ دوخې راغلې ده۔

يوه کمره د مېلمنو سره ملاوېدو د پاره وه۔ داسې په يوې کمرې کښې يو ډاَس شان ښے دې چې جارج واشنګټن به ورباندې په لاس په کاغزونو ليکل کول۔ ده په زړګونو شمېر کښې خطونه ليکلي دي۔ چې ريکارډ ئې په دې فارم کښې پروت دې۔ د ليکلو د پاره ما يو د مرغ زرين د پر لرونکے قلم Quill په کار راوستلو۔ دې خطونو او فارم باندې پېښېدونکو واقعاتو د ريکارډ سنبالولو د پاره ده يو کلرک ساتلې وو۔ کلرک به د ليکلو

نه پس ډرافټ ده ته ښودلو. د تصیح او دوباره د نقل کولو نه پس به ده آخر خط دستخط کولو.

یوه کمره چې smoke house به ئې ورته وې، په دې کښې به د غوښې اوږدې د ټخنئیو strings جوړلو نه پس په مالګې او مصالحې کښې د لړلو نه پس د اوچېدو د پاره د کونډو hooks سره آوېزان کولې شوې. لاندې نه به د اور لوګې ورتلو. داسې به غوښه تر ډېره موده محفوظه ساتلې شوه ځکه چې پخوا وخت کښې فریجونه خو به وو نه. زمونږ د ماشوموالي په زمانه کښې به هم غوښه داسې د ټخنئیو په شکل کښې د لمر په ګرمي او تودوالي ایښودلې شوه او داسې په میاشتو میاشتو د پاره سوکه ساتلو طریقه مروجه وه. کوچیان اوس هم دا طریقه د دې مقصد د پاره په کار راولي.

دې کور کښې د مالي، ترکاڼ، و پش او د غلامانو د کار او د اوسېدو کمرے دي. باورچي خانه د دې نه علاوه ده. مالي او د ترکاڼ په کمره کښې هغه د زړې زمانې اوزار او آلات لکه آره، کدال، رمبې، او د اور بنئې Fire Bellow د نمونې په توګه پراته دي. د جارج واشنګټن د درې سوؤ نه زیات غلامان (نر او ښځې) لرل چې د ده په باغ او پټو کښې کار کولو. د کور په یو لور د موصوف د کورنو غواګانو، ګډو بیزو، اسپو،

نچرو، او د سؤرانو pigs د ساتلو د پاره يو لوئې بارِ لګېدلې مېدان وو۔ د مېن عمارت د څناورو نه د لرې ساتلو د پاره يو ټيټ ديوال وو چې نا بلده بنيادم په بې پامي کښې د غورزېدو موجب هم وو۔ ځکه به ئې ده ته ها ها ديوال (ha ha wall) هم وے۔ زوره ور قام ده چې د دې غلامانو په ياد کښې يو يادګارى مينار هم ساز کړې دے۔ د دې غلامانو ژوند او خدماتو ته يوه پېرزونه ده۔ ورباندې ليکلي وو: Faith, Hope, Love (ايمان، اميد، او مينه)۔ هغه زمانه کښې د سورلې او د تګ راتګ د پاره موټر، ټرېن، جهازونه، عن چې سائکل هم ايجاد نه وو۔ اس د سورلې د پاره يوازې ذريعه وه۔ صدر صاحب په دغه وخت د ديارلسو کالونيو د دورې د پاره د اس سورلئ چې روستو به ورسره سامان او د نوکرانو د پاره شايد د يوې بګئ په شان ربړه ترلې وه۔ دې د سورلئ ذرائع د سمبالولو د پاره يو استبل ئې جوړ کړې وو۔

مونټ ورنان د جارج واشنګټن ذاتي نيکنى لوئې جاګير وو۔ دا جاګير په پينځه فارمونو وېښلې شوې وو۔ چې ورباندې به د غنمو، د غلې، او د تماټرو کرونده کولې شوه۔ د کروندې اوزارو لکه د اېوې، کرزو، ترنګول، او د تبر وغېره د مرمت د پاره دې خپل يو ورکشاپ جوړ کړې وو۔

ما د خپل لار ښود انګرېز نه پته اوکړه چې جارج واشنګټن د ریټائرمنټ نه

پس د آمدن ذریعه کومه وه؟ او ده دا ښکلې کور په کوم آمدن تعمیر

کړې وو؟ دا د یو پاکستاني د ذهن سوال وو چې معاشره کښې ئې کرپشن

او نور د ناجائز آمدن ذریعې هم وې، اول خو زمونږ ګائیډ په دې سوال

پوه نشو، خو چې په څو طریقو سره ما ورته د خپل سوال وضاحت وکړو نو

هیله پوئې شو۔ وئېل ئې چې ده به د خپل آبائي ذاتي جاګیر د فصلونو په

خرڅولو او دریاب کښې د میانو په نیولو باندې ګزاره کوله۔ داسې هم

کېدې شي چې پنشن ئې هم وو۔ د کور د لانډني برخه د کتو نه پس

مونږ دوېم چت ته په پاوړو اوختو چرته چې د ده د لماسټي کمره او د ذاتي

استعمال څیزونه وو۔ یو ساده ډبل بېډ باندې به دې او د ده ښځه

سملاسټل۔ د ده اولاد نه وو۔ ښځه ئې د ده مرګ نه پس څه د پاسه دوه

کاله ژوندئ وه۔ بیا هغې د کور ډېر څیزونه په وراثت کښې د ده وراره

ته پاتې شو۔ هغه شاید لا ولاده وو او داسې ډېر ملکیت یوه تاریخي ورثه

اوګرزولې شوه۔ د دې نګراني د ۱۸۵۸ نه د ماؤنټ ورنان لېډیز ایسوسیشن

نومې اداره کوي۔ هم د دؤی ذاتي ملکیت ده۔ دا سوسائټي هیڅ قسم

حکومتي فنډ نه قبلوي۔ د سېلګرو د داخلې په پېسو هلته یادګاري څیزونو

په خرڅېدو، ورسره په پرائيويټ ورکړو باندې د دې سوسائيټۍ د تعليم او عمارت د سنبالښت مشن روان دے۔

آخر يو هال ته ننه وتو۔ په بېنچونو کښېناستو۔ دلته د جارج واشنګټن په ژوند او کارنامو يو فلم چلېدو۔ د فلم اولنۍ برخه مو وکتله او د دويمې برخې د تماشې نه مخکښې د هال، او بيا د کور عمارت نه باهر اووتو۔

د جارج واشنګټن مقبره هم دلته د ماونټ ورنان په زمکه ده۔ خو دې د کتو د پاره د يخې سينې خېرونکې سيلۍ په وجه نه لاړو۔ خو رشتيا خبره دا ده چې دا عظيم شخصيت د امريکې انقلاب سردامئې commander او د رياست هائ متحده امريکې اولنې صدر وو۔ هر کس دې خوښه ولو او د ده عزت او قدر کولو۔ يو ليکوال ډېر ښه ليکلي دي:

George Washington was first in war, first in peace, and first in the hearts of his people.

مطلب دا چې جارج واشنګټن په جنګ، امن، او د خپلو خلقو په زړونو باندې راج کؤلو کښې مردِ اول وو۔

**۱۸ دسمبر ۲۰۱٦:** نن سحر وخت د ډلاس مال ته د سودا کولو د پاره لاړو۔ او تاسو ته پته ده چې د دې قسم ځایونو د یو ځل د کتو نه پس نور دلچسپي نه اخلم۔ خو د ښځو د خوښې خاص ځایونه وي۔ سودا ډېره اخلي او که لږ، خو هر څه ډېر په شوق سره ګوري او وربانديې ټېټ لګېدلي نرخ خامخا ګوري او بیا وربانديې په ګنټو بحث کوي۔ خو ما ته خاص دا فائده اورسېده چې مال کښې پښې وغوړولې ځکه چې د څو ورځو نه په خپل کور کښې بندیوان وو۔ چکر سره د باهر دنیا نماشه هم اوشوه۔

# د نسیم ستانه زئ کور

نسیم خان ستانه زئ هم د سعید د احباب په حلقه کښې دے۔ وائس آف امریکه VoA کښې د ترجمان په توګه کار کوي۔ د ده خوابښې حق رسېدلے وه۔ د هغې د لاس نیوي د پاره ورغلي وو۔ رشتیا خبره دا ده چې ښه خدمت مو ئې وکړو باوجود د دې چې نسیم خان ځاني په کور نه وو کار پسې تللې وو۔ دې د باجوړ استانه زيې دے او ښځه ئې د ننګرهار مهمنده ده۔ ټول اولاد زامن او لوڼه ئې ډاکټران او نور ښه تعلیم یافته دي۔ هسې خو خانداني مذهبي کورنۍ ده، خو ښځې ئې وې چې نسیم خان نن

سبا تبليغي جماعت په لور مينه او رجحان زيات شوي دے۔ ما هسې په خندا کښې ووې چې ولې د تبليغ مرض اوس تاسو په لور افغانستان کښې خور شوې دې۔ دې ووې چې مونږ خلقو خو ايله شفاء وموندہ۔ د تبليغ د کمی په وجه خو مونږ د دين تعليمات نه خبر نه وو۔ ځکه په افغاستان دا لوئې آفت راغلو۔ ما وې بې شکه۔ او نه ليدلي نسيم خان په باره کښې مخکښې نه محتاط شوم۔ د شپې ډوډۍ مو د باجوړ د يو ځوان بيان الحق کور کښې وخوړه۔ دې هم د باجوړ دې خو دا وخت په کور نه وو ډيوټۍ ته تلې وو۔ د ده په شخصيت به که خبر وي روستو خبره کوم۔

# شاه ولي خان بنړي سره چکر

**۱۹ دسمبر ۲۰۱۶:** ما د امريکې د کانګرس لائبرېري دننه نه د کتلو او دې لائبريري ته خپلې دوه کتابونه د سوغات کولو شوق ډېر وو۔ دغسې د انګلينډ په سفر کښې جې دوه ځله برټش ميوزيم او د انډين ريکارډ لائبريري د کتلو چانس د پاتې کېدو ارمان مې نن هم په زړه يو داغ ده۔ ما سوچ کولو چې که اوس مې هم کانګرس لائبريري دننه تلو موقع له لاسه لاړه، نو باقي ټول عمر به مې دا ارمان وي۔ سعيد خان او د ده

کوروداني ته هم ما روز وې چې دا پروګرام جوړ کړی خو دوئي به د خپل کارو نه نه فارغېدل. هسې هم سعید خان او د ده ملګرو ترجیحات ما نه بېخي بدل وو. د واشنګټن په اول سېل په آخر کښې د سعید خان ټبر زما لاس هم اونیوو چې رازه چې د لائبریري عمارت د بهر نه خو درته اوښایم. خو دا ساعت ډېر ناوخته وو. واپس ورجینیا ته تلل هم وو. او زه ډیر ګرځېدو په وجه ستړې هم وم.

خېر، هغه خپل بنېرې شاه ولي خان آخر په کار راغې. وې ئې چې زه اکثر پېره د لائبریري سټاف ته ورځم او ښه بلد یم. ما د خدائې پاک شکر ادا کړو چې زما دعا ئې قبوله کړه. سحر شاه ولي خان راغےاو زه ئې د واشنګټن په لور روان کړم.

## د شاه ولي خان وزیر جنرل سټور

شاه ولي خان په قام وزیر ده. د جنوبي وزیرستان اوسېدونکے دے. د کابل نه ئې د ډاکټر آف مېډیسن ډګرۍ تر لاسه کړه. بیا ئې د روس لاره ونیوه. هلته نه ئې هم د تخصیص specialization درجه حاصله کړه. سمې ګټې او څه نورو وجوهاتو په بنا دلته واشنګټن ته راغلو. د امریکې

حکومت د خپلې درجې امتحان FSMLE نه سوا په خپل ملک کښې د سروس او د پرائیویټ پریکټس د پاره نورو ملکونو ډګرۍ نه مني۔ وزیر شاه ولي خان دا امتحان پاس نه کړې شو۔ دلته ئې د امریکې رنګینانو او ډالرو پښې اونیولې۔ او هم دلته د واشنګټن جنوبي مشرقي سیمه کښې ئې یو جنرل سټور راونیولو۔ د واشنګټن دا سیمه دوه ځائې وېشلې شوی ده۔ د جنوبي ایسټ او جنوبي وېسټ علاقه په مېنځ کښې ئې یو لوئې سړک دې۔ دلته په جنوبي ایسټ کښې د افریقې د تورو خلقو اکثریت دے۔ او د شوکو او د غلو په وجه یوه خطرناکه او غېر محفوظه ځائې ګڼلې شي۔ دې جنرل سټور کښې د بنېر شاه ولي خان هم ورسره لږ برخه ګډه کړې ده۔ بنېري صاحب ما ته وې چې زه ده سره څه حساب کوم او زه ئې د سټور په اندروني برخه کښې په کرسئ کښېنستولم ـ د سټور مالک وې چې دې خپله د سعید خان د کور سره نزدې سیمه کښې اوسېږي۔

دې منځ کښې یو عرب په خپل مخصوص لباس کښې دکان ته راګډ شو۔ او وزیر صاحب نه ئې د پرفیوم (عطر) دوه بوتلې وغوښتې۔ ده ورته بوتلې مخکښې کېښودې۔ عرب ولنه د ریټ تپوس وکړو۔ ده ورته څه ریټ وښودو۔ خو عرب ورته ووې چې فلاني دکان کښې خو دا د دې

نه په کم ربته خرڅېږي. وزير شاه ولي خان سمدستي دا بوتلې د ده د مخ اوچتې کړې او په ډېر ستوخ انداز کښې ئې ورته ووې چې ورځه بيا د هغه ځائې نه ئې واخله. عربي لاړو او شاه ولي خان وزير ما ته راغے وې ئې چې زه د عربو او د تورو خلقو نه ډېره کرکه کوم. که دا خلق نه وې خو نور نور د امريکے اوسېدونکي ډېر ښه خلق دي. اوس دې عربو ته ګوره، ارب پتي سړې به وي، خو په ربټ به دکان کښې راسره خامخا لانجه کوي. بد خويه او بد خولې خلق دي. ما ورته وخندل او ځواب کښې مې ورته ووې چې مصطفی کمال اتا ترک ته منسوب يوه وېنا ده:

Nothing good came out of Arabia except Muhammad PBUH and Quran.

يعني عربو دنيا ته د حضرت محمد ﷺ او د قرآن نه سوا نور سوغات نه دې ورکړې.

داسې د افريقې د تورو خلقو په باره کښې د يورپ سپين پوستکي پوهان ليکي چې دا خلق له بيزوګي (chimpanzee) نه د انسان جوړېدو په ترپ کښې لا په درېمه لاندېني پاوړۍ ولاړ دي.

شاه ولي خان وزير دې دواړو وېناوه نه ښه محفوظ شو. خو روستو ما ته خيال راغے چې علامه مشرقي به ټانګې وال سره د ربټ د کولو په لړ

کښې دومبره لب جب کولو چې په ټنډه به ئې خولې راغلې۔ او وې به ئې چه دا زه یو حدیث شریف باندې عمل کوم۔ نور والله علم۔ نېک ګمان دا ده چې عرب هم شاید په دې حدیث د پاک حبیب ﷺ سنت باندې د عمل کوښښ کوي۔ دې کښې د ودان او د غریب شرط او قد غن نشته۔

راتلو کښې شاه ولي خان بنېري درې سېنټ (عطرو) بوتلې اوچتې کړې او ځان سره ئې کېښودې۔ د ده د کور نه رخصتېدو په وخت دا فرفیوم بوتلې مونږ ته په تحفه کښې راکړې۔ خپل کور ته چې څه وخت راغلو نو د دوئي په ګلو باندې د سعید خان کور ودانې دا ووې چې دا سېنټ مونږ په خپلو غسل خانو کښې څنړکاؤ د پاره په کار راولو۔ نېز ما ورته ووې دا عیاشي د امریکې په ډالرو کېدې شي۔ مونږ به ئې پاکستان کښې د یادګېرنې په تحفه کښې چا یار دوست ته ورکړو۔

# د امریکې کانګرس لائبریري

شاه ولي خان زما لار ښود ملګرې او کوربه ما ته ووې چې زه به تا د کانګرس لائبریري په شا پروت سړک باندې شاته دروازه back door سره

کوز کړم. زه دلته په مېن سړک نشم اودرېدے ځکه چې ټرېفک د قانون خلاف ورزي ده. امریکې ټرېفک پولیس به پرچه راکړي. یوه ګنټه مهلت ما ورنه واخستو. ده وې چې زه به هم ګنټه پس هم دې ځائې ستا انتظار کوم.



د کانګرېس لائبرېري جېفرسن عمارت يو انځور

د کانګرس لائبريري درې کافي لوئې لوئې عمارتونه دي۔

1. جفرسن لائبريري (Jefferson Library)

2. ايډم لائبريري (Adams Library)

3. مېډيسن لائبريري (Madison Library)

دا درې واړه عمارتونه د امريکې د دوېم، درېم، او څلورم صدور په نومونو سره نومولي شوي دي۔ د يو بل نه په لږ فاصلې او مخته روسته پراته جوړ

دي۔ په مېنځ کښې ئې درې سرکونه د تکون په شکل کښې تېرېږي۔ ما په يو کتاب کښې لوستلي وو چې د لائبريري مېن دفتر په جفرسن لائبريري کښې دې۔ خو شاه ولي خان د خپل روزمره معمول په بنا په دې خبره اړم وو چې مېن دفتر په مېډيسن لائبريري کښې دے۔ خېر، زه ئې مېډيسن لائبريري په روستني دروازې back door په سرک کوز کړم، او دې رانه مخکښې روان شو۔ ما خپل همسا واخسته۔ دا عمارت په اوچت ځائې وو او يو څو پوړئ ورختلې وې۔ په دې پاوړو اوختم۔ دلته يوه دروازه وه چې ورباندې انلېټ inlet ليکلي وو۔ خو څه خبر ووم چې د پيزې د ډېليور کولو دروازه د سېلانيانو د دننه کېدو دروازې نه بېله وي۔ يو دم راباندې په حکميه اوچت رعبدار آواز کښې غږ وشو stop (اودرېږه)۔ زه لږ اوترسېدم چې دا آواز د کوم ځائې نه راغلو۔ بره ښکته او که د يو طرف نه۔ خو ښه وه ساعت پس آواز راغے۔ Come through the Front door (د مخکښني دروازې نه رادننه شه)۔ زه په پاوړو ښکته کوز شوم او جائزه مې اخستل پيل کړل چې د دې لوئې بلډنګ مخکښني کېټ په کوم لور کېدې شي۔ دې منځ کښې زما روستو يو چيني راغلو۔ په پاوړو اوختو او هغه څه حرکت ئې وکړو خو زر راواپس شو۔ شايد چې

هغه هدایت ده ته ورکړې شو اوس دې مخکښې او زه روستو۔ د بلډنګ یو اوږد چکر مو اولګولو۔ او د خېره مخ د لور لوئې ګېټ باندې ورننه وتو۔ ما د معلوماتو ورکولو ډېسک باندې ناست کس ته خپل غرض بیان کړو۔ هغه راته ووې چې ته غلط ځائې ته راغلې ئې۔ داسې وکړه چې جېفرسن لائبرېرې ته لاړ شه۔ ما هغه نه پوښتنه وکړه چې د جېفرسن لائبرېرې لار کوم خوا ده؟ زه دې ځائې بېخي نا واقفه یم۔ ده ووې واپس په ګېټ اووزه او ګس لور ته لاړ شه۔ د سړکونو د کراس نه پس ستاپ باندې مېن سړک کراس کړه۔ مخامخ د جېفرسن لائبرېرې مېن ګېټ دے۔ د بنېرې په هدایت د عمل کولو په وجه زه حېران پرېشان د جفرسن لائبرېرې ته باهر ووتم۔ سخته یخه سیلئ چلېده۔ او زه چونکه په قمیص پړتوګ کښې ووم، دې د پاره مې یخني ډېره کېدله۔ او ټېلیفون موبائیل هم راسره نه وو چې شاه ولي اللّٰه یا کور سره مې رابطه نیولې وه۔ جېب کښې ډالرې هم نه وې چې واپس کور ته مې ټېکسي نیولې وې۔ د خدائے پاک په توکل په ګس لور روان شوم۔ هلته په چوک یو تور حبشي د ټرېفک سپاهي ولاړ وو۔ ما ده نه د جېفرسن لائبرېرې تپوس وکړو۔ خو هغه هم په زوره لهجه کښې ووې Wait (وار وکه)۔ دې کښې یو د ټرېفک جیپ

راغے۔ شاید چې د ده څوک افسر وو۔ ده څه خبره ورسره وکړه او دلته زما زړه کښې تشویش ناکې تلوسې راتلې۔ خدایه پاکه ! پاسپورټ مې هم په جیب کښې نشته۔ داسې نه چې د ترهه ګرئ شک کښې مې د ګوانتانامو جېل ته نه اورسوي۔ خېر خدائې پاک کرم وو۔ سپاهي واپس راغے او دې ځل ئې پسته لهجه کښې دا هدایت راکړو، چې په شنه بتئ دا سړک کراس کړه۔ او مخامخ او لږ په ښئي لاس جېفرسن لائبریري ده۔ په کراس چې کله یو څو ښځې او سړي راغونډ شو نو بتئ شنه شوه نو ما هم ورسره سړک پار کړو۔ هم دغسې چل مې مخامخ ښئي لاس سړک کراس کولو د پاره وکړو۔ په مېن ګېټ وردننه شوم خو دلته یوه بله د خطرې ګنټۍ اوټنګېده۔ د چېکنګ ګېټ باندې ټنګ ټنګ شو۔ زه اودرېدم او روستو مې وکتل۔ خېر حفاظتي عملې یو کس ووې په مخ ځه۔ دا څه تکنیکي غلطۍ ده۔ ما د معلوماتو د کاؤنټر پته اوکړه۔ هغوئي ووې ښکته ده او د پاوړو په لوري ئې اشاره وکړه۔ زه هلته ورغلم او تړې او ستړې دواړه وم۔ ما په کاؤنټر information desk باندې ناستې دوه ښځو ته ووې چې زه د ډېر لرې وطن راغلې یم۔ تاسو د پاکستان نوم اورېدلې دې؟ وې چې هو هو مونږ درته هرکلے وایو۔ نو زه ستړے او تږے او بوډا یم۔ اول ما ته یو

غرېپ (کوټ) اوبه را کړئ۔ اوس زه ستاسو په واک يم۔ ما دا دوه د پښتو کتابونه راوړي دي۔ زه ئې ستاسو لائبريري ته سوغات کول غواړم۔ دوئي اووې چې مونږ ستا سترېا او د مينې قدر کوو۔ دې مخامخ نلکې نه اوبه اوڅکه۔ بيا دا يو فارم ډک کړه۔ ما فارم ډک کړو۔ او دوئي يوه توره ښځه راسره روانه کړه۔ هغې يو دفتر ته بوتلم۔ هلته هم دوه سپين پوستکي ښځې ناستې وې۔ هغوئي ما سره راتلونکې لار ښود ښځې ته ووې چې ته ورځه باهر انتظار کوه۔ او دروازه ئې بند کړه۔ ما ورته ووې چې زه ستاسو د اردو او د پښتو سېکشنونه دواړه کتل غواړم۔ دوئي اووې چې پښتو کتابونه د سنټرل ايشيا په سېکشن کښې دي۔ او اردو د هندوستاني ساؤت ايشيا سېکشن برخه ده۔ دا د يو بل نه لرې لرې دي۔ ما زړه کښې ووې چې دوئي هم وېش صحيح نه دې کړې۔ شېر شاه سوري خو ډېر پخوا پښتو ته د سنټرل ايشيا پر ځائې د هندوستاني ژبو سره ځائې ورکړې دې۔

خېر دوئي دا هم ووې چې د پښتو برخې انچارج يو يوسف زي دې۔ او نن صبا ئې چټئ ده۔ يو ايراني د پارسي سره د پښتو سېکشن هم انچارج ده۔ دوئي ټېليفون اوچت کړو۔ چا سره ئې خبره وکړه۔ لږ ساعت کښې يو

مندري فربه bulky ځوان راغې او د خوش آمديد ټکو وېنا سره ما سره ډېره په مينه جوړ تازه وکړل۔ وې ئې چې اصلاً ايراني يم خو پېدا دلته يم۔ په هندوستان کښې څه موده پاتې يم او اردو باندې پوهېږم۔ زه ډېر خوشحاله شوم۔ ما خپل کتاب باندې ليک د علامه اقبال انتساب دوه اشعار ده ته اوښودل۔ ده په لږ تکليف سره دا الوستل۔ ما ورو ورو د کتابونو د نومونو ترجمه ورته انګرېزۍ کښې وکړه نو دې سم ورباندې پوهه شو۔

1. د سکاټ لېنډ سېل سفر Travelogue of Scotland

2. د استاذانو لعل کتي لعل Gems and false Gems of Teachers

د بند دروازې روستو هغه مخکښني توره ښځه ولاړه وه۔ خو دا منځ کښې يوه بله واقعه وشوه۔ يوه انګرېزه په منډه راغله او زه ئې د مټ نه کلک ونيولم۔ حېرت او د وېرې په وجه زما د خولې نه ووتل What happened again يعني بيا څه اوشو؟؟ دې ووې چې فلانې ستا سره خبر کول غواړي۔ او يو موبائيل ئې په لاس کښې راکړو۔ د هېلو hello په ځواب کښې د سعيد خان د ښځې آواز راغلو۔ اوس هيله زما حال ځائې ته راغلو۔ قيصه دا وه چې د سعيد خان بيګم صاحب اصل نوم بيل دې۔ خو مونږ

ورکوټوالی نه ورته یو نِک نېم nick name اخلو۔ زما زهن کښې دا فرضي نوم وو۔ ما ورنه تپوس وکړو چې تا زه په دې لوئې بلډنګونو کښې پېدا څنګه کړم؟ دې ووې چې شاه ولي لا ستا پسې ګرځي۔ هغه په ټا کلي ځائې ته او نه لیدے نو ما ته ئې ټېلیفون وکړو۔ ما مېډیسن لائبرېرئین ریسېپشن ته ټېلي فون اوکړو۔ هغوئي وې حلیه ئې څنګه ده؟ ما ورته وې قمیص پړتوګ کښې ګرځي او عېنکې ئې په سترګو دي۔ هغوی ووې چې هغه خو مونږ جېفرسن لائبرېري ته واستلو۔ چې جفرسن ته مې ټېلیفون وکړو نو هغوئي سمدستي ووې چې هغه خو اوس دلته ګرزېدو۔ او دا ده دې کار کونکے انګرېزې ته پېدا کړې۔ ستا به نور څومره وخت لګي؟ بیا به شاه ولي ستاسو ته په روستي ګېټ انتظار کوي۔ زه خو لا خپل مطلوبه سېکشن ته هم نه یم رسېدلے۔ خېر اوس نوره خبره پرېږدم نیمه ګنټه به نور لګي؟ تورې ښځې، سره د ایراني یو بل دفتر ته بوتلم۔ هلته ناستې انګرېزی ما نه په ډېره مننه دا کتابونه تر لاسه کړل۔ وې ئې چې رسید به په دې ډک کړي فارم په پته زر تر اورسېږي، خو دا کار باندې هم درې میاشتې اولګېدے۔ شاید د یوسف زئ چټئ نه د راتلو انتظار وو، یا کېدې شي کتابونه د تفتیش مرحلے نه تېرېدل۔ خېر تورې ګائېډ ما نه تپوس وکړو چې

د اردو سېکشن ته به هم ځې او که نه؟ ما ورته ووې چې زه دلته نا بلده يم ما اوس زر د روستني ګېټ نه باهر اوباسه، بس دومره ډېره وه۔ دې اوخندل اووې چې ما پسې راځه۔ د اوږدو اوږدو کوريډورز نه تېرېدو نه پس روستني ګېټ ته اورسېدو۔ دی خپل تعارفي کارډ را کړو۔ او لوئې ګېټ يو سنتري خلاص کړو۔

په لار دې ما نه د ټيليفون کال په لړ کښې تپوس وکړو ما ورته ټوله قيصه تېره کړه۔ چې دا قميص پرتوګ ټول رياست کښې زما امتيازي نخښه ده۔ زه ورکېدے نشم د خدائے پاک په فضل۔ دې ډېر وخندل۔ ما ورنه تپوس وکړو ستا نيکونه د افريقے د کوم ملک نه راغلي وو؟ دې ډېر فخر pride سره ووې زه نن بس فقط امريکنئ يم۔ زه دې بريڼ واش او د يو قوم والي خيال او نظرئې ته حېران شوم۔ لږ ساعت پس شاه ولي خان بنېري هم خپله ټېکسي د سړک په غاړه اودرول۔ ما د خپلې محسنې شکريه ادا کړه۔ دې په ډېرې مينې ما باندې غېږ بدله کړه۔ دواړه لاسونه مې ئې ښکل کړل۔ شاه ولي ته لاس ورکړو۔ ما ته اووې امريکې ته ستا راتلل ډېره مننه۔ موږ په دې وياړ کؤو، چې ته دومره لرې نه زموږ د ملک د ليدو او خاص کر د لائبريري د کتو د پاره دومره تکليف وکړو۔ شاه ولي ورته

ووې چې زه دلته پيزې راورم دې ځل ستا د پاره به يوه لويه سپيشل پيزه راورم. تورې انګريزۍ کښې ده هم شکريه ادا کړه. او ورسره ده د ايکسلېرېټر ته پښه ورکړه.

ورجينيا ته د واپس راتګ وخت د لائبريري په شا شاه والي خان يو بلډنګ ته اشاره وکړه چې دا د پېنټګون pentagon هغه مشهور عمارت ده چې د ۹ ستمبر 9/11 په پېښه کښې د دې مشرقي برخه د جهاز کرېش په وجه بېخي تباه شوې وو او د دې په وجه امريکې په افغانستان يو لوئې آفت او تباهي نازله کړه. ګڼ کسان پکښې مړه او ژوبل شو. د پېنټګون هغه تباه حصه خو ډېر زر امريکنيانو دوباره سازه کړه چې نن ئې پته هم نه لګي خو د افغانانو په خاوره تر ننه د امريکې د بمونو توغندي پرېوځي. خو ---- کهسار باقي افغان باقي.

**ائېر فورس بلډنګ**

ورسره ائېرفورس لوئې بلډنګ ده. دا د امريکې د تمامې ائېرفورس مرکز ده.

داسې په لار د شېرنګتن لوئې ښکلې بلډنګ راځي۔ شاه ولي الله وې چې د پاکستان د بهرنيو چارو وزير سرتاج عزيز دلته ماتل وي۔ او چې څو ورځې دلته وي، زه ئې د واشنګټن سرکاري دفترو ته بوځم او راولم۔

**د CIA دفتر**

د مشهور زمانې د امريکې CIA لوئې دفتر هم دې لار مخته راغے۔ مونږ به اکثر د شپې په لار په تېرېدو نو دې ځائې به مکمله تياره وه۔ نن په رڼا ورځ په دې سړک تېرېدو۔ نو شاه ولي خان د CIA دفتر مخکښې د لوئې سړک په غاړه هغه ځائې هم راته په ګوته کړو چرته چې يو څو کاله مخکښې د پاکستان د بلوچستان سيمې يو ځوان د CIA درې کسان امريکنيان مړ کړي وو او بيا پاکستان ته ئې په تېښته ځان رارسولې وو۔ خو امريکن چرته خپل پور پرېږدي۔ هغوئي ور پسې وو او آخر ئې د پاکستان يو هوټل نه ئې اوچت کړو او امريکې ته ئې اورسولو۔ هلته مقدمه ئې ورباندې اوچلوله او د مرګ سزا ئې ورته واوروله۔

ورجينيا ته په رسېدو ماښام کېدو۔ شاه ولي الله هغه د پيزو دکان چې ده ورسره کار کولو نه يو څو پيزې د روستني دروازې نه راواخستلې۔ او د شپې روټۍ مو د دوئي په کور کښې اوخوړله۔

**Giant Store**

**۲۲ دسمبر ۲۰۱٦:** نن ورځ مونږ په کور فارغ ناست وو۔ پروګرام جوړ شو چې راځئ د سعید خان د کور سره نزدې په څه فاصله د جائنټ سټور giant store کښې چکر اولګؤو۔ د سترګو غړولو سره سره به په پښو هم اوګرزو۔ زناناؤ په کښې څه سودا رابیعه کړه۔ او مونږ ځان ته ډائټ آئسکریم واخستو۔ یو طرف ته کښیناستو۔ کاشکې مو پیدا نه کړې۔ مخامخ د کافي دکان نه مو یو څو کړک را اوچت کړل او هغې سره مو د آئسکریم په خوړلو برید وکړو۔ یوې چینئې ښځې زمونږ په دې حرکت او مشکل نظر اوشو او ورسره په لاس کښې نیولي درې پلاسټکي کاشکې راته پېرزو کړې او داسې زمونږ مشکل ئې آسان کړو۔ خوشحال شو او شکریه مو ئې ادا کړه۔ دې مسکې شوه او لاړه۔

ښځې مې وې چې دلته د امریکې سټورونو کښې د څیزونو قیمتونه د سکاټ لینډ په مقابله کښې زیات دي۔

**۲۳ دسمبر ۲۰۱٦**

د جمعې مبارکې ورځ ده. سعید خان خپل کار ته تلی وو. د ده کور والاؤ زما د جمعې لمنځ ته د رسولو کار خپل زوئې جلال ته سپارلی وو. دلته مسلمانانو د جمعې د لمونځ د پاره د لوئې هوټلونو کښې هالونه د ګنټو په حساب بک کړي وي. دا ځائې په لږ فاصلې وو. او ایډم سنټر Adam Centre ئې ورته وې. مونږ ګنټه مخکښې وختي ورغلو. د هال بهر جلال خپل یو ځو کابلي ملګري اولیدل نو دوئي سره په ګپ شو. خیر زه د هال دننه لاړم. سړي په اول قطارونو کښې ناست وو. ښځو چې اکثره حجابونه اچولي وو، روستو قطارونه جوړ کړي وو. مېنځ کښې ئې پینځه شپږ فټ یو د لرګي د تختې یو خنډ وو. دې مېنځ کښې یو سوال ګړې را ننه وتو چې د فلسطین د بې کوره خلقو د پاره ئې د چندې سوال کولو. د چندې بکس د هال بهر پروت وو. وسره څه پمفلټونو pamphlets هم د لوستلو د پاره پراته وو.

دلته اکثر د جمعې لمونځ په شفټونو کښې کیږي. دا نا وخته شفټ وو. د لمانځه نه پس اعلان اوشو چې نیمه ګنټه پس به د مازیګر لمونځ وي. ما چې کله د جمعې لمونځ وکړو، او د مازیګر د لمونځ په انتظار ووم چې د جلال یو کابلي ملګرې راغلو وې ئې چې جلال څه ضروري کار دې. راځه چې

ځو. زه پاسېدم او ورسره روان شوم. او داسې د مازدیګر لمونځ په جمعې پاتې شو. روستو پته اولګېده چې دا بهانه جلال صرف د خپلو دوستانو سره د مخکښ نه د یو تفریح د پروګرام ئمانځلو د پاره سازه کړې وه. خېر مرده په دست زنده. ما څه کولې شو چې د ده بغېر به یوائې ښنګه کور ته راتلم. خېر ما ئې روستو مور ته دا ټوله قیصه تېره کړه او هغې جلال سپک کړو.

## ۲۴ دسمبر ۲۰۱۶

مازدیګر ناوخته سعید خان د خپلې کور والې سره د خپل یو ملګري نسیم میاں خېلي ننګرهاري د مور د لاس نیوي د پاره هغوئې کور ته روان وو. مونږ ئې هم د ځان سره روان کړو. میاں خېل د مور بی بی مرحومې پسې خېرات کړې وو. نور ټول خو ئې کور ته دننه وتو. خو زما طبیعت برابر نه وو. زه ګاډي کښې ناست وم. دې خوا مې چې اوکتل نو درې طرفونو ته د فلېټونو قطارونه وو. یو اړخ ته ګڼ ځنګل وو. خېر دې مېنځ کښې چا د چاولو یو پلېټ راوړو. او ما یو څو کاشکې ورنه اوخوړلې. ماسخوتن د جیني ګل د طبیعت د تپوس د پاره حاجي رؤف خان سره د ښځې

سعید خان کور ته راغلو۔ دا ډېره ښه خبره ده چې د افغانستان اکثر ډاکټران د ادب سره هم تعلق ښه کلک لري۔ زما سره ئې د پښتو او د فارسي ادب په باره کښې ښې د کار خبرې وکړې۔ بحث کښې خاوند او ښځې دواړو ښه پرېوانه برخه اخسته۔ ښځې به ئې چې ادبي علمي شګوفه خلاصه کړه نو حاجي رؤف به د عېنکو د صفا شیشو لاندې په شونډو یوه شرارتي معني خېږه مسکا خوره شوه۔ نور تائید یا تردید یا هاں او ناں به ئې نه کول۔ ما د ده دا خاص د مسکا طرز به تل یادېږي۔

## ۲۵ دسمبر ۲۰۱۶

نن د کرسمس ورځ وه۔ خو څه خاص جوش خروش او سرګرمۍ ما او نه لیدې۔ یو نیم کور مخکښې به د کرسمس بوټي christmas tree جوړ ولاړ وو۔ خلقو کورونو او ګرجو کښې دا اختر لمانځلو۔

سعید خان د شېننډوه[1] Shenandoah په غرونو کښې سکائي لائن د کلي د نظارې د کتو او د سېل پروګرام جوړ کړې وو۔ امریکیان چې چرته لرې

1 شېننډوه په شمالي امریکې براعظم کښې تر ټولو کښې اوږد دریاب دے۔

لاړ شي نو د شینندوه د غرونو د وادیانو او دې کښې چلېدونکي دریاب د ښکلا او د خاموشه ګنګوسو whispers دا سندره ضرور وائي۔

Oh Shenandoah, I long to hear you

Look away, you rolling river

Oh Shenandoah, I long to hear you,

Look away, we're bound away,

Across the wide Missouri

ترجمه ئې څه داسې ده:

وې شینندوې، زه ستا د غږ د اورېدو په طمع یم

زه ستا د دریاب راتاوېدونکے او یمېدونکے چپې لیدل غواړم

ګوره مونږ لرې د پراخ مېسوري نه هغه خواره بندیوان یو

## انجنئیر Bolivian بولیوین

د شینندوه ته روان وو۔ سعید خان ووې چې دلته زما یو ډېر زوړ تعلقاتي انجنئیر دوست دے۔ ده ته به د کرسمس د مبارکۍ د پاره ورشو۔ زما ډېر ښه په کار راتلونکے آشنا دے۔ زما کور د جوړه ولو په کار کښې ئې ډېر

کومک کړې دے۔ زه چې کله د بهر ملکونو د چکر نه واپس راځم نو که جهاز د کوزېدو وخت د شپې ډېر ناوخته دې ولې نه وي، خو دې راته په هوائي ډګر ولاړ وي او کور ته مې رارسوي۔

بولیویه جنوبي امریکې کښې یو کمیونسټ ملک دے۔ سعید خان د خپل ملګري نوم فلپینو اخستو۔ د فلپینو ښځه عیسائي وه۔ یو زوئې ئې په خپل کار کښې ښه ماهر وو۔ سعید خان یو کمپیوټر چې تقریباً بېکاره وو، ده ډېر زر سم او برابر کړو حالانکه ډېرو کاریګرو ناکاره ګرځولې وو۔ سپین کښې د ائي ټي انجنئیر وو۔ انړور ئې هم څه نوکري کوله او دا وخت بهر وه۔ یوه لور ئې هم وه چې دوئي وې چې یهودي شوې ده۔ فیلینو نه ما چه کله د مذهب په لړ کښې تپوس وکړو او ده اول خو څه سر اوسنه ولو و لږ ساعت پس ئې ووې چې هیڅ مذهب نه لرم۔ ما زړه کښې ووې چې خدائې پاک دِ درته هدایت وکړي۔ فلپینو د آزادئ د جمهوریت او د یو بهتر مستقبل په لټون کښې امریکې ته راغلې وو۔ دلته ده د دغې کور نه پرته په ورجینیا کښې نور کورونه هم وو چې په کرایه ئې ورکړي وو۔ ده سره د بولیویا او د امریکې دواړو شهریت وو (dual nationality)۔ ښار

کښې د نورو کورونو لرلو باوجود زوئې او لور ده سره اوسېږي. ما د دې وجه ورنه تپوس ونه کړو او نه دا راته دا راز ووې.

ده د انړور نوم ډارلنګ اخستو. اوس دا دې نوم وو او که دوئي ورته د ډېرې مینې نه وے. فلپینو د یو پوخ عمر مینه ناک سړې وو او د ده ښځه نور هم خوش ارواحې ښکارېدله. دوئي د کرسمس پارټي بندوبست کړې وو. یو غټ کېک پرېکړې په مېز پروت وو. نوره خوراک او د څکاک څیزونه هم پراته وو. مونږ هم د مېز ګرد کښېناستو. څه خبرې ورسره د معمولي خوراک وکړې.

چې څه وخت رخصتېدو نو فېلینو د مونږ ټولو ورو او لویو ته پنځوس ډالرې په بند لفافو کښې د کرسمس عیدي د تحفې په توګه را کړې. خو آخري رخصت په وخت ئې زمونږ د اخلاقي معیار مطابق ئې یو داسې غېر اخلاقي حرکت ئې زمونږ سره وکړلو چې نه ئې اسلام اجازت ورکوي او نه پښتو. ما باندې دا هر څه ډېر بد اولګېدل خو د سعید خان د سماجي تعلقاتو په ځائې ساتلو د پاره دا نارواه ازغمله. څه به وائې امریکې کښې خلق ډالرې څو ګټي. خو په ډېر همت او داسې بې شرمي. ما دا بې غېرته

پنځوس ډالرې په خپل نوي چاپ کېدونکې د ګلګت سفر نامه په معاوضې کښې عامر پرنټرز ته ورکړې۔

## شېننډوه وادي

د فلپینو د کور نه مونږ د شېننډوه غر او د سکائي لائن د نظارو د وطن په لور روان شو۔ دا د جغرافيائي لحاظ سره ښکلی او د تهذیبي توګه باندې ودانه وادي په مغربي ورجینیا کښې واقع ده۔ د دې وادۍ وچت والې د ۵۰۰ فټ نه تر واخله ۱۵۰۰ فټ پورې ده۔ د دسمبر میاشت وه او سمه یخني وه۔ بوټي لغړ او اوچ ښاخه وو۔ خو خوش قسمتي سره ټوله ورځ لمر راختلې وو۔ د تفریح ځایونه او پلازې بندې وې۔

مونږ په اوچت غر اودرېدو۔ لاندې یو ویران کلے او د شېننډوه دریاب د اوبو یوه کږه وږه لکیر ښکارېده۔ سېلانیان یا نور خلق هم کم وو۔ البته په دې غېر آباد ځائي کښې غسل خانې ډېرې صفا او ستره وې۔ ګرمې اوبه هم پکښې وې۔ مونږ دلته څه وخت ښکته باندې وګرځېدو او بیا واپس شو۔ په لار مو په یو سټور کښې څه برګرې او د پیپسي بوتلې واخستې۔

# د ماناس Manas علاقه

دا د ورجینیا نسبتاً نوې آبادي وه. دلته د سعید خان یو ملګرې د هزارے یو تنولي اوسېدو. واپسی کښې مونږ د دغه کور ته ورغلو چې ده ته د زوئ کوژدن امبارکي ورکړو. په لار سعید خان خبره کوله چې دې تنولي سره څه موده مخکښې یوه افسوس ناکه واقعه پېښه شوې ده. ده به ټېکسي چلوله. یوه ورځ ئې یوه جینئي د ځان سره په توکه د سؤرلۍ په روستنئي سیټ چرته بوتله. جینئي د خپل بوائے فرینډ سره په موبائیل خبرې کولې. ناساپه ئې خپله تماچه د څنګ کوټ جېب نه راویسته او خپل سر ئې نښانه کړو او خود کوشي ئې وکړه. عاجز تنولي څه موده پولیس د تفتیش د پاره جېل کښې تېره کړه. د دې امتحان او آزمائش نه خو راووتو خو ده کلکې نفسیاتي صدمې په وجه نیم لېونې شو. اوس خدائې په فضل ښه ده. ښه خنده رویه او مینه ناک بنیادم وو. ټول بال بچ ئې اعلی تعلیم یافته وو. دې په خپله یو وسیع النظر مذهبي مسلمان وو. د فرقه واریت د فتنې نه آزاد یو وسیع المشرب انسان وو. دا وخت هم د عید میلاد النبي ﷺ یو تقریب ته روان وو. تبلیغي جماعت سره هم چیلې تېره

وي۔ او د مولانا شېر کوټي د تقریرونو د اورېدو ته هم ځي چې نعت ته غزل وائي۔

ما د تنولي قبیله په باره کښې څه تپوسونه وکړل۔ ځکه چې دا قبیله د غزني (افغانستان) نه د پښتو قبیلو ته مخکښې د سلطان سبوکتګین په زمانه کښې راکوچېدلې ده۔ هندکو ژبه وائي او ځان د پښتنو نه بېل ګڼي۔ سعید خان زما په دې نسلي او لساني تپوسونو بد مني۔ حالانکه هر کس په خپل تشخص نخر کوي۔ او همېش د دې په لټون کښې ګرځي۔ شپې مونږ ناوخته ماسخوتن خپل کور ته را اورسېدو۔ د لارې يو ايراني هوټل نه مو تیاره روټۍ د ځان سره راواخسته۔

# نوې کال

**۳۱ دسمبر ۲۰۱۶:** نن د ۲۰۱۶ عیسوي کال آخري شپه وه۔ دلته امریکې کښې لا شپه کېده خو آسټرېلیه براعظم په یو ښار کښې د ۲۰۱۷ عیسوي د کال نمر په راختو وو۔ د نوې کال خوشحالیانې او رڼا ګانې هم د دې ښار نه شروع کېږي۔ د ټي وي په پردې دا ټولې تماشې ئې ښکاره

ولې. مونږ هم څه ساعت دا د خوشحاليانو او د رنګ او نور دا لنداري اوکتې.

مونږ دويم وخت د آؤټ ډور شاپنګ د پاره دلته نه ۲۵ منټ په فاصله پراتو ګڼ سټورونو ته لاړو. دلته د فېکټريانو نه نېغ تازه مال راځي. ټول تېکس ورباندې نه وي. په کار ده چې د څيزونو قيمتونه کم وي خو څه عجيبه خبره ده چې قيمت هم هغه د ښار همره وي. هيڅ قسم بچت پکښې نه وي. مونږ تقريباً په لوئې وئې په قطارونو کښې پراته مالونو کښې اوګرځېدو. څه لږ ډېر سودا مو هم وکړه او واپس شو.

**۱ جنوري ۲۰۱۷:** نن د اتوار ورځ وه. امريکې کښې د نوي کال اولنۍ ورځ وه. مونږ ټوله ورځ په کور تېره کړه.

## Potomac Mill پوټومېک مِل

نن مونږ د پوټومېک مل علاقے ته لاړو. دا سيمه په هغه لار راځي کومه چې ورجينيا د رياست صدر مقام رچمنډ Richmond ته تللې ده. ۴۵ کلو ميټره مزل کولو نه پس دې ځائې ته اورسېدو. دلته د اوږدو اوږدو مالونو يو قطار وو. ښه پکښې اوګرځېدو. ښځيناؤ پکښې کافي سودا سود وکړو.

دلته زما د خوښې څه خاص شی نه وو. هسې ځان مې ستړې کړو. خېر چکر او سېل سپاتې او د وخت د تېرولو د پاره بد ځائې نه وو.

## مکلین اسلامک سنټر Maclean Islamic Center

**٦ جنوري ٢٠١٧:** د جمعې لمنځ د پاره مېکلن سنټر ته لاړو. دا د مسلمانانو خپل ملکیتي ځائې ده. دلته پینځه وخته د جمعې لمونځ کېږي. 12:45 بجې جمعه اودرېده. امام صاحب خپله خطبه په انګرېزی ژبه کښې ورکړه. د لمانځه نه مخکښې د چندې د ټولولو د پاره درې کسان د یو بل پسې را ننه وتل. یو کس Save Syrian Lives د شامي خلقو زندګي بچ کړئې په نوم د یو مېډیکل تنظیم نمائنده وو. ده ووې چې د شام په خانه جنګې کښې ۵۰ زره مسلمانان شهیدان شو. د سنټر والاؤ دې دې ډېرو خبرو ته پرې نخودو. د هال د بهر یو د چندې بکس او یو څو پمفلټې پرتې وې.

## برف باري

**٧ جنوري ٢٠١٧:** د سحر نه واوره د اون د ګولو په شان د آسمان نه ورېده. د کور مخکښې لار او سړک ټول سپین وو. خو د مخکښې نه په

سړک د مالکې د سپړې په وجه لار صفا وه. او منځ کښې تور سړک ښکارېدو او داسې ټرېفک روان دوان وو. په بوټو هم واوره پراته وه، او داسې ښکارېده چې لکه بوټو سپین د واورې پړپوسې نیولې وي. دا واوره ورېدل تر مازدیګر ۴ بجو راسې وه. د سعید خان فون راغې چې دې برف باري کښې فوټوان اوباسئ. خوئېندو ئې هم دغسې وکړل. مشرې خو نېغ دا یادګاري تصویران خپل لمسیو ته پاکستان واستول.

د برفباري ګولې د خپل کور په لمن کښې صفائي د کور والاؤ ذمه واري ده. باهر د سړکونو د صفائي کار د مقامي حکومت وي. د برفباري نه پس مونږ د چکر په نیت نزدې یوې پلازې ته لاړو.

**۸ جنوري ۲۰۱۷:** نن بیا د باران نرئ پوڅا لګیا وو. ماسپښین نمر را اوختو. جلال یو سټور کښې کار کوي. هغه هلته روان وو. مونږ ئې په لار یو پاکستاني سټور کښې کوز کړو. د دې سټور مالک یو پاکستانې عتیق شریف وو. دې اوس لا اولاده سړې دې خو یو بل کس دا سټور چلوي. کور والا دلته د حلیم د بیله بیل مصالحو او د حلالې غوښې د بیعه کولو د پاره راغلي وو. د سټور مالکان هندوستاني مسلمانان دي. د دکان

په یو ګوټ کښې یو وړوکې لائبرېري وو چې پکښې اسلامي کتابونه ډېر په سلیقې سره په الماړو کښې پراته وو. قابل د ذکر پکښې دا دوه کتابونه وو:

1. د سېد ابو الحسن ندوي لیکلې کتاب Minarets of Islam (د اسلامي دنیا مینارونه)

2. د هارون یحیی د ترکي مشهور تصنیف Deceit of Evolution (د ارتقائي نظریه دهوکه). هسې په دې کتاب باندې د اقوام متحده په دفترونو کښې اېښودو باندې کلکه پابندي ده ځکه چې دا نظریه اوس د مغرب ماده پرستو د پاره اوس د دوئ د عقیدې بنیاد ګرزېدلې دے.

**۹ جنوري ۲۰۱۷:** ماسپښین یوې پلازې کښې تر ماښختونه ګرزېدو چې د لمانځه وخت راغلو نو ما هلته پروت یو بېنچ باندې لمونځ وکړو. همسا مې ځان ته د ستر (پردې) د پاره مخته کړه.

ما په ملا کښې سخت درد کېدو نو زه د آرام د پاره په هغه بېنچ اوغزېدم. څو ساعته پس چې پاسېدم نو پاسېدلو کښې لږ راته تکلیف وو. یو انګرېز راسره تېرېدو. هغه د لاس راکولو کومک وکړو خو ما ئې په

مسکا سره شکریه ادا کړه۔ د دې نه مخکښې د ماښام د لمانځه د پاره مېکلین اسلامک سنټر ته لاړو چې ورسره نزدې وو۔ هلته سعید خان زما سره د یو اي اېن ټي ENT یو مشر ماهر سرجن سره تعارف وکړه، چې د نشتر مېډیکل کالج ګرېجوئېټ وو۔ د ده نوم ډاکټر ظفر اقبال وو۔ د تېرو پنځوسو کالونو نه دلته امریکې کښې اوسېدو۔ مېکلین یوه سفېد پوشه علاقه ده۔ ډېر ډاکټران پکښې اوسېږي۔ ډاکټر ظفر اقبال بوډا وو او ورسره ئې په یوه پښه کښې څه نقص وو۔ ډېره موده درېدلې نشو۔ مونږ صرف د ENT د ډاکټرانو سره ترلې یو۔ څو لطیفې یو بل ته تېرې کړې۔ او مو خندل او بیا سره رخصت شو۔

## ۱۱ جنوري ۲۰۱۷

په آسمان ګڼه وریځ خوره وه خو موسم تود وو۔ د کور سره نزدې مال روډ کښې ګرزېدو۔ د رسالو او د خبارونو یو سټال نه ما د واشنګټن پوسټ نومي اخبار راوچت کړو۔ چې د مال دننه د وېنا د پاره ئې هر کس مفت تر لاسه کولې شي۔ د لوستو نه پس به ئې هم هغه ځائې کېږدې۔ زه په یوه کرسۍ څنګ ته کښېناستم او اخبار خبرونه سرخئ مې لوستل شروع کړې۔ په سر سرخۍ شکاګو ښهر کښې د پخواني صدر اوبامه

د الوداعي تقرير وو چې پکښې ئې د خپل تېر حکومت د سر کښې د امريکې د خلقو سره د ده د درې اهم کړو وعدو د پوره کولو ذکر کړې وو۔ اول دا چې ملک کښې بې روزګاري تر ډېره حده ختمه کړه۔ مطلب دا چې د وداناؤ او د غريبانو تر مېنځ فرق په ده وخت کښې لږ کم شو۔ دوېم د نسلي نفرت ختمؤول وو۔ خو بد قسمتي سره دا تر اوسه په څه نه څه رنګ کښې موجود دے۔ درېم د ملک په پارټيانو کښې لرې والې partition کم نه کم لېول (سطح) ته راوستلو کښې کاميابي ده۔ د خپلو کارنامو ذکر ئې په وياړ سره کړې وو۔

اخبار کښې دوېم لوئې خبر د فېډرل کورټ يوه فېصله وه۔ دې ملزم د تورو خلقو په چرچ کونسل کښې په خلقو ډزې کړې وې چې پکښې نهه کسان وژلي شوي وو۔ ملزم د دې نه هم انکاري وو، چې دې يو نفسياتي مريض دے۔ د ده وېنا وه چې ده ته هيڅ قسم بيماري يا پرېشاني نشته۔ دا سائکاټري يا نفسيات د يهودو وضع کړې اصطلاح ده۔ فېډرل کورټ ده ته مجبوراً د مرګ سزا ورکړه۔ دا خبر ضرور د يادوړ ده چې د جديد نفسياتو علم باني سيګمنډ فرئيډ د يهودي نسل سره تعلق لرلو۔ اوس د ملزم

دا بیان د امریکې د نوي نسل د یهودو نه د نفرت لاشعوري اظهار هم کېدې شي۔

## حاجي بیان الحق د هوټل مېلمستیا

**۱۳ جنوري ۲۰۱۷:** نن بیا د جمعې مبارکه ورځ وه۔ د پروګرام مطابق بیان الحق حاجي صاحب راپسې راغلو۔ ورسره موټر کښې کښېناستم او شېراډ هوټل په یو هال کښې مو د جمعې لمنځ وکړو۔ بیان صاحب وې چې مونږ ته امامت شېخ ماجد صاحب راکړو چې اصل کښې د سوډان دے۔

د مسلمانانو ایډم اېسوسئېشن صدر دې۔ د امریکې صدر سره د مسلمانانو سره تړلي معاملاتو باندې د خبرو کولو اختیار ده ته حاصل ده۔

روسته حاجي بیان یو افغاني هوټل ته بوتلم۔ او ښه مزېداره روټۍ مو وخوړه۔ حاجي صاحب د ډېره موده نه په امریکه کښې دې۔ اوس خو د بارګېن کاروبار کوي خو څه وخت ئې په وائیټ هاؤس کښې هم نوکري کړې ده۔ د امریکې او د پاکستان په سیاسي معاملاتو ښه باخبره، د سترګو دید واقعاتو باندې معلوماتي بحث کولو۔ وې ئې چې څه موده مخکښې د پاکستان یو نامتو قام پرست لیډر امریکې ته راغلې وو او یو

امریکي سېنېټر ورته ۸۰۰۰ ډالرو چېک د امریکې د افغان پالیسي په باره کښې د رائې بدلولو د پاره ورکړې وې۔ خدائې خبر چې دا خبره به څومره رښتیا وي خو حاجي صاحب د هغې سېنېټر نوم هم واخستو او د یو هوټل ذکر ئې هم کولو چرته چې دا سودا شوې وه۔ والله علم۔ خو حاجي بیان الحق پخپله هم یو خانداني قام پرست شخصیت وو او د نیکونو د وخت نه ئې د قام پرست ګوند سره تړون او ښه کلک وفاداره تعلق درلود۔

څنګه چې شاید ما مخکښې هم ذکر کړې دې، چې سعید دلته په ورجینیا کښې دوه کورونه دي او وړوکي کښې دې وخت پکښې په خپله اوسېږي او دوېم یو کافي فراخ ښائسته لوئې کور چې ده د ملېشیا په امریکې کښې د تجارت کمشنر ته په کرایه ورکړې دې۔ نن دوېم وخت مونږ د ده دا کور کتو د پاره ورغلو، چرته چې کمشنر صاحب سره د یوې ښځې او څلور بچي اوسېږي۔ ښځې او دوه لوڼه ئې مونږ ته هرکلے ووې۔ څه موده کښېناستو، او بیا مو ټول کور، چې دوه چتیزه وو، لاندې باندې اوکتو۔ کمشنر بدلي واپس خپل وطن ته شوې دې او جون میاشتې کښې به کور خالي کولو۔ سعید خان په دې سوچ کښې وو چې کور چا بل چا ته په کرایه ورکړي او که خپله پکښې مېشته شي۔ داسې بل کرایه داره به څه

موده پس ملاوېږي او دې مېنځ کښې د کور کرایه به هم نه راځي چې د ده د آمدن یوه معقوله ذریعه ده۔

## آمیش قبیله Amish Tribe

**۱۴ جنوري ۲۰۱۷:** ما د اول ورځ نه آمیش قبیلې د خلقو او دوئ د ژوند زيست ژواک د کتو ډېر شوق وو۔ چې په دې دوېشتمې صدئ کښې د امریکې په شان ډېر مخته ترقي یافته ملک کښې د کلک قدامت پرست معاشرې جزیرې دي۔ سعید خان خو داسې روستو پاتې وګړو د وجود نه بېخي نا خبره وو البته کور والاؤ ئې یو ځل دا کلي لیدلو د پاره د خپلې د یوې بچئ د سټډي ټور په بهانه سره د دوئي ملګرو دا ځائې لیدلې وو۔ خېر د چټئ په ورځ ئې د سعید خان د یو ملګري طاهر او د هغه ښځې سره یو پروګرام جوړ کړو۔ وې ئې چې د آمش خلقو د کورو نه به ئې تازه شوده، دېسي چرګان او اګۍ وغېره په ارزان قیمت راوړل۔

طاهر د باجوړ ایجنسي د ناوګي کلي اوسېدونکے دې۔ افغانستان کښې هم پاتې شوې دې۔ د دوئي سالارزو قبیلې خلق د ډیورنډ پولې په دواړو اړخونو آباد دي۔ دې دلته په یوې پلازې کښې د سرو زرو په دکان کښې

کار کوي۔ زوئې ته ئې واده هم کړې دې۔ ښځه ئې په یو بېنک کښې د کلرکۍ کار کوي۔ د حاجي بیان الحق د تره زوئې دې۔ خو د نورو پښتنو خوئې مطابق د یو بل سره کلکه بدي ده۔ دومره راسې چې د یو بل ذکر هم ورباندې بد لګي۔



یو آمش قبیلې کورنۍ چې په ټانګه کښې چرته روان دي

# د آمش قبیلې تاریخ

آمش د روایتي عیسائي چرچ پېروکار دي او د switzerland سویټزرلېنډ anabaptist فرقې نه وتلي دي۔ دوئي mennonites چرچونو سره تړون لري خو ورنه جوړت بېل همدي۔ آمش د خپل ساده ژوند ژواک، صفا ساده لباس، او اکثر جدید ټېکنالوژي د آسانتیا نه د فائده نه اوچتولو د پاره مشهور دي۔ د دوئي چرچ تاریخ د سویټزرلېنډ کښې د سویټز او د السېشن اناباپټسټ Alsacian Anabaptists نه د هغه بغاوت نه شروع کېږي چې د ؟؟

کښې جېکب امان Jakob Ammann مشري کښې برپا شو۔ هغه خلق چې د امان پېروي ئې اوکړه د آمش Amish په نوم اوبلل شول۔ په کال ۲۰۱۷ کښې د دوئي شمېره 318,000 نفر وو۔ جېکب امان د دوئي بنسټ اېښودونکے وو۔ د دوئي ګڼ شمېر تنان د امریکے په پنسلوېنیا، اوهایو Ohio، او انډیانه Indiana کښې مېشت دي۔ د کېنېډا د ریاست اونټاریو Ontario کښې هم د دوئي ګڼ تعداد مېشت دے۔ دوئي مذهب anabaptism دے چې د عیسائیانو کښې یوه فرقه ده او بائیبل ئې د دوئي هم مقدس کتاب دے۔ دوئي ژبه د جرمن بېل بېل لهجے او انګرېزي ده۔

اتلسمې صدئ عیسوي کښې آمش خلقو د یورپ د بېلو بېلو ملکونو نه پنسلوېنیا ریاست ته مهاجرت د بېل بېل وجوهاتو په بنیاد اوکړو، لکه چې غربت او مذهبي جنګونو نه پناه اخستل، او ښه مستقبل لټون۔ پنسلوېنیا نه دوئي بیا د امریکې بېلو بېلو ریاستونو ته لاړل۔ خاموشي او عاجزي د دوئي خاص مذهبي اصول دے او په دے دوئي کلک ضوابط ساتي۔

د سعید خان کور وداني مونږ د مېري لېنډ د ریاست یو لرې سیمې ته روان کړو۔ هغه ورځ هم باران شوې وو او په کچه لار کښې اوبو هم ولاړې وې۔ سعید خان لار خطا کړه او د کچې لارې په غاړه ئې یو کور ته

اودرولو۔ دلته باهر د اوسپینو پنجره کښې کورني چرګان بند وو۔ په ګېر چاپېر ځایونو کښې غوا ګانې پرتې وے۔ یو د پخه عمر انګرېزه راغله خو پته اولګېده چې دا آمش نه ده۔ آمش روستو پاته شوي دي۔ خبر، جیني او طاهر ورنه څه چرګان په بیعه واخستل۔ طاهر چرګان حلالول او جیني ورنه څرمن اوباسله۔ صفا کولو نه پس ئې یو ډرم ته غورزول۔

د دے کار نه فارغېدو نه پس مونږ بیا په پوخ سړک راستون شو او په تپوس تپوس آخر یو آمش کلي ته اورسېدلو۔ یو کچه سړک باندې یو د اسپې بګي horse drivven buggy را روانه وه چې پکښې یو سړے، ښځه، او بلا بچي ناست وو۔ وائي چې آمش قبیلې کښې د څلورو ښځو د کولو اجازت شته او او نورو انګرېزانو نه زیات بچي راوړي۔ ښځې یو تور حجاب اچولې وو چې پکښې صرف مخ ئې ښکارېدو۔ وړې جینئ ئې هم په حجابونو کښې پټې وې۔ آمش هم داسې ټانګو کښې ګرزي۔ موټرې، بسونه، یا نور مشیني ګاډي نه په کار راوړي۔ کور کښې د بائیبل او نور بنیادي تعلیم د خپل پادریانو نه تر لاسه کوي۔ د اعلی تعلیم نه پرهېز کوي۔ د زمکو او په پټو کښې بېل بېل فصلونه کري۔ لوئې لوئې چراګانو کښې غوا ګانې، ګډې، او بیزې ساتي۔ خپلو کلو کښې بجلۍ نه پرېږدي۔ په اسونو او خرو سواري

کوي۔ مطلب دا چې کوشش کوي چې د سیدنا عیسی علیه سلام په زمانه مطابق ژوند تېر کړي۔ د لرګي ټالونه لري او نزدې منډیو ته د خپل کرلي فصلونه لکه جوار، غنم، او آلوګان، چرګے، شوده، اګۍ، ورسره لرګي وړي، او دې په آمدن باندې ساده ګزاره کوي۔ خو د جدید دور د ایجاداتو نه نه فائدې اخستو ته باوجود د کافي کوشش هیڅ څوک بچ کېدے نه شي او جدید آسانتیا یو سېلاب هر د قدامت نخښه ډوبه وي۔ ما هم د یو کور کښې د هینډ پمپ او د ګېس سېلینډر اولیدو۔ یو کور نه یو هلک راوتو۔ پرېکړي څینړۍ ئې وې۔ یو ساده قمیص جېکټ او جینز کوټ ئې اچولې وو۔ هلک نه ما تپوس وکړو چې تاسو د یورپ د کوم ملکونو نه راغلي ئې، نو ده ووې چې د سوېټزرلېنډ، جرمني او د هالېنډ نه۔ دوئي کورونه دوه چتیزه وو او د کاڼو نه جوړ وو۔ د زمکې نه به لږ اوچت او د کاڼو په ستونونو به ولاړ وو۔

زمونږ څو ملګري د دوئ کور ته ورغلل او هلته پرتو د پیو ډرمونو نه ئې ځان سره راوړي ګېلنونه او بوتلې ډکې کړې۔ واپس راروان شو او په یو افغاني هوټل کښې مو روټۍ اوخوړله۔

# وائس آف امریکه ته تلل

**۱۵ جنوري ۲۰۱۷:** ډوه راډیو د وائس آف امریکه یوه څانګه ده چې په پښتو ژبې کښې پروګرامونه خپروي. زه لا په پاکستان کښې ووم چې یوه ورځ د دوئي یو ټېلیفون راغلے. بل لور ته نامتو سندرغاړی انجنئیر سردار علي ټکر خبرې کولې. ده زما سره د پښتو نامتو روحاني شاعر عبدالرحیم مجذوب په باره کښې یوه ټېلیفونک مرکه ریکارډ کوله. او په بله ورځ هم په هغه وخت ئې بیا رابطه اوکړه. مرکه ریکارډ شوه او هم په هغه ساعت خوره شوه. داسې یو څو ورځو پس ئې زمونږ د سیمې یو بل نامتو غزل ګو رحمت الله درد په باره کښې ئې زما انټرویو واخسته. د پروګرام نه مخکښې ټکر صاحب سره څه زاتي خبرې هم اوشوې. ما دا لوظ هم ورسره وکړو چې کله امریکې ته درشم نو ستاسو دې ریډیو پروګرام ته به ضرور درځم. دا هم پته اولګېده چې هلته د دوی نه پورته نامتو افغان ناول لیکونکے سعد الدین شپون او وتلي شاعر مولاۓ عطائي هم کار کوي.

د شپون یو څو ناولې لکه شین ټاټوبې، د سمبستې یاران، یارانِ غار او ښائستو زما د نظر نه تېر شوي دي او خوښ مې هم وو. ما دا هم اورېدلي وو

چې ترقي خوښ اديب شاعر او صحافي رحمان بنېړے هم نن صبا امريکے کښې دے۔ زما د دوئي ټولو سره د ليدو او د خبرو شوق وو۔

دلته ورجينيا کښې افغاني دوستانو خبر کړم چې سردار علي ټکر پروګرام دوېم ټائم وي، او سحر د رحمان بنېړي ډيوټي وي۔ سعد الله شپون اوس ريټائر دے خو په کور وي۔ خېر، ما شاه ولي خان بنېړي او بيان الحق باجوړي دواړو سره خبره وکړه چې چرته د وائس آف امريکه د کتو او د سېل پروګرام جوړ کړي او ما د ځان سره بوځي۔ دواړو وعده وکړه چې دا د دوی د پاره څه ګرانه مسله نه ده۔ دواړه هلته پېژنګلو لري۔ څو ورځو پس شاه ولي خان بنېړي ټېليفون وکړو چې ما درته رحمان بنېړي سره پروګرام برابر (سېټ) کړو۔ د ايتوار په نهه بجې تيار شه۔ کور والاؤ مې وې چې مونږ به دا ورځ چرته يوې پلازې کښې چکر اولګؤو۔ او ته خپل شغل کوه۔ د ايتوار په ورځ شاه ولي راغے۔ ده سره خپله ښځه هم وه۔ زه ور اووتم او مخکښې ګاډي سيټ کښې ورسره کښېناستم۔ شاه ولي کور وداني چې زه يوائې وليدم نو اوئې وې چې بابي څه شوه؟ ما چې ورته ووې چې دوئ دا قسم شغل سره څه دلچسپي نه لري نبغه د موټر نه کوزه شوه۔ دننه ورغله او ډېر زر ئې دواړه خوئېندې په دې وېنا سره

رضا کړې چې داسې موقع بیا نه راځي. دا ورځ د سیکورټي (حفاظتي توکه) ډېرې لارې بندې وې ځکه چې د ټرمپ د صدارتي چوکۍ د پاره څوکند پورته کولو تیاریانې شروع وې. شاه ولي خان ته مخکښې نه رحمان بنېري مخصوصې خلاصې لارې ښودلې وې.

مونږ واشِس آف امریکه د عمارت لوئې ګېټ مخته کوز شؤو. د ګېټ مخته یو فربه اندام د اوچت قد وال افغان چکرې وهلې. مونږ ئې چه ولیدو نو په خبر راغلې مېلمنو ئې ووې. دننه استقبالئېي کمرے ته ئې بوتلو. رحمان بنېري زما په لیدو څه اوتر شاندې شو. سر ئې اونیوو او په یو بېنچ کښېناستو. ما چې لاس ورکړو نو ده په معذرت خانه لهجه کښې وو. کله چې صدمې نه ووتو ووئې وې چې شاه ولي خو ماته صرف دا وئېلي وو چې یو ډاکټر زه درولم. نوم دې ئې نه وو راته ښودلې. دلته امریکه کښې د مېډیسن ډېر ډاکټران ګرځي. ما ورته ووې چې اوس خو مونږ راغلو اوس څه وائې؟ ده باندې دوېم وار خطائي هله راغے چې مونږ سره پاسپورټونه هم نه وو. ده شاه ولي ته د دوئې د راوړلو خاص تاکید کړې وو خو هغه نه هېر شوي وو. دلته ورځ د ایتوار او چهټئ هم وه. سینئیر افسران هم نه وو چې رحمان اجازت ورنه اخستے وے. خو خدائے دې ښه ورسره

وکړي، شاه ولي وې دا څه مسله ده؟ زما کور والا ئې د ځان سره بوتله او هغې نيمه ګنټه کښې زمونږ دواړو پاسپورټونه ئې راوړل۔ د ډيوې ريډيو په ريسيپشن روم کښې د ـبے نظيرې او د ملالې يوسف زئۍ فريم کړي تصويرونه آويزان وو۔ يو مشر انګريز هم دلته په کرسئۍ ناست وو او د اوريدلو آله ئې غوږونو کښې پراته وو۔ شايد په بله کمره کښې ريکارډنګ باندې ئې نظر لرلو۔ د ميز ګړد ورد د ډيوې پروګرام منتظمين ناست وو۔ او هلته څه ګورم چې بيان الحق صاحب هم هلته مخکښې نه ناست وو۔ رحمان راته ووې چې اول به بيان د پاکستان په يوې burning issue د قبائلو په ايف سي آر FCR قانون خبرې کوي او د دې نه روسته به زمونږ يو ملګرې وکيل خان ستا سره مرکه کوي۔ ما ورته ووې چې زه خو په دې نيت نه ووم راغلې۔ خيال مې وو چې رحمان بنيري سره ووينم او ده خپل د سکاټ لينډ سفر نامه سوغات کړم۔ نو اوس چې ګېر شوم، نو اول بيان ته وايم چې د کور ګند به خپل کور کښې صفا کوو۔ دلته د دې ذکر نه دې پکار۔ چې کوشې نه ئې راوباسو، خو بيان ووې چې زما نيشنلټي (قوميت) او پاسپورټ د افغانستان ده۔ زه ئې پرواه نه کوم۔ ما ورته ووې چې دا خو لا بده خبره ده چې قوميت د افغانستان لرې۔ اوسيږې په

پاکستان کښې او هم په مسائلو باندې بحث ئې هم یو بل استعماري کښې کښې کوې۔ خبر، دې دننه لاړو او د پاکستان حکومت واکدارانو نه ئې ډېرې ګیلې مانې وکړې۔

د خپل ځان په باره کښې هم دا خبره وکړه چې زما نه به درې مسلو په باره کښې هیڅ تپوس نه کوې۔ اول د سیاست، دوېم د مذهب، او درېم د جنس sex په باره کښې۔ نور د هر قسمه سوال اجازت دې۔ زه به ستاسو د تسلي کولو کوښښ کوم۔ رحمان او منتظمینو اوخندل چې بیا نور پاته څه شول؟

زه ئې په کمره کښې د وکیل خان مخکښې کښېنولم۔ رحمان وې چې زمونږ دې ملګري یو څو ورځې مخکښې د نوي د امریکې جوړ کړي صدر ټرمپ نه هم انټرویو اخیستې ده۔ وکیل خان یو څو عام تپوسونه وکړل۔ چې د امریکې ته دې څنګه پېښه کړې ده؟ دلته به څومره موده ئې؟ امریکه کښې دې څه خوښ شول؟ ما هم په ګپ شپ او سپک (هلکه) انداز کښې د ده ځوابونه ورکړل۔ پروګرام چونکه live نېغ په نېغ وو، ورسره وکیل خان به پاکستان د سوات، لکي مروت، او پیشین د سیمو نه اورېدونکو زما په باره کښې سوالونه هم کول، او ما به ورته ځوابونه ورکول۔ د نیمه ګنټه

پروګرام په آخر کښې وکیل ووې چې که تاسو اجازت وي نو زه به ستاسو کور ودانۍ هم راوبولم او یو څو تپوسونه به ورنه وکړم۔ ما ورته وې بلے۔ اتفاقاً هغه ورځ د ښځو د حقوقو ورځ هم نمانځلې شوه۔ وکیل خان مې د ښځې نه زما په باره کښې یو څو خوندور تپوسونه وکړل۔ آخري سوال ئې دا وو چې د ښځو تعلیم څومره ضروري دې؟ دې ورته ووې چې تعلیم سره ښه تربیت هم پکار دې۔ د پروګرام ختمېدلو نه پس چې کله راوتو نو ما خپلې ښځې ته ووې چې اوس به ستا تصویر هم په دې ګېلرئ کښې د بې نظیرې او د ملالې سره لګوي۔ دې عاجزې په مزه اووې چې نه نه، ولې ما څه کړي دي؟ ما ورته ووې چې آخري ځواب دې ډېر زبردست ورکړې دې۔

د ډیوې په ملازمینو کښې یو زما د ملګري میاں وکیل شاه رشته دار وو۔ د ریډیو کافي کارکنان زمونږ سره بهر راووتل۔ بهر په برانډه کښې د اردو د پروګرام دوه غړي یوه ښځه او یو سړې مخته راغلل۔ رحمان ورسره زما پېژندګلو اوکړه۔ دوئي ووې چې پکار دې چې اوس مونږ ته هم څه وخت را کړې۔ ما ئې شکریه ادا کړه چې که خېر وي بیا به چرته شي۔

رحمان زمونږ سره د رخصتي د پاره تر موټره راغـ. ما ورنه په لار تپوس اوکړو چې ته دلته امریکې ته څنګه راورسېدـے؟ ده اووے چې تا ته پته ده چې زه کلک ترقي پسند او د امریکې سامراج مخالف وم. خو چې کله طالبانو بنېر کښې زما کور ته اور ورته کړو نو پلار راته ووې چې اوس ستا دلته اوسېدل ګران دي. امریکې ته پښې اوباسه. د ده په بیان کښې به صداقت څومره وي، خو د کمال خبره دا دې چې امریکه د هر چا درد هم وي او درمان هم. د خپل نظام کلک مخالف ته هم د خپلې لمنې لاندې ځائې ورکوي.

راتلو کښې رحمان بنېري په هوټل کښې د مېلمستیا بلنه هم راکړه. زما کور والې ته یې ووې چې د ده ښځه به د دوئي په لیدو او د مجلس ډېره خوشحاله شي. او ډاکټر صاحب په خپلو ادبي ملګرو سره به لیدل ګتل اوکړي. خو آخري ورځو کښې ئې شاه ولي په لاس پېغام راواستولو چې فلوریډه کښې د ټرمپ خلاف مظاهرې د کورنۍ د پاره ډیوټي د سر کولو د پاره روان یم. بخښنه غواړم، خو زما سره ریکارډ شوي د پروګرام یو کېسېټ ئې راواستولو. خدائې دې دوئي ټول ملګري خوشحاله لري. آمین.

# ډیوه راډیو سره د انټرویو پوره مکالمه

د ډیوې ریډیو له طرفه انټرویو اخستونکي نوم وکیل خان دې، چې د رحمان بنړي په وینا ئې څو ورځې مخکښې د ډونلډ ټرمپ، د امریکې نوي ټا کل شوي صدر نه انټرویو اخستې وه. مکالمې کښې نور په ټیلیفون وګوړو نومونه هم شامل دي چې په انټرویو کښې ئې تپوسونه کړي دي.

**وکیل خان:** ډاکټر چراغ حسین یو ادیب، تاریخ دان، او سفر نګار د څه تعریف محتاج نه دې. تېر یو څو میاشتو راسې د امریکې سفر باندې راغلې دې. دا وخت راسره په سټوډیو کښې ملګرې کېږي پخېر راغلے ورته وایو. ډاکټر صاحب ډېره مننه کوم.

**زه:** ډېره مننه او خوشحال اوسے.

**وکیل خان:** مننه ستاسو هم کؤو چې مونږ ته راغلے تاسو سره به خبرې اترې کؤو اورېدونکي به هم ستاسو سره خبرې کوي زه فکر کؤم چې تش ستاسو نوم هم واخلو نو اورېدونکو ته به پته وي چې ستاسو ادب کښې څه خدمات دي. اول دا راته ووایې چې امریکه ته څنګه راغلي ئې؟

**زه:** اصل کښې زه داس اتفاقيه راغلے يم۔ څه خاص پروګرام مې نه وو۔ څه د عمر تقاضه ده۔ څه اعصابي کمزوري ده۔ داسې چل دے چې دلته زما يو اوښې سعيد خان دے۔ هغوئي خپلې خوئښندے ارغوښتې وې چې دلته چکر له راشي۔ هغوئي (زما کور والې) ورته ووې چې زه خو يوائې نه زم۔ زکه چې دې يوائې نه شوم پرېښودې۔ ولې چې زما پينځه لونړه دي، نرينه اولاد مې نشته۔ او اوس چې لونړه ټول واده دي، او بهر آسټرېليه او اسلام آباد کښې اوسېږي، نو چراغ حسېن به چا ته پرېږدم؟ نو سعيد خان ورته ووې بالکل دې دې هم راشي۔ نو د دې نه مخکښې زه برطانيې ته تلې يم او په هغه سلسله کښې د سکاټلېنډ سفر نامه مې هم ليکلې ده۔ رشتيا خبره دا ده چې امريکې ويزه ما ته ډېر په آسانه ملاوه شوه به نسبت د برطانيې نه۔ هغوئي ما نه د جائيدادونو تپوس کولو او قيصه ئې ګرانه وه۔ خو البته د امريکې simple طريقه وه چې صرف online اپيليکېشن ئې وو۔ هغه هم زما د وراره ښځې، چې په اسلام آباد کښې د امريکې سفارت خانې کښې کار کوي، هغه راته ډکه کړه۔ يو څو ورځو پس ما ته بلنه ده امريکې سفارت خانې نه راغله۔ زه د کور والا سره ورغلم، او انتظار نه پس ئې چې مونږ اوکتلو نو يو پنځو ۵ کالو ټپه ئې راته

ولګوله. خو مونږ پروګرام صرف د څه مجبوریانو د عمله اوس په دې وخت راغلو. دا هم زما ورور، چې په پاکستان کښې بین الاقوامي postal سروس کښې پاته شوې دې، او ښه ډېر ملکونه ئې تر امریکې نه بوټان پورې ګټلي دي، راته ووې چې دا وخت خو د امریکې کښې سخته یخني وي او دا وخت د تلو د پاره موسم په حواله ټیک نه دې. ما هم وې چې بل موسم سمون نه خوري. خو بل رخ دا دا وخت راتلو زمونږ ډېر خوش قسمتي ده چې امریکې غوندې ملک کښې دا وخت د یو حکومت د بل نوي حکومت (ډونلډ ټرمپ) ته واک ورکوي. نو په دې حواله زما د پاره دا یو تاریخي یادګار دې. نو خبر دې دا څه پابندیانې او یخني به برداشت کړو.

**وکیل خان:** جي زه به هم ستاسو نه بخښنه اوغوارم چې تاسو زمونږ دفتر ته په تکلیف رانه وتې زکه چې بهر د 20 نېټه په حواله ډونلډ ټرمپ د نوي حکومت د پاره سوګند inauguration پورته کوي نو د هغې دستوره د پاره واشنګټن ډي سي ډېر ترلې شوې دې او ټول ایجنسۍ امنیت د پاره ډېر ترلې شوې دې. یو لیکوال یو ادیب او سفر نګار چې کله سفر کوي نو د

نوره نړۍ د خلقو په نسبت په ژور نظر کتنه کوي۔ واشنګټن کښې هم ستاسو تاثراتو ته به تاسو د لیک رنګ ورکوۍ او که نه؟

**زه:** اردو کښې یو متل دې چې کمبل کو میں چھوڑنا چاھتا ھوں لیکن کمبل مجھے نہیں چھوڑتا۔ خبره دا ده چې اوس زما لاسونه تړېږي۔ مغز مې هم عمر په حواله ډېر کار نه کوي۔ یاداشت مې هم کمزورې دے۔ بلکه یو بل مثال به درکړم۔ زه د پاکستان د شمالي علاقه ګلګت بلتستان ته لاړم او د هغې په حواله مې هم سفر نامه لیکلي ده۔ هلته مې یو زوم اوسېږي او هغه وئیل چې روژه به دلته راسره تېر کړې۔ کور واله مې هم راسره لاړل۔ هلته ما ورته وئیل چې زه د ټوررزم tourism معلوماتو مرکز ته زم۔ هلته د محکمې کښې چې افسر ولیدلم نه راته کئي چې بڑی دېر کردي مہرباں آتے آتے۔۔۔ وئیل ئې چې اوس په دې عمر کښې به ته د هندو کش د غرو او د ننګه پربت باندې څنګه خېژې؟ ما ورته ووې چې دې د پاره خو زه تا ته راغلے یم چې ته ما ته معلومات را کړه۔ زمونږ یو ملګرے د سوات یو نامتو محقق ډاکټر پرېوېش شاهین راته په خط کښې لیکلي وو چې هغوئي ته د عربي یو شاعر امراء القېس باندې تحقیق د پاره معلومات پکار دي۔ ما ورته ووې چې اول خو ته دا ووایه چې ته په عربۍ

پوهېږې؟؟ چې نه پوهېږې نو ته به څنګه د هغې شعرونو تشریح او تحقیق کوې؟ ده ما ته ځواب کښې ولیکل چې که اګې اچولې نه شم خو خوړلې خو ئې شم !! نو د ټورزم محکمې والاؤ ته مې هم وې چې سترګې غوړونه لرم، یاران دوستان لرم، ته راته وایه او زه به ئې خوړلو کوشش کوم۔زوم هم راسره ډېره مرسته کړې وه۔ خېر یو ناخوشګواره واقعه هم پېښه شوې وه۔ یو ګلېشئیر باندې ختو په وخت زه او زما ښځه دواړه راپرېوتي وو۔ ښکته یوه ژوره نالۍ وه خو خدائې مونږ بچ کړي وو۔ بل چې زه شوګر مریض هم یم، نو هلته راته hypoglycaemia شاک راته اوشو۔ بیا هلته یو اسماعیلیانو په هسپتال کښې راته ستنې لګولې شوې وې او حالت مې ښه شوې وو۔

وکیل خان: ستاسو نه دې په حقله نورې خبرې هم کؤو۔ مونږ ته به کالونه هم راځي نو فی الحال تاسو خبره جاري ساتۍ۔

زه: زه چې دا امریکې ته راغلې یم، نو د خپل اعصاء په سهارې ګرځم، یا مې په چا په اوږه لاس ایښې وي۔ خلق چې سفرنامې لیکي نو په ځواني کښې دا کار کوي۔ او بیا که په یو ځي کښې څه وي او که نه وي، یا داستان ترې نه تاؤ راتاؤ کړي۔ زه چې امریکې ته راتلم نه رحمان بنېري

صاحب سره ېخوا نه یو پېژندنګلو حېثیت وو کله چې هغه پاکستان کښې روشن پاکستان په نوم اخبار ئې اوباسلې وو، او بیا ئې روسته د جرس رساله د طاهر افریدي نه پس مدیري ئې چې کله سمباله کړه۔

وکیل خان: چراغ صاحب ستاسو د پاره چارسدې نه نجیب صاحب رابطه کړې ده هغې رائې به واخلو تر دې مخکښې چې رابطه ختمه نه شي۔

---

وکیل خان: له بده مرغه نجیب صېب آواز مونږ ته نه رسېږي۔ کوښښ به کؤو چې بیا ئې لیک برابر شي نو رائې به اخلو ځکه چې وائي چې ډاکټر صاحب پېژنم او خبرے ورسره کول غواړم۔

زه: نو ما رحمان بنېري ته ما وئېل چې ته دا جرس رساله نه شے چلوے خو هغه وئېل چې زه هر څه کار کولې شم۔ ما یو مضمون هم ورکړې وو چې د ملحمو epics په باره کښې وو۔ ملحمه ټکې عربي نه اخستې شوې دې خو اوس په پښتو کښې هم زیات استعمال ئې کېږي۔ رحمان هغه مقاله په جرس کښې چاپ کړې هم وو خو د هغې نه پس بیا دې غائب شو۔ نو بنېریان ئې زما ډېر ملګري دي، تر شمس بنېري نه تر واخله طاهر

بنېري پورې. طاهر بنېري نه مې چې تپوس اوکړو چې رحمان چرته دې، نو هغه وئېل چې دا يار خو دې امريکې ته رسېدلې دې. بيا يو وار د ډيوې ريډيو سره يو رابطه داسې راغله چې يو ورځ ټيليفون اوشو، ما وئېل چې څوک، بل لور نه راته وئېل اوشو چې وائس آف امريکې نه ټيليفون دې او سردار علي ټکر خبرې کؤم. ما سردار علي ټکر لا په سترګو نه دې کتلې، خېر نوم خو مې ډېر پېژندو ځکه چې ده د سندرو له سببه پښتانه د غني خان بابا شاعرې نه خبر شوي دي. ما يو مقاله Demagogy in Pashto Literature هم ليکلې دې چې کوم کښې ذکر شوې دې چې غني خان پيغام ته ټکر څرنګه رنګ ورکړو او دنيا کښې ئې خپور کړو. په دې ډول ټکر صاحب په پښتنو او په باچا خان کورنۍ ډېر احسانات دي. خو دا خاندان به يوې ورځې دې بهرام خان اولاد، د باچا خان په نوم نه، بلکه د غني خان په نوم يادېږي، غني خان دومره لوئې سړے دې خو که چا اوپېژندو.

وکيل خان: بالکل په دې نوره خبرے به هم کؤو. تاسو د نړۍ نورو ړخونو ته هم تللي ئې هغې خبرې به هم آؤرو. افضل ارماني صاحب د ټل نه ټيليفون کړے دې او ګورو چې څه وائي څه پوښتنه لري:

افضل ارماني: (سلامونو نه پس) ډاکتر صاحب نه زما دا پوښتنه ده چې دې به امریکه کښې څومره وخت تېروي، بیا به پاکستان ته راځي او که نه؟

وکیل خان: ایوب مروت صاحب هم ټېلیفون کړې دې فکر کوم چې د لکي مروت نه دې۔

ایوب مروت: (سلامونو نه پس) ډاکتر صاحب نه تپوس دې چې دې مروت خو نه دې؟ بل تپوس مې دا دې چې دوئي څومره سفر نامې تحریر کړي دي؟ او نومونه ئې څه دي؟

وکیل خان: ډاکتر صاحب مروت صاحب ته به څه وائې؟

زه: مروت صاحب خو مې کلیوال دے خدائے دے روغ لري چې تپوس مې ئې اوکړو۔ زه ئې ده تاجه زې کلي یم۔ مروت تسمیه راسره تړل کیږي ځکه چې مروتو علاقه کښې آباد یو۔ خو اصل کښې پیران سېدان یو۔ د پیر سباک کلي نه راغلي یو چې هغه د نوښار کښې دے۔ پیر سباک مې دولسم پشت کښې نیکه ؤو۔ خو اوس به مروتو حسابیږم، که اصلي یم او که نقلي یم ځکه چې اوس مروتو کښې رشتے دي، او واده مې

هم لکي مروت مینه خېل فېملي کښې کړې دي. کور ودانه مې هم ځان سره راوستې ده نن سټوډیو کښې. ادب په حواله مې هر یو صنف کښې کار کړې دي. سفر نامه خو مې اوس وخت پورې یوه لیکلې ده، راځئ چې سېل اوکړو (ګمبیلې نه تر کلائیډ). ګمبیله نوم دریاب خو به مو اورېدلې وي چې لکي مروت کښې دې، او کلائیډ په سکاټلېنډ کښې دریاب دې. ګلاسګو ښار پر دې غاړو آباد دې. د ملا هډوکي په شان ئې حساب دې ځکه چې ګلاسګو ټول تجارت پر دې دریاب سره تړلې دې. اهم مقامات ئې هم په دې دریاب په غاړه دي. ګمبیله د لکي سره تېر شوې دې او زما کلي تاجه زئ نه پنځه میله لرې دې. اکثر اوچ وي خو مونږ ده پاره بیا هم ښه ده که اوبه ئې تروې وي او که خوږې. ځکه چې اوس مو یو شناخت جوړ دې.

وکیل خان: افضل خان د ټل تپوس ځواب هم ورکړئ خو په هم دې حقله به زه هم تپوس اوکړم چې تاسو ذکر اوکړو چې امریکي سفارتخانې کښې ستاسو د وراره ښځه کار کوي نو په دې حقله اورېدونکو د فائدې د پاره تپوس کؤم چې ایا د ویزے تر لاس کولو په سلسله کښې هم چرته سفارتخانے سفارش چلېږي او که نه؟

زه: زما خیال دې چې داسې نه چلېږي څه سفارش. خو وخت سره طریقو کښې بدلون راځي. اوس مونږ په یویشتمې پېړۍ کښې یو او هر څه کمپیوټر په ذریعه کېږي او زما مسله دا ده چې د دې پېړۍ یو شي هم نه پوهېږم. هغې ته چونکه چل ورتلو نو هر څه ئې راته برابر کړل او زما application کښې څه کمې نه وو پاتې. کله چې انټرویو په سفارتخانې کښې اوشو نو په هغه وخت د دې هم هلته ډیوټي وه. ما ته راغله او تپوس ئې اوکړو چې چاچا ستاسو کار اوشو که نه؟ ما ورته ووېل چې اوشو ډېره مهرباني. پاته شوه واپسي، نو دېرشم په نېټه به واپس ګرځم پاکستان ته.

وکیل خان: دلته تاسو راغلي ئې د نړۍ نورو برخو کښې هم ګرزېدلي ئې په امریکه کښې تاسو ته د دې ځي څئينه، یا د دې ځي خلقه، کوم کوم شي کښې زیات تاسو متاثره ئې؟

زه: زه خو اصل کښې دلته د رحمان بنېري ته خپل سفرنامه ورکولو په سلسله کښې راغلې وومه خو تاسو چې اومونتم نو خپل کار مو هم رانه واخستو. نو ما وئېل چې زه به ډېرې خبرې اورم او کؤم به ئې نه. بنځې هم راته وئېله چې ډېرې خبرې دې کړې نه وي. عمر تقاضه خو داسې ده چې کور کښې مې آرام کولې.

وکیل خان: (خندا) زه به غواړم چې ستاسو کور والا هم سټوډیو ته راوغواړم چې ستاسو خوندنا کې خبرې واوري. که ستاسو اجازت وي را به ئې ورو ځکه چې باهر راته کوري نو په شریکه به خبرې اترې اوکړو.

زه: بالکل اجازت ده.

وکیل خان: (اشاره اوکړي) قدرمندو آؤرېدونکو مونږ سره ډاکټر چراغ حسین صاحب په سټوډیو کښې راغلي دې. ادیب، سفر نګار، او تاریخ پوه هم دې. امریکه ته یو څو میاشتو له چکر له راغلي دې، دلته خپل خپلوانو سره پاته کېږي. پېشې په اعتبار ډاکټر هم دے، یو د PhD ډاکټر وي، بل د ستنو وال ډاکټر وي، نو زمونږ مېلمه ساته ټکو کښې د ستنو وال ډاکټر دې چې خلقو ته ګولۍ او دوائیانې لیکي. او که زه خطا نه یم نو مشهورو ادیبانو سره په جېلونو کښې هم پاته شوي ئې. د دې تپوسونه هم ترنه کومه خو دا به هم راته وائې چې کله ما تپوس اوکړو چې د دې ځي خلق او ځائینه، نو تاسو وئېل چې کور والاؤ منې کړې ئې چې ډېرې خبرې به نه کوې. نو پښتانه خو د زناناؤ نه منې، تاسو څنګه د دې الټه چلېږۍ د دې هل به راته وائې؟

زما کور وال: (په هلکه آواز) زه مو څه د پاره راغوښتې یمه؟

زه: ته دلته کښېنه خير دې.

وکيل خان: تاسو کښېنئ ډاکټر صاحب ډېرې خوږې خبرې کوي وائي چې کور واله راته وائي چې ډېرې خبرې به نه کوې. تاسو ولې داسې ورته وئيلي دي؟

زما کور وال: په دې حقله چې دی بيا ستړې شي.

وکيل خان: نو مطلب دا چې تاسو ئې ډېر خيال ساتئ. اسې هم چې اولاد کله ستر شي او عمر د پنځوسو نه واوړي نو ښځه خاوند خپله کښې مينه نوره هم زياته شي. دا رشتيا دي که اسې خبرې دي؟ زما د کور تجربه خو داسې وائي ځکه چې کله به مونږ واړه وو نو مور به زمونږ سائيله اخستو. اوس چې مونږ لوئې شؤو نو د پلار سائيله اخلي.

زه: زه به خپله خبره درته اوکړم. زمونږ والد صاحب دې خدائې اوبخښي، هغه خو 1981 کښې په حق رسېدلے وو. مور مو اوس په دې نژدو وفات شوې ده، زما په فکر 2011 کښې. کتاب مې هم دوئي سره منسوب کړې دې. زمونږ والد صاحب حج ته په داسې وخت تلو چې آخري عمر ئې وو. ما ورته وئيل چې کله د تلو عمر وو نو ته نه تلې، او

اوس چې ته په دې عمر ځې نو دا خو ټيک نه ده۔ ته يوائې مه ځه ځان سره به څوک بوځې۔ خپل مشر ورور مې ورته ياد کړو چې هغه دنيا کښې ډېر ګرځي نو بلد به ډېر وي۔ پلار مې راته غصه شو چې ورور دې خپل کار دې او زما خپل۔ ستا د مور په ما باندې حق دې۔ ما زړه کښې وئيل چې شکر دې چې دا خو دې اومنل چې ښځې درباندې حق دې۔ پښتنو خو داسې خوئې نه دې، خو زه وايم چې زما ښځه که چې څرنګه هم ده، خو زما ئې ډېر خدمت کړې دې، په ما ئې ډېر احسانات دي۔ دا اوس هم ما تاسو ته خبره اوکړه، چې غوښتې خو د ورور دې وه، خو دې ورور ته ووېل چې ما بې خدمته نه شي پرېښودې۔ او که څه واقعه خدائې مکړه پېښه شوه، نو زه ټول عمر ډېره ملامته يمه۔

وکيل خان: ښکلې خبره مو اوکړه۔ ښځو خو ډېر حقوق وي او بايد چې د دوئې ډېر زيات خيال اوساتل شي۔ دا ډېره غټه قرباني ده خو د دې نه مخکښې چې دوئې نه نور تپوسونه اوکړم، مونږ سره يو اورېدونکې په لائن دې۔ سيف الله راجه صاحب د بلوچستان نه ټيليفون کړې دې۔ پخېر راغلې سيف الله صاحب۔

سیف الله راجه: (سلامونو نه پس) ډاکټر صاحب نه ما پوښتنه دا ده چې دوئي د بلوچستان باندې هم لیکل کړي دي که نه؟ که نه ئې وي کړې نو زه ورته وایم چې بلوچستان ته دې هم مونږ. پله راشي دلته هم ډېر ښکلي ښکلي ځایونه دي لکه مسلم باغ، فورټ سنډه، قلع بند، او داسې نور ځایونه۔

وکیل خان: سمه ده سیف الله صاحب نن خو مو اورېدلي دي چې په بلوچستان کښې هم واوره ورېدلې ده تاسو خو په خپله باهر نه شې راوُتې نو ډاکټر صاحب په دې عمر ولې په تکلیف کوې؟ خو خیر، درځي به خوامخوا تاسو غوږ اونیسۍ۔ راځو د ډاکټر صاحب کور والا طرف ته۔ تاسو که اورېدونکو سره تعرف اوکړئ نو او ئې کړې، خو تاسو هم تاثره ورکړې چې د یو زنانه په حېث تاسو دلته څه اولیدل او محسوس مو کړل؟

زما کور واله: ډېره مننه، ټولو نه اول خو به دا ووایم چې ویزه ئې راته ډېره په آسانه راکړه، زما خیال د سینئیر سیټیزن په حقله باندې، دلته چې راغلو نو دلته مو ډېر ښه تاثر وو۔ دلته خلق هم ډېر زیات ښه دي۔ مونږ چې چرته هم تللي یو ئې مونږ ئې ډېر خیال ساتلې دې۔ ما خو د امریکې متعلق

ډېرې خرابې قیصې اورېدلي وې خو په خپله سترګو مې دلته داسې څه هم خراب نه اوګل۔

وکیل خان: دلته چې تاسو ګرزېدې نو نور پښتنو زنانو سره ملاقاتونه اوشول که نه د دوئي ژوند په حواله تاسو څه تاثرات دي؟

زما کور وال: زما ورور ډېر social ده او دلته پښتنو community سره ئې ډېر تعلقات دي، مونږ تقریباً ټولو سره ملاقاتونه اوکړل۔ دوئي روټې ګانې اوکړې، ملاقاتونه ئې هم اوکړل۔ ډېر عزت ئې را کړو۔

وکیل خان: دلته هم زمونږ همکاره ثمینه احسن په سټوډیو کښې تاسو سره ملاقات اوکړو، تاسو زمونږ په دفتر ماحول کښې د زنانو په حواله څه تاثرات دي؟

زما کور وال: زما دا تاثر دې چې ټولو ډېر عزت سره خبرې او ملاوېل راسره اوکړل۔ ماحول په حقله بالکل داسې نه اولګېدل چې مونږ دلته په امریکه کښې یو۔ داسې ښکاري چې چرته پښتنو په وطن کښې ناست یو۔

وکیل خان: ډاکټر صاحب په وطن کښې ډېر لوئې نوم لري۔ ادیب دې، لیکوال دې، بیا د ډاکټرۍ پېشې سره پاته شوې دې، د یو کامیاب سړي

د مېرمن په حېث ووائې چې تاسو ته څنګه محسوسېږي چې يو کامياب سړي سره ژوند ګټه ور وي، او آسان وي که نه؟

زما کور وال: کامياب سړي سره ژوند ډېر زيات آسان وي۔ اصل کښې چونکه زما ډېر زيات خيال ساتي، نو ما ته څه پرواه نه وي چې که دوئي خپل ملګرو سره ملاوېدل را ملاوېدل کوي، په ګنټو ګنټو باندې ليکل او ګپ شپ لګوي، دروازه ئې بنده کړې وي۔

**وکيل خان:** اکثر زنانه وائي چه خاوند زما د برخې وخت نه راکوي۔ نو دومره مصروفياتو له عمله تاسو خپل تجربه ووائې۔

**زما کور وال:** زه چې اول واده ومه ما ته بالکل ډېره عجيبه ښکارېده چې دوئي به ځان پسې دروازه بنده کړې وي۔ ما ته به فکر وو چې خدائې مه که چې څه پرې شوې نه وي۔ ما به ورته همېشه دروازه ډبوله او دوئي به په غصه کښې وئېل چې څه دي۔ ما به وئېل چې بس چې ټيک ئې دا خته خبره ده نوره خېر دې۔

**وکيل خان:** ډاکټر صاحب تاسو راته رائې راکړې چې ستاسو د ژوند کښې هلو ځلو او کاميابو تر شا د ستاسو مېرمن څومره لاس دې؟

زه: وائي چې no life without wife او بل دا چې ښځه چې سړي سره cooperation کوي نو هغه سړی ډېر څه په ژوند کښې کولې شي۔ او زه دې د پاره عم دعا غوارم او ځان د پاره ئې غوارم زکه چې زما کور والې زه ژوند کښې چرته هم نه يم تنګ کړې۔ هغه بله ورځ ډېره عجيبه غوندې خبره وه۔ زما يو مشره لور ده چې ډاکټره هم ده۔ وئېل ئې چې بابا سره چې خبره کوې او دی لا اخبار وائي لا کتاب وائي، نو اوس سره ځواب راکوي۔ نو زما مور د اوس سره ګزاره کړې ده، نو خدائې به ئې زما په سيلې کښې بخښي۔ بل چې مونږ ليکوالان يو، زمونږ مزاج بل نمونه وي چې دې دنيا به نسبته خلائي مخلوق غوندې وي، خو ښځو مزاج نه ته هم خبر ئې، زه هم خبر يم، چې دوئې وائي چې مونږ ته توجو ډېر وي۔ که دنياوي لحاظ وي، نو د رحمان بابا او زما يو رنګ حال دې۔

وکيل خان: وخت راسره کم دې، خو تاسو ذکر اوکړو د باچا خان او د غني خان۔ باچا خان وائي چې هغه کام، يا هغه خلق چې ښځو ته د خپل رول لوبولو اجازه نه ورکوي، نو هغه ترقي نه شي کولې۔ تاسو په دې حقله څه وائې؟

زه: باچا خان خو ډېر لوئې شخصیت وو. ښځو څه، بالکه د پښتنو ټولو حقوقو د پاره جنګېدلې دې. او د کورنۍ چې کومه ده، هغه د ښځو آزادۍ د پاره ډېرې قربانیانې دې. دا اول وار وو چې ما کور واله یو mix gathering ته وردننه کړه کله چې زما لور د مېټرک امتحان کښې د څلور واړه بورډونه ټاپ کړل. زه حېران وم ځکه چې ما د خپلې لور سره چرته خوارې نه ده کړې. خو دا ئې ټول د مور تربیت وو. روستو بیا د کورنۍ هاؤس کښې یو فنکشن وو، نو ما ورته وئېل چې رازه چې تا هم ځان سره بوځم. ځکه چې دا ټول فخر او اعزاز ما ته ستا د وجې ملاوه شوې ده.

وکیل خان: ډاکټر صاحب وخت ډېر لنډ دې، په تلو تلو کښې څه لنډ غوندې پیغام که ورکولې شې.

زه: زه پښتون یم، نو پښتنو ته پیغام ورکوم چې خدائې د پاره یو ځائې شې او اتفاق پیدا کړې. او به هم شي، خو خدائې دې پکښې یو کرِسمه ساز charismatic لیډر پکښې پیدا کړي، بالکه د ټول ملک د پاره د دعا کوم. خلق شته چې په هر شعبه کښې لګیا دي خدمت کوي خو یا خو زمونږ قوم فطرت داسې دې، لکه چې څرنګه پرېشان خټک خدائې بخښلې وئېلي وو چې تاسو چرته د زمرو جته کټلې ده؟ پښتانه خو اصل کښې د

ځنګل زمري دي. خو ما په خپله په تي وي د discovery کښ د زمرو جته يقيناً ګټلي ده او وايم چې که ډېر هم نا اتفاقي وي، خو جته جوړېدې شي. بل دې دوئي په ځان نه غلطېږي چې مونږ پښتانه يو، او مونږ د دنيا ټولو نه بهترين قام يو، تاريخ نه، بالکه دا تپوس دې اوکړي چې نن دوئي څوک دي؟ نن سبا به د علم او تکنالوژي په مېدان کښ مخکښې ځان اوباسې. دا چې تاسو کښ نه وي راغلې، نو ټوپک او په چاړه نه کېږي.

وکيل خان: تاسو به څه وئېنا غواړې؟

زما کور وال: بچو تربيت دې ښه کوي. ولې، چې که ان پړه مور وي، خو بچيو تربيت دې ښه وکي نو بچي به ښه تعليم هم تر لاس کړي.

وکيل خان: خوږو اورېدونکو دا وو زمونږ مېلمانه او پروګرام وخت پايه ته اورسېدو. (اختتامي خبرې)

**Richmond رچمنډ**

**۱۶ جنوري ۲۰۱۷:** رچمنډ ښهر د ورجينيا رياست دارالخلافه ده. ورجينيا ښهر نه ئې دوه نيمو ګنټه فاصله ده. دلته د سعيد خان مشره لور رښا په مېډيکل سکول کښ سبق وائي. او مور ئې د پينځلسو ورځو پس

کور ته راولي۔ دې ځل زه هم ورسره رچمنډ ښهر او د دې مېډيکل سکول او د هاسټل کتلو د پاره ورسره لاړم۔ ورجينيا کښې دوه يونيورسټيانې دي۔

1. د ورجينيا کامن وېلت يونيورسټي Virginia Commonwealth University چې مخفف ئې VCU مشهور دې۔

2. ورجينيا يونيورسټي Virginia University

مېډيکل سکول ئې د VCU سره تړلې دے۔ د دې نه پرته انجنئيرنګ کالج، آرټ کالج، د ايکونومکس economics کالج، او جېنېټيک Genetic کالج هم د دے يونيورسټۍ برخه دي۔ دا ټول کالجونه يو بل سره نزدو نزدو پراته دي۔

د ايف ايس سي پاس کولو نه پس دې مېډيکل سکول کښې داخله مونتې ده۔ دا د اتو کالو کورس دې خو اوس د اولنئ دورانيه 1st term پاس کړې ده۔ فی الحال دې نېز مضامين وائي:

1. بيالوژي biology

2. کېلکولس calculus (رياضي شعبه)

3. پیتھولوژي pathology

4. کېمسټري chemistry

5. انګرېزي

زما دلته یوې بلې عربۍ جینۍ سره دلته د هاسټل په یو اپارټمنټ کښې اوسېږي۔ دې اپارټمنټ کښې دوه کمرے او یو بات روم دي۔ یوه کمره د اوسېدو د پاره، او دویمه د مطالعے د پاره۔ اولنۍ کمره کښې یو فریج او وړو مړو خوراک د تیارولو سامان او دویمه کښې مطالعے مېز او کرسۍ پرتې وے۔

## بے کوره خلق

کله چې باهر راووتو او د رچمنډ ښهر د کتو ته ګرزېدو، نو د سړک په غاړه یو څو سپین او تور پوستکي کسان اولیدل چې لاسونو کښې ئې چارټونه پمفلټې pamphlets نیولي وې۔ ورباندې لیکلي وو چې د بے کوره خلقو امداد دے خلق اوکړي۔ ما هم یو څو سیکې coins دوئې ته ورکړې۔ هسې دا ډېر درانه سوال کړي وو۔ ټولې ئې هیڅ هم نه غوښتل، چغې سورې نه وهې، او نه په لار تلونکي لار وهونکو کېږې شلوي۔

## د صدر ټرمپ سوګند پورته کول

**۲۰ جنوري ۲۰۱۷:** نن په ټي وي د صدر ټرمپ د سوګند اوچتولو يو دستوره په خپل سکرين ښکاروله. دستورې نه پس پخواني صدر اوبامه ئې په سرکاري جهاز کښې هوائي ډګر ته اورسولو او د دې نه پس د ده سرکاري مدت ختم شو او دې بيا يو عام شهري په توګه يو رېل ګاډي کښې شکاګو ته روان شو. دې به اوس په يو عام کرايه کور کښې اوسېږي تر څو ئې خپل کور نه وي جوړ کړې.

د جمعې مبارکه ورځ وه. سحر د ناشتې نه پس د سر او بږيرې د وېښتو خره ولو د پاره جيني ګل سره د يو باربر barber يعني نائي دکان ته لاړو. دلته يو سېلون saloon کښې صرف د سر وېښته کټ trim کېږي. د سر او د بږيرې دواړو د خره ولو او د سمولو د پاره به باربر barber ته ځې. داسې مې د باربر او د سېلون مېنځ کښې فرق اوپېژندو. دکان کښې دوه حجامان وو. يو نر او يو ښځه. زما نمبر د ښځې باربرې سره راغے. دې وې چې زه د ويتنام اوسېدونکے يمه. زما يو تربور په پاکستان کښې دے او زه پاکستان ته تللے يمه. او دا کار يعني وېښته لنډول د دوئي په طبع مطابق

کولې شم. ۲۲ ډالر ئې د دوارو کارونه واخستل، او ۳ ډالر مې جینۍ ته په ټپ tip کښې ورکړې.

د جمعې لمنځ د پاره د درېم ټائم جمعې ته شېراډ هوټل ته لاړو خو هلته پته اولګېده چې نن به د جمعې لمنځ په وېسټن Westin هوټل کښې کېږي. جلال راسره وو. جمعه په پاؤ کم درې بجو اوشوه. او د دې نه روسته د مازدیګر لمونځ مې هم په دې جماعت کښې د جمعې سره وکړو. د جمعې لمنځ امام یو ځوان هلک وو. د قومیت پته ئې نه لګېده. خطبه کښې ئې د سیدنا ابراهیم علیه سلام قیصه بیان کړه. مؤذن یو مصري ځوان وو، او د جلال هم جماعتي وو. د امام صاحب وړه شان سپینه ږیره وه. مؤذن وې چې امام صاحب د نائجېریه Nigeria دے.

ماخوستن روټۍ سعید خان حاجي بیان ته کړې وه. هغه سره د کور والاؤ او د بچو راغلو. ښه ګپ شپ اولګېدو. حاجي بیان اکثر په سیاسي موضوعاتو ښه په دبنګ او پر اعتماده انداز کښې خبرې کوي. د یو سیاسي پوهان او ځیرنګار تاثر ورکوي. او یارانو باندې د ده دا بڑے بڑے خبرې بدې لګي. مخامخ خو غږ نه کوي او روستو ئې غیبت کوي.

# د ښځو حقوق مارچ

**۲۱ جنوري ۲۰۱۷:** نوي جوړ شوي امریکې صدر په خپل پرېس کانفرنس کښې د ښځو د حقوقو په باره کښې یوه زړه آزاده بے خونده تضحیکي ریمارکس پاس کړي وو. په دې د ټول امریکې ښځې د غصې نه اور بڅري وې. دوئي د دې خلاف واشنګټن ډي سي او نور ښهرونو کښې جلوسونه، جلسے، او تقریرونه کول. د پوټومېک دریاب په غاړه مال روډ باندې اووه میلینه ښځو احتجاج کولو. لاسونو کښې ئې لوئې لوئې بېنرے اوچتے کړې وے. چېورباندې دا ناره په غټو غټو تورو سره لیکلې وه Trump not our President یعني ټرمپ زمونږ صدر نه دے. مونږ خو دا هر څه د ټېلیویژن په پرده کتل. د سعید خان دواړه لونړو ته د مور او پلار سره سم ډېر بحث او تکرار نه پس مظاهرو کښې د ګډون د پاره واشنګټن ته د تلو اجازت ملاؤ شو.

# غازي خان ميا خېل ننګرهاري کور کښې روتۍ

**۲۳ جنوري ۲۰۱۷:** غازي خان يو ائي ټي IT انجنئير دے۔ د نن روټۍ د ده په کور کښې وه۔ ده يو خپل نسيم خان ستانه زئ هم رابللې وو۔ نسيم وائس آف امريکه کښې د يو مترجم کار کوي۔ سعيد خان د ده علميت ډېر صفت کولو او ډېر ورنه متاثر وو۔ ده وې چې نسيم په خبرو کښې شپون بر دے۔ ما ورته اووېل چې شپون خو د غټو کتابونو مصنف دے او يو بين الملي شهرت لري۔ دا نسيم ستانه زئ ادب ته کومه ورکړې؟ سعيد خان څه نور معلومات نه لرل۔

په دې موقع ډاکټر رؤف هم د خپلې مخصوص مسکان سره ناست وو۔ بنون علمي سياسي او ادبي موضوعاتو خوږې خبرې اوشوې۔ اسلام کښې د اجتهاد په اهميت او ضرورت هم بحث اوشو۔ او زما د توقع برخلاف نسيم ډېر سترې خيالاتو څښتن اوختو۔ د پښتو نامتو سندرغاړۍ او افغاني لېجنډ فنکار ناشناس په فن هم خبرې اوشوې۔

نسيم وې چې ناشناس خو د هندوستان د يو پخواني سندرغاړي سېګل سره هم سري کوي۔ د ټکر فن خو د ناشناس درېمې برخې ته هم نه رسي۔ ما

ورته په خندا کښې ووې چې ستاسو د ناشناس آواز خو زمونږ د پاکستان یو بل د اردو سندرغاړي حبیب ولي محمد سره ملاویږي۔

# امریکې کښې آخري سوداګانې

**۲۹ جنوري ۲۰۱۷:** نن مونږ سحر د ورجینیا په یو سټور کښې تېر کړو۔ اصل کښې جیني د خپل یو اخشي او د زوئې د پاره دوه موبائیلونه بیعه کول غوښتل۔ زما ښځې هم زما د پاره یو ښه موبائیل د لټون کوښښ کولو۔ جینئ خو د خپلې یوائحې نیازبین زوئې ته یو بهترین موبائیل په کار وو خو ما خو صرف کار چلول مقصد وو۔ جینئ به هر یو موبائیل کښې څه نه څه نقص په ګوته کولو۔ زما مسله دا وه چې یو کیو Q موبائیل مې خوښ شو خو دکان دار ویل چې دا به د څلوېښتو ورځو پس ملاویږي۔ دلته مونږ صبا ته روان وو۔ اوس که دې موبائیل په پاکستان کښې کار نه کولې او کمپني وال هم په سمولو هلته نه پوهېدلې نو بیا به دا یو فضول تاوان وو۔

عجیبه خبره دا وه چې د کیو موبائیل چیني ساخت موبائیل قیمت دلته په امریکه کښې تقریباً هغه همره ډالرو کښې وو څومره چې کلدارو او روپئیو

په پاکستان کښې ملاوېدو۔ داسې مونږ ټول سټور ښکته پورته کړې کړو خو یو موبائیل مو خوښ نه کړو۔ جېنۍ سره دا یره وه چې داسې نه وي چې د ده فېشني زوئې د دې خوښ کړي موبائیل په طبیعت راس نه شي رائې۔

د سټور ته د تلو په لار زما نظر په یو بورډ پرېوتو چې وربانديې لانګ فېلو Long Fellow سټریټ لیکلې ؤو۔ پوره نوم ئې هېنري واډز ورت لانګ فېلو ؤو چې یو امریکنې شاعر وو۔ د ده یو څو اشعار به اکثر مونږ په سکول په کاپیانو به لیکلي وو۔

The heights by great men reached and kept were not attained by sudden flight, but they, while their companions slept, were toiling upward in the night.

ترجمه: د عالي مرطبې خلق چې نن په کومو اعلی ځایونو ناست دي، دوئي په یو ټوپ یا الوتلو دې ځائې ته نه دي رسېدلي۔ دوئي نور ملګري به چې کله په بسترو کښې اوده وو نو دوئي به په ټوله شپه په هڅو کښې مصروفه وو۔

نن د اخبارو غټ خبر دا وو چې د دوه ویت نامیانو Vietnamese لاشونه د ورجینیا په مېکلین نومي ښهر کښې مونتلي شوي دي۔ دا تنان قتل شوي وو۔ دوئي دوه ورځې مخکښې د چین د پاره د امریکې د جاسوسي په شک کښې سي ائي اے CIA والاؤ نیولي وو۔

## بائیک او موټر بائیک فرق

زما زوم ثناء الله خان د موټر سائیکلانو ډېر شوق لري۔ او دوئي د آل پاکستان د رېس مقابلو کښې هم اکثر برخه آخلي۔ ده ځواب راستولې وو چې ما ته د موټر سائیکل د سواره د لاس دستانې راوړي۔ دا به په کومو سټورونو کښې په لاس راځي؟ او بیعه به ئې څومره وي؟ جینئ دې د پاره ټول انټرنېټ چاڼ کړو۔ پته اولګېده چې دلته د سائکلانو د دستانو gloves خو ډېرو سټورونو کښې ملاوېږي۔ خو د موټر سائیکلانو دستانې په یو دکان کښې هم نه وي۔ د ډېرې ستړیا نه پس کمپیوټر د رچمنډ په روډ یو سټور په ګوته کړو۔ آخر هغې ته ورغلو او د دستانو یوه جوړه مو په ۵۸ ډالره بیعه کړې۔ ما د دکان دار نه تپوس اوکړو چې دا صرف په دې سټور کښې ملاوېږي؟ د دې څه وجوهات دي؟ نو ده ووې چې دا قسم

دستانې ورجينيا کښې صرف په دوه سټورونو کښې ملاوېږي. يو دلته، او بل د ښهر په بل لوري يو بېل سټور کښې. د ورجينيا خلق د موټر سائيکلو نه زيات د سائيکلانو سواري خوښه وي.

دويم وخت د سعيد خان د کور سره جوخت ګوانډي عبدالحميد خان روټۍ کړې وه. حميد خان د پېښور ښهر اوسېدونکے دے. د پېښور په يو بېنک کښې ئې نوکري کړې وه. روسته څه موده ئې UAE متحده عرب رياست په بېنک کښې ملازمت کړې وو. د ريټائرمنټ نه پس دلته امريکې ته راغلو، چرته چې د ده نور خپلوان هم اوسېږي. او دوه زامنو ئې هم دلته تعليم ترلاسه کولو. دې اوس دلته خپل کاروبار کوي.

ما ورنه د اسلامي بېنکونو په نظام خبره وکړه نو ده ووې چې ما د دې ټرېننګ کړې دې. دا د نورو بېنکونو نه فرق لري. چې دلته مونږ دا فرض ګنړو چې د چين نه درآمد کړي سل روپو مال دلته په لس باندې سل خرڅېږي. مونږ دا منافع د بېنک کهاته دار ته ورکړو او زائد د بېنک مال وګرځي. رښتيا خبره دا ده چې زه د دې په شرعي جواز او منطق ده سم نه کړم پوئې خو روټۍ ئې ډېره مزېداره وه.

# د شپې برف باري او واپسی

## ۳۰ جنوري ۲۰۱۷:

ټوله شپه برفباري وریدلې وه او د برف ګولۍ پرېوتې وې. سحر په ټولو ونو پاڼو بوټو او د کور مخکښې سړک باندې د برف ګولې پرېوتې وې. خاص کر د سعید خان د کور دروازې سره ولاړ بوټي باندې دا ګولۍ د سپینو ګلونو د ټوسو (شګوفو) په شان د فطرت د ښکلا یو نظاره او تماشه وړاندې کوله. په آسمان توره وریځ خواره وه.

## ۳۱ جنوري ۲۰۱۷:

آخر د امریکې نه زمونږ د واپس راتلو ورځ له خېره راغله. نن په هغه زړه لار زمونږ اتحاد ائر لائنز کښې د ډلس Dulles د هوائي ډګر نه ابو ظهبي ته واپسي وه. سحر د سعید خان ملګري سره د خپلو ښځو د آخري ملاویدو د پاره راغلل. په دې موقع څه جذباتي مناظر هم په نظر راغلل. ښځې هسې هم ډېرې حساسې او جذباتي وي. هر چا ته خپل وطن خله خاوره او خپل کور وریادېږي. افغانیانو ته د خپل مهاجرت د استوګنې د تعلیم او د ملازمت ډېر وخت په پاکستان کښې تېر کړې وو. او نن د افغانستان او

پاکستان دوارو خوارہ یادونه دؤی ته وریادیدل. دوئي مونږ ته څه تحفې هم د ځان سره راوړي وې. د سعید خان مشره لور د رچمنډ یونیورسټي نه په مخه ښه ټېلیفون وکړو او نېک خواهشات او بخت او د تخت دعاګانې زمونږ په لوري نه راتولې کړې.

د اتحاد ایرلائنز د الوت پروګرام د ماسختن وخت وو. مونږ مازدیګر وخت د سعید خان د کور نه روان شو. دې او جېنی ګل راسره وو. په ډلس هوائي ډګر دوئي مونږ په نم جنو سترګو رخصت واخستو. د کلئېرنس نه پس مونږ د جهاز انتظار ګاه په لور روان شو. زه چونکه د معذورانو په کرسۍ ناست وم، یو تور پوستکي امریکي زما دا کرسۍ راښکله. زما جولۍ کښې هغه همسا وه چې ما په مکه معظمی کښې بیعه کړې وه. دې په سر کښې یوه د شیشې بلورین ګولۍ هم لګېدلې وه. باره دریو کښې د ګرزېدو سره هغه چرته اوغورزېده. یو ځائې ما د دې د ورکېدو خبر د تور پوستکي حبشي جهاز ملازم ته وکړه.

هغه زه په یو پراخ ځائې کښې اودرولم، او خپله په رېل ګاډي کښې کښېناستو. د رېل پټرې د برآمدو سره تېر شوې وه او ټول ائرپورټ نه راڅرخېدلې وه. مونږ دلته کافي موده انتظار وکړو او دا خدشه راسره پیدا

شوه چې چرته جهاز رانه لاړ نه شي۔ امسا خو چرته مونده نه شوه خو حبشي ملازم راورسېدو۔ دا یو خنده رویه د ښو اخلاقو خاوند سړے وو۔ او مونږ ئې په خبره انتظارګاه کښې کښېنولو۔ د الوتو وخت شو او مونږ په جهاز کښې خپل سیټونه سنبال کړل۔ ما سره یو پاکستانی ناست وو چې امریکن سټېټ ډپارټمنټ په عربو ځانګې کښې ئې کار کولو۔ ده وې چې یو عرب ملک سره د امریکې د لور تر ۵ ملیونه په لوظ نامې کولو ماته اختیار ده۔ خو امریکې حکومت دې لوظ نامو کښې د څه قسم غلطي یا خورد برد کولو د زغملو ګنجائش په هیڅ رنګ نه راکوي او که ملزم چرته خپل ملک ته اوتښتي او پټ شي نو د امریکې حکومت دې د پاتال نه هم راپیدا کړي۔

امریکې عدالت ته ئې مخامخ کړي او د پلارني ملک د احتجاج پرواه بغېر ورته سزا ورکړي۔ ده د یو هندوستاني مثال ورکولو چې یوې لوظ نامې باندې ئې غلط دستخط وکړو۔ او خپل ملک ته اوتښتېدو۔ د امریکے CIA وال ورپسې وو۔ او کالونو پس ئې په څه بهانه بېرته امریکې ته راوستلو۔ د مقدمے نه پس ئې ورته سزا ورکړه۔

# د ابو ظهبي هوائي ډګر ورک مونتلي

د ابو ظهبي په هوائي اډه یوه پیښه وشوه. د هوائي عملې والاؤ زه په یو معذورانو کرسۍ د ځان سره روان کړم. زمونږ په بورډنګ کارډ ۴۴ نمبر لیکلي وو، چرته نه به چې مونږ د پاکستان ته الوتونکي جهاز کښې سوریدو. وخت لا ډیر وو. زه د عملې کس په یو ځائې اودرولم. دې خپله چرته لاړو دې ویښا سره چې د جهاز د وخت نه په ګنټه نیمه مخکښې به راشم. هلته یو څو نور مسافر هم ناست وو. خښنې مې ښځې سره څه مصلحت وکړو او ویل ئې چې مونږ د دې ځائې تیکس فري شاپ کښې څه ضروري سوده اخلو.

که خیر وي په ۴۴ نمبر ګیټ به ملاویږو. خیر وخت وو تیر شو. د عملې ملازم راغلو زما ریړه ئې په مخه کړه. په لار ئې د معلوماتو د یو کس نه تپوس وکړو. هغه ورته ووې چې لسم نمبر ګیټ. دا دویم ځل وو چې عربیانو په عین وخت ګیټ بدل کړي وو. مونږ د ګیټ نمبر په انتظار ګاه کښې په انتظار وو. دلته وخت لالنډیدو چې جهاز ته د سوریدو اعلان وشو. ماسفران تقریباً ټول جهاز ته ننه وتل. زه یوائې پاتې شوم. دوه

ځوانانو او یو پوخ عمر د عمرې نه راتلونکي کس زما د پاره ډېرې مندې وهلې خو کور ودانې او د هغې خور هيڅ پته نه لګيده۔ زه حيران وريان غصه ناست وم چې خدايه !! څه وکړم۔ که پاکستان ته لاړم خو خپلو لوڼو ته به څه تسلي ورکوم چې ستاسو مور زما نه ولې بې درکه شوه۔ آخر مې د يو پوخ عمر سړي نه پته او موبائيل نمبر واخستو چې ګواه چې وي۔ حبيب خان، مکان نمبر ۵۰، ټنډ کوئي، پېښور ښهر، 03369142832، دا چيټ مې جيب ته واچولو او روستو مې يو د حسرت الوداعي نظر سره مې اوکتل۔ څه ګورم چې دواړه خوئيندې تېزې تېزې په منډه، سا ئې لنډه لنډه راورسيدے۔ دوئي اصل کښې په ګيټ نمبر ۴۴ انتظار کولو۔ ما په خوله خو مې ورته غصه وکړه خو په زړه کښې مې د پاک خدائې شکر ادا کړو۔

جهاز کښې يو هلک راسره هم سفر وو۔ د تېلو انجنئير وو۔ د اټک اوسېدونکې وو۔ نوې واده ئې کړې وو۔ د واده نه يو څو ورځو پس نوکرۍ ته واپس ابو ظهبي ته تللې وو۔ وې ئې چې زما سخر به د اسلام آباد په هوائي ډګر د ده ته په سترې مشي ته ولاړ وي۔ ښځه مې زما پلار سره په اټک کښې ده۔ هغه د شرم و حيا نه اسلام آباد ته نه ده راغلې۔ زه شپه به سخر سره کور کښې مېلمه يم۔ په دويمه ورځ به له خبره اټک ته رسم۔

مونږ سحر په شپږ مال دوه نیمې بجې د اسلام آباد په هوائي ډګر کوز شو۔ د سامان وغېره د کلئیرنس نه پس چې باهر راووتو نو ماجد خان ورسره د لمسئ صنا زمونږ هرکلي ته ولاړ وو۔ خدائې پاک دې ورته د دې اجر ورکړي۔ آمین۔

## تاثرات

ورجینیا کښې مونږ دوه میاشتې تېرې کړې۔ دې دواړو میاشتو کښې ما څه اولیدل، څه ولوستل او مشاهده کړل، د دې لنډ شان خلاصه دا ده:

ورجینیا ته په ننوتلو په وخت زمونږ نظر په بورډونو لیک دې ماټو باندې پرېوځي: Virginia is the land of lovers یعني ورجینیا د مینه ناک خلقو وطن دې۔ د ورجینیا ریاست د بلیو ریج Blueridge د غرونو نه تر شېننډوؤ Shenandoah د وادي او د مونټي سېلو Monticello نه تر مشرقي ساحل چرته چې چینکو ټیکو پونیز ponies (واړه واړه برګ ټټوان) ګرځي را ګرځي۔

ورجینیا د یو پېچیده تاریخ ساء نیولې ښکلا او د امریکنیانو د یو ناقابل تخصیر پټ جوهر عکاسي کوي۔ دا جامع بیان ډېبوره وېلش Deborah

Welsh ده، چې د ورجینیا په لونګ ورډ Longword یونیورسټي کښې د تاریخ ایسوسئیټ پروفیسره او د پبلک هسټري ډائرکټره ده۔

د ورجینیا پخواني اصل اوسېدونکي ریډ انډینز Red Indians وو، چې څلوېښت زره کاله مخکښې د یورپ نه امریکې ته د الاسکه په لار راغلي وو۔ دا خلق موحد Monotheistic وو۔ د دوئي یوې قبیلې پئیونکي Paunkey به خداوند تعلی ته د مېنت (خالق) یا د اوکې OK نوم اخستو۔ یورپي نوي آباد کار د دوئي خلاف ایتئېزم (داسې خلق چې د یهودیت عیسائیت او د اسلام خدائې نه مني) پروپګنډه وکړه او د دوئي سره د جنګ او زمکې نیولو ته ئې یوه بهانه جوړه کړه۔ جېمز ټاؤن علاقې نه د ټولو اول ریډ انډئینز خلق بې دخله کړل۔

د ورجینیا وجه تسمیه: ورجینیا د انګلېنډ اولنۍ کالوني وه۔ د کنګ جېمز اول په وخت کښې شپاړلسمې صدۍ عیسوي کښې د الیزبته اول چې ورجن کوین به ئې ورته وې، د دې نوم ورجینیا کښېښودله۔ د دې خلقو به انګرېزانو ته ټماټر، آلو، او تمباکو فصلونه تحفې، ورسره د سوزاک Syphillis د مرض ورکړي۔ داسې انګرېزانو د ځان ځینې د وائرسز او بیمارئانې لکه چیچک خسره خناق او تور ټوخې او د ممپس Mumps جراثیم

د ځان سره راوړل. د امریکې قام تخم د ورجینیا ریاست په جیمز ټاؤن ښهر کښې اوکرلې شو. د ورجینیا شاه ځلمو د انګریز خلاف بغاوت قیادت وکړو. دوئي د آزادۍ اعلانیه تیاره کړه. او Confederate سره ئې ملاتړ او مرسته اوکړه. د موجوده وخت د ورجینیا خلقو د ارتهر ایشز Arthur Ashes نه تر ډوګلس ویلډر Douglas Wilder. امریکې تاریخ کښې اولنۍ افریقائي امریکن ګورنر، د نسلي یووالي ته د نوي سره زمکه هواره کړه.

د امریکې تهزیب د انګلو سېکسن تهزیب یو تواتر (تسلسل) ده. والټر رسل مئیزل Walter Russel Measle یو کتاب د ګاډ اینډ ګولډ God and Gold په نوم ۲۰۰۷ کښې لیکلې دے. خدائے پاک او سره زر د امریکنیانو د ټول ژوند معاشي او سیاسي فلسفه او مقصده ده. دوئي هغه خلق د خپلو دښمنانو په قطار کښې شمېري څوک چې د آزادۍ خدائې، د شخصي آزادي، او د اخلاقیاتو خیال نه ساتي. داسې خلق د خپلې ګټې او سود د پاره هره حربه جائزه ګڼي او ففت کالم 5th column په سازشي مرسته یقین لري.

دې د دښمنانو کښې د سپین کېتهولیکس، د لېنن پېروکار، د نازي ایزم همکاران، کمیونیسټ او د القاعدې جنګیالي شامل دي. د دوئي په خیال

کښې د ټول مخالفین د امریکې او برطانیه په باره کښې یو شان عقائد لري۔ د دوئي د دې خلقو د لاسه معمولي سټونه ضرور خوړلي دي۔ خو دوئي ستړې معرکې ګټلي دي۔ خاص کر د اوسني وخت کښې په مشرق وسطی کښې د آزادی۔ د سرمایه دارانه نظام او د جمهوریت ژغورنه کړې ده۔

پایه